# پښتني قبیلې او روایتي ریښې

لیکوال:
محمدمعصوم هوتک

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري

* **پښتني قبيلې او روايتي ريښې**
* لیکوال: محمدمعصوم هوتک


* خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه**
* کندهار – افغانستان
* تلیفون : ۰۷۰۰۳۲۶۰۱۱
* ایمیل: mrohyal@yahoo.com

* کمپوز او ډیزاین: **روهيال نشراتي مؤسسه**
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* لومړی چاپ: ۱۳۷۹ ش
* دوهم چاپ: ۱۳۹۰ ش
* چاپ شمېر: زر ټوکه
* د مخونو شمېر: ۱۲۰
* د خپرونو لړ: ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

۱. د خپروونکي یادښت ........................ ۵
۲. کتابی کوچک بامحتوای بزرگ... اکادمیسین سیستانی ۶
۳. د دې رسالې د دوهم چاپ په باب .................. ۸
۴. د لومړي چاپ د سرخبري ........................ ۱۰

## لومړی څپرکی

۵. پښتانه څوک دي؟ ........................ ۱۲
۶. پښتون–افغان–پټان........................ ۱۲
۷. پښتون........................ ۱۲
۸. افغان ........................ ۱۹
۹. پټهان........................ ۲۳
۱۰. پښتو ........................ ۲۴

## دوهم څپرکی

۱۱. د پښتنو اصل و نسب........................ ۲۷
۱۲. د پښتنو د بني اسرائیلیت نظریه........................ ۲۷
۱۳. مخزن افغاني ........................ ۲۸
۱۴. قیس څوک وو؟ ........................ ۳۴
۱۵. د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې کمزوري اړخونه...... ۳۷
۱۶. د بني اسرائیلیت د نظریې د منځته راتګ عوامل......... ۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی


۱۷. په تورات کي د خزن افغاني د تېر روايت په باب زما څېړني ۴۷
۱۸. تورات ........................ ۴۸
۱۹. د تورات برخيا د مخزن افغاني له برخياو و سره سر نه ...... ۵۰
۲۰. د تورات آصف او د مخزن افغاني آصف هم نه سره و ايي .. ۵۵
۲۱. د تورات ارميا او د مخزن افغاني ارميا هم نه سره و ايي ... ۵۷


# څلرم څپرکی


۲۲. روايتي شجرې ........................ ۶۴
۲۳. شجره څه ته وايي؟ ........................ ۶۴
۲۴. اودل – ابدال – اپتل – هفتل – يقتل ........................ ۷۲
۲۵. الکو، اراکو، الکوزي، اراکوزي........................ ۷۴
۲۶. اڅک – اڅکزي ........................ ۷۶
۲۷. برېښ – پروټ – ډاسو – اپربدي........................ ۷۹
۲۸. ساک – سهاک – ساکزی – اسحاق زی ........................ ۷۹


# پنځم څپرکی


۲۹. غرزي – غلزي – خلجي – غلجي ........................ ۷۲
۳۰. غلجي څوک دي؟ ........................ ۸۷
۳۱. اصل و وصل ........................ ۹۳
۳۲. مور ته منسوب قومونه تر نورو لرغوني دي........................ ۹۶
۳۳. خلجي او غلجي ........................ ۹۹
۳۴. له پياوړي استاد محمد معصوم هوتک سره ........................ ۱۱۰
۳۵. د ليکوال چاپ او ناچاپ آثار........................ ۱۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپروونکي یادښت

د پښتنو د اصل و نسب په باب خورا ډېرو داخلي او خارجي پوهانو او څېړونکو تحقیقات او څېړني کړي دي، خو په تأسف سره باید ووایو چې د دغه ډول تحقیقاتو ډېره برخه د خپل وخت و زمان د مسلطو شرایطو څخه متأثره سوې او د دغه تأثیر له اسیته خورا ډېر غیر واقعي افواهات او روایات په ګډ سوي دي.

دغه حاضره څېړنه د پښتو ژبي د تکړه او احتیاط کاره څېړونکي استاد محمدمعصوم هوتک د اوږدو پلټنو او تحقیقاتو نتیجه ده، چې د پښتنو د اصل و نسب په باب خورا نوې او پر واقعیتونو بنا څېړنه ده، د هغوی دغه څېړنه په لومړي وار په ۱۳۷۹ش کال په جرمني کي (د افغانستان د کلتوري ودي ټولني) له خوا د (پښتني قبیلې او روایتي شجرې) په نوم چاپ سوه، د دې اثر د بیا چاپولو په برخه کي د کتاب لیکوال د لومړي چاپ له خپرووونکو سره تفاهم کړی دئ او هغو هم له دوهم چاپ سره موافقه کړې ده. اوسنی حاضره بڼه ئې د محتویاتو په لحاظ د پخوانۍ په پرتله خورا ډېر اضافات لري، چې دریم څپرکی ئې د یوه ښه مثال په توګه یادولای سو.

موږ د جرمني له کلتوري ټولني څخه په مننه د استاد محترم دغه غنیمت څېړنه بیا چاپوو، خو دا ځل ئې د (پښتني قبیلې او روایتي ریښې) په نوم ټولني ته وړاندي کوو، څو زموږ څېړونکو او نسب پېژندونکو ته د دغي رسالې د محتویاتو څخه د یوه باوري سند په توګه د استفادې پراخه زمینه مساعده سي.

مطیع الله روهیال
د علامه رشاد خپرندویه ټولني مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب په باب د کاندیداکادمیسن
اعظم سیستاني د نظر (لنډیز):

# کتابی کوچک بامحتوای بزرگ

**ازمحقق و دانشمند دقیق النظر افغان، محمدمعصوم هوتک، رساله یی کوچک (بامحتوای بزرگ) دریافت کردم زیر نام "پښتني قبیلې او روایتي شجرې" که نظیر آنرا تاکنون من از هیچ نویسنده ومولف دیگر افغان ندیده ام. "پښتني قبیلې او روایتي شجرې" رساله کوچکی است باقطع جیبی که بمناسبت ۱۲مین سال پیروزی افغانها در جنگ میوند بر دشمن متجاوز از طرف "د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه" تحت نظر آقای زرین انځور در جرمنی، در چهار فصل و ۸۶ صفحه در سال ۲۰۰۰ به نشر رسیده است. (شمار فصول و صفحات در چاپ دوم زیاد شده است. ناشر) این نویسنده رساله را باقدردانی به مادر بزرگوار خویش اهداء کرده، که کاری بسیار بجا و قابل نموده است. زبان رساله، پشتو و به لهجه شیرین قندهار به نگارش آمده که برای هر فرد افغان ولو بهره کمی از پشتو داشته باشد قابل فهم و درک است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولف در بمیان آوردن این رساله از معیارهای پذیرفته شده تحقیق کار گرفته و با مراجعه به آثار متعدد داخلی و خارجی، اثری بکر و مستند و مستدل بامنطق و استدلال قوی ارائه داده است که بسیار دلچسپ و قابل فیض بردن است ...

هر یکی از فصول چهار گانه فوق دارای نکات تازه، بکر و آموختنی است (آقای سیستانی درینجا قسمت قابل ملاحظه فصل دوم رساله رابه زبان دری ترجمه نموده است که ما آنرا درین چاپ نگرفته ایم. ناشر).

با بیان فرازهای ازین رساله، معلوم خواننده شده باشد که مولف در اثبات و یا تردید نظریات و تیوریهای ارائه شده در مورد اصل و نسب افغانها، چقدر وقت گذاشته و چقدر دقت بخرج داده تا چنین اثر گرانبهایی را به هموطنان عرضه کند. بدون تردید با خواندن این اثر تمام جعلیات و جفنگیات محققین داخلی و خارجی نقش براب میشود. توفیق مزید این نویسنده باحوصله را در نوشتن و بمیان آوردن آثار دیگر از این دست آرزومندیم.

گوتنبرگ – سویدن

۱۰ اپریل ۲۰۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې رسالې د دوهم چاپ په باب

دا کوچنوټې رساله ما څو کاله پخوا خپره کړې وه او تر کمه ځایه چې راته معلومه سوې ده، لومړی چاپ ئې ډېرو کسانو ته رسېدلی نه وو. دوستانو هر وخت زما تر غوږه رارسوله چې که دغه رساله بیا چاپ سي، ښه به وي. له بلې خوا په دې څو تېرو کلونو کې د افغاني پوهانو ځیني داسې آثار خپاره سول چې د هغو له مخې مې باید د خپلې دغې رسالې د متن پر ځینو برخو باندې، په تېره بیا د یوناني مورخ هیرودتس د لیکنو په ارتباط، نوې کتنه کړې وای. په دې حاضر چاپ کې مې دغه برخه له سره ترتیب کړه او څه زیاتوني مې پکښې راوستلې. دغه راز مې په تورات کې د خپلو څېړنو محصول هم په یوه بېل څپرکي کې پر زیات کړ. درسالې نوم مې هم وراړولی دئ، ځکه پخوانی نوم ئې ډېر دقیق نه وو.

زه، زما د نزدې نیمې پېړۍ له اشنا ښاغلي حاجي اخترمحمدخان څخه د زړه له کومې ممنون یم چې د دې اثر د بیا چاپ لګښت ئې پر خپله غاړه واخیست. نوموړی د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي له ممتازو فارغانو څخه دئ او ښه ډېر کلونه ئې د کندهار او کابل په معارفو کې د وطن د اولاد په روزنه کې تېر کړي دي. د ده د هیواد پالنې لوی ثبوت دا دئ چې له هیواد څخه د وتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر راز امکاناتو له مساعدت سره سره ئې د مصیبت تېري ځو لسیزي د سر او مال د درنو تلفاتو په قیمت دننه په هیواد کي ګااللي دي.

دغه راز له علامه رشاد خپرندویي ټولني او ګران مطیع الله روهیال څخه هم منونکی یم چي د دې اثر د دوهم چاپ چاري ئې په ښه توګه سر ته رسولي دي.

د پخوا په شان مي خپلو پښتنو وروڼو ته سپارښتنه دا ده چي که د پښتو پر مختګ غواړئ، پښتو آثار خپاره کړئ. د پښتو آثارو د کمیت زیاتوالی د کیفیت پله هم ورسره درنه کوي.

په درنښت

م . هوتک

اوکویل – کاناډا

۶ مه د فبروري ۲۰۱۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوی خدای په نامه

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَـٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَـٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ۝١٣ [الحجرات: ۱۳]

# د لومړي چاپ د سر خبري

**د پښتنو د نسبي شجرو او رواياتو په باب ښه ډېري څېړني سوي دي. د هروي نعمت الله له مخزن افغاني رانيولې بيا زما تر دغي ليکني پوري ټولو د دغي موضوع پر يوه يا بل اړخ خبري کړي دي. په تېره بيا په دې وروستيو وختو کي په دې برخه کي ځيني درنې ليکني هم سوي دي چي په هغو کي داروانښاد سرمحقق دوست شينواري،استاد محمدانور نوميالي او پوهاند دوکتور حبيب الله تږي له خوا د ليکل سوو رسالو او کتابو يادونه لازمه ده.**

**ما د پښتنو د ايتنيکي جوړښت او نسبي شجرو په باب له اوږدې مودې څېړنه کړې ده چي د (ډېوې) مجلې د دوهم او دريم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال په ګڼو کي خپره سوې هم ده. دغه راز مي د ښاغلي پوهاند دوکتور محمدحسن کاکړ د غوښتني له مخي د دغو ځېړنو لنډيز د دوی له خوا په نوي تدوين او تاليف سوي کتاب (رڼا او دفاع) کي هم خپور کړ.استاد محمد انور نوميالي د يوه ليک په ترڅ کي زما دغه ځېړنه خوښه کړې وه او راته کښلي ئې وه چي: "کاشکي مو خپلي ځېړني سره شريکي کړي وای". د تېر کال په پای کي زما ګران دوست او د پښتو ژبي پياوړي ليکوال ښاغلي زرين انځور راڅخه وغوښتل چي دغه ځېړني که د يوه ځانګړي اثر په توګه خپرې سي، ښه به وي. د چاپ په برخه کي ئې ده په جرمني کي د افغانستان د کلتوري ودي د ټولني په نمايندګي ځيګر (ټټر) وټکاوه. ما پر خپلو ياداښتو او خپرو سوو ليکنو باندي له سره غور وکړ. ځيني سموني او زياتوني مي پکښې راوستې او په دغه اوسنۍ بڼه مي سره راغونډې کړې.

درنو لوستونکو ته بايد عرض کړم چي زما دغه ليکنه د پښتنو د نسبي شجرو بشپړه کره کتنه نه ده خو د هغې پر لور يو ګام دئ او يو شمېر کُلي نتيجې پر بنا دي. که په دې برخه کي زه پر کړه تللی يم، هيله لرم چي دوستان خپل نظر راڅخه ونه سپموي.

په درناوي

محمدمعصوم هوتک

ټورنټو – کاناډا

۲۰ مې ۲۰۰۰م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## پښتانه څوک دي؟

## پښتون – افغان – پټان

**الف – پښتون:**

د نړۍ د اولسونو په ټولۍ کي پښتون یو لرغونی قوم دئ چي د زمانې ډېري سړې او تودې پر راغلي دي، د سترو یرغلگرو تاړاکونه ئې لیدلي او مقابلې یې ورسره کړي دي او تر ډېرو سختو ازمویښتونو سرلوړی او بریالی راوتلی دئ، له تېرو زیات و کم دېرشو کلو راهیسي بیا دا قوم له یوه بنیادي ازمویښت سره مخامخ دئ چي لا تر اوسه هم پکښې ولاړ دئ، دښمنانو ئې د تاریخ، ژبي او هویت د پایمالولو له پاره ناکام تلاښونه کړي دي.

له څلورمي هجري پېړۍ را وروسته مؤرخینو د پښتنو بیان په څرگند ډول کړی چي تفصیل به ئې وروسته راسي خو تر میلاد نزدې یو زر و پنځه سوه کاله وړاندي موږ د هندي آرینو په ویدي سرودونو کي د (پکهت) پر نامه پېښېږو چي د زیاترو کورنیو او بهرنیو پوهانو په نظر دغه کلمه د (پښت) معادله کلمه ده او زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني پوهان د (پښتون) نوم له همدې کلمې څخه راوتلی ګڼي.

مشهور یونانی مؤرخ هیرودوتس (۴۸۴ ق م) چې په حقه سره یې (د تاریخ د پلار) لقب ګټلی دئ، د هخامنشیانو د بحث په ترڅ کې د شاوخوا سیمې د اوسېدونکو په باب بیان لري او د هغو د مشرانو نومونه راوړي، د کړو وړو په باره کې ئې ږغېږي. نوموړی لیکي چې: "آرینان Arians د میدیانو Medes په شان غشي لري خو نور وسایل ئې باختریانو Bactrians ته ورته دي. د ګندهاریانو جامې هم د باختریانو په شان دي[۱]".

په دې لړ کې د پکتیس Pactyes یادونه هم کوي او لیکي: "پکتیس واسکټونه Cleaks[۲] اغوندي، محلي لېندۍ او نېزې له ځانو سره ګرزوي[۳]. بل ځای د کوچیانو بیان راووړي چې دی ورته Sagartians وایي او لیکي: "د دوی ژبه پارسیانو ته ورته ده خو وسایل ئې تر پارسیانو پکتیسانو ته نزدې دي، اته زره اسونه لري[۴]".

د هیرودتس Herodots پکتیان لکه وړاندې وویل سوه، تر ډېره وخته پوري د زیاترو مؤرخینو په نظر همدغه ننني (پښتانه)

---

(۱) د هیرودتس تاریخ: اووم فصل – ٦٦ ګڼه، ۴۹۳ مخ – انګرېزي ژباړه. دا یاداښتونه پیاوړي مؤرخ پوهاند دوکتور محمدحسن کاکړ رالېږلي دي چې مننه ورڅخه کوم.

(۲) کلاکس Cloaks یو ډول بې لستوڼو جامې دي چې ارتې غاړې لري او ما (واسکټ) ورته مناسبه ژباړه وبلله.

(۳) هماغه اثر: اووم فصل – ٦٧ ګڼه، ۴۹۳ مخ.

(۴) هماغه اثر: اووم فصل، ۸۵ ګڼه، ۴۹۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلل کېدل. (د تفصل له پاره اسلامي دايرة المعارف – لومړی ټوک – د (افغان) بحث وګورئ). د هيرودتس دغه رانقل سوي روايت ته د هغو پوهانو په لړکي چي هغه ته ئې د تاييد سر ښورولی وو، د "The Pathans" د مولف سراولاف کرو نوم مخي ته راځي. د ده په نظر د هيرودتس پکتيس له اوسنيو پښتنو (پختنو) سره مطابقت لري. ما (هوتک) د دې کوچنوټي رسالې په لومړي چاپ کي خبره پر همدې ځای پرې ايښې وه. د ارواښاد کانديد اکاډميسن محمدانور نوميالي دا خبره ډېره ژوره اودقيقه ده چي وايي "تر هغه ځايه چي د ژبي او قوم رابطه د بشري تاريخ په سابقه کي په عمومي توګه تعقيب کېدای سي نو له يوې خوا څخه ليده کېږي چي يو شمېر ژبي د خپل اصلي قوم د اقتصادي، اجتماعي، کلتوري او سياسي انکشاف په دليل له خپلي ايتنيکي محدودې څخه وتلي او نور بېلابېل ايتنيکي هويتونه ئې په خپله حوزه کي راکښې ايستلي وي. خو بل پلو ته بيا داسي ژبي په مخه راځي چي دغه راز انکشاف ئې نه وي په برخه سوی بلکي د قوم نوم او د ژبي نوم ئې يو له بل سره تړلی پاته وي او په هم دې اساس ئې (ژبنی جمعيت) له (ايتنيکي هويت) سره بشپړ مطابقت کوي"، (وګ: د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي – ۱۸مخ). له دې بيان څخه داسي نتيجه اخيستل کېدلای سي چي که څوک د پښتو ژبي تاريخ څېړي، په حقيقت کي د پښتنو پر تاريخ باندي تحقيق کوي. اوس چي د نوي ژبپوهني په برخه کي ښه مغزن پرمختګونه راغلي دي، د هغو له برکته د پښتنو د تاريخ ډېر تاريک او ګونګ اړخونه هم روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي او په هغو کي د هيرودتس د پکتويس په باب هم نوي تحليلونه او برداشتونه رامنځ سوي دي. د ښاغلي ډاکټر عبدالرازق پالوال صاحب په قول د کېمبرج پروفيسور بيلي(Bailey) او د اوسلو پروفيسور مارګن ستيرنه د هيرودتس د پکتيس او پښتون نومو مطابقت ته د شک په سترګه کتلي دي. ډاکټر پالوال د پروفيسور بيلي له خولې ليکي چي: "د فيلالوجۍ (Philology) پر اساس باندي پکتويس (Paktues) له پښتون (Pashtun) سره پيوندېدلای نه سي... او پختون (Pakhtun) په مقايسوي توګه سره يو نوی نوم او لهجوي شکل دئ"، (وګ: کندهار مجله – د ۱۳۸۷ل کال دريمه ګڼه، ۸مخ). ډاکټر پالوال صاحب په دې باب د پروفيسور مارګنستيرنه هغه نظر رااخيستی دئ چي "پښتون" ئې د شمال ختيځي لهجې تر "پختون" لرغونی او کلاسيک شکل بللی دئ.

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زيار صاحب هم په دغه باب د فقيد مارګنستيرنه نظر تاييد کړی دئ او ليکلي ئې دي چي د جنوب لوېديځي لهجې پښتون او پښتو د ختيځو لهجو تر پختون او پختو لرغونی برېښي، (وګ: پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼاکې: ۱۹۴مخ).

ډاکټر پالوال صاحب د خورا پاخه ژبني منطِق پر اساس دا خبره څېړلې ده چي سر اولاف کرو ولي د هيرودتس پکتويس له پښتون سره معادل نوم ګڼلی دئ. پالوال صاحب ليکي: "د کِرو لوی مشکل دا و، چي دء د /ښ/ او /ش/ تر منځ توپير کولای نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوای چي هر کله ئې پښتون د پشتون په شان کښلی دئ. که ده د /ښ/ فهم لرلای، دء به هم د بیلي او مارګنستیرنه سره ملګرتیا کړې وای.

بل لا دا چي ترومپ، ګریرسن او کِرو /خ/ هم د /ک/ غوندي ویله، او پختون به ئې پکتون باله. نو "پکتون" او "پکتوی" خو سم دم سره وایي... دوی ځیر سوي نه دي چي دغه نوم "پکتون" نه دئ، تش د انګلیسي ژبي تلفظ ئې داسي دئ.

مارګنستیرنه او بیلي چي د /ښ/ او/ش/ په توپیر پوهېدل، دوی په دې هم پوهېدلي ول چي د پښتو کلاسیک شاعران لکه خوشحال، رحمان او نور په بېله لهجه رغېدل، نه د پېښور صوبې په اوسنۍ لهجه. نو ځکه ئې دغه لهجه وروستنۍ او نوې بللې ده".

له دې بیانه څخه د ژبپوهني د معاصرو اصولو پر اساس داسي نتیجه راوزي چي د هیرودتس پکتویس به له پختون کلمې سره ورته والی لري، مګر له پښتون سره مطابقت نه سي لرلای، او څرنګه چي پختون د پښتون کلمې نوی شکل دئ، په دې اساس نو د هیرودتس پکتویس باید له پښتون سره یو شاني ونه ګڼل سي اودپښتون دنامه ریښه بایدبل ځای ولټول سي.

پوهاند دوکتور زیار صاحب د پښتون او پختون د اوښتون جریان بیان کړی دئ او د بیان په ترځ کي ئې کښلي دي: "... (پښتون) او (پښتو) له خپل اړوند فونېتیکي قانون سره سم له مخنیو بڼو پرسوانا – parswana – او پرسوا –parsawa– څخه پښتون او پښتو ته رااوړي، را وروسته دغه دواړي بڼې بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنۍ پښتو کې – paxtun– او –paxto– او په ختيزه پښتو کې پختون – paxtun – او پختو –paxto– ته رااوړي" (۱۹۳ – ۱۹۴مخونه).

دوکتور زيار صاحب ورپسې زياتوي: "د هېرودت (۴۲۵ – ۴۸۵ز) پکتويس يا ويدي پکتها له ټول تاريخي – جغرافيايي زبات سره سره له پښتو او پښتون سره د دغو ژبنيو آرونو له مخي اړخ لګولای نه شي او پر ځای ئې پرسوا او پرسوانا پخوانۍ بڼې باوري برېښي..."، (۲۳۰مخ).

د هيرودتس پکتويس چي پوهانو يو وخت له پختون، پښتون سره يو شان باله، دا د هغه وخت مشخص تحليل وو. اوس چي د پښتو ژبپوهني د ساينټفيکو اصولو پر اساس د پښتنو د اصل و منشاء په باب نوي نظرئې ميدان ته راوتلي دي، نور نو له پکتويس سره د پښتون کلمې تړل ګوياعلمي تاداو نه لري.

د پښتنو اصلي ټاټوبی يوه پراخه سيمه وه چي د ننني افغانستان زياتره برخي او د پاکستان شمال شرقي خواوي پکښي شاملي وې. د دې پراخي اورشو پخوانی نوم (روه) وو. د تاريخ فرشته د بيان له مخي (روه) هغو سيمو ته ويل کېده چي له سواته نيولې د سيوۍ تر ښاره او له حسن ابدال څخه تر کابل و کندهار پوري غزېدلي وې. رياض المحبت د (روه) پولي له ايلمن (ننني هلمند) څخه تر قشقار پوري، له براهوي بلوچستان څخه تر کشمير پوري ښودلي دي. ګويا په دې ډول په (روه) کي د اصلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ټولي سيمي شاملي وې[۱]. له تاريخي اسنادو څخه داسي ښکاري چي پښتانه د اسلام په اوايلو کي له بادغيس او هرات‌ه نيولې بيا د غور تر غرو پوري او دغه راز له زابلستان، ګندهارا او د ختيځي پښتونخوا په غرنيو سيمو کي مېشته ول او هغه د خوشحال خان خبره (سر يې هوري کندهار لم يې دمغار کي) وو. په پښتو کلاسيک ادب کي د (روه) يادونه ډېره سوې ده. اشرف خان هجري وايي:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت يې تم دی

کاظم خان شيدا وايي:

په هندي ادا يې وکړې په ما چاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

په معاصرو غيرپښتنو مؤرخينو کي ارواښاد مير محمدصديق فرهنګ د خپل کتاب (افغانستان در پنج قرن اخير) اول ټوک په دريم باب کي د (افغان، پشتون و پټهان) تر نامه لاندي يو لړ مطالب راغونډ کړي دي چي زياتره حکمونه يې سر نه سره خوري. دی ليکي: "کلمات پشتو و پشتون که افغانها بر زبان و قوم خود اطلاق ميکند تا سدهٔ هفدهم تنها در محاورهٔ زبانی بين مردم معمول بود و در آثار کتبی به نظر نرسيده است". تر دغه عبارت يوولس کرښي وروسته ليکي: "... و هر سه کلمه (افغان، پشتون و

(۱) کاکړ – پوهاند ډاکټر محمد حسن – افغان، افغانستان و افغانها و تشکيل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان: ۱۳ مخ، پېښور – ۱۹۸۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتهان – م. هوتک) از سدهٔ شانزدهم به بعد در کتابت راه یافته و در معنی واحد به کار رفته است". او تر دې بیان اته ویشت کربښې وروسته بیا لیکي: "اکثر مورخان، محل رهایش نخستین پشتونها را کوههای سلیمان و سرزمینهای مجاور آن در غرب رودخانهٔ سند شمرده اند که در آنجا به علت دشوارگذار بودن اراضی و نظام قبیله ای، به شکل منزوی و نیمه مستقل زندگی میکردند. ازینجاست که در نبشته های دورهٔ اسلامی تا هجوم مغولان بجز اشارات مختصر ... تفصیل بیشتری دربارهٔ چگونگی زندگی ایشان به نظر نمی خورد. اولین شرح تفصیلی راجع به ایشان (پشتونها – م. هوتک) در خارج آن خطه در تاریخنامهٔ هرات سیف بن محمد هروی آمده است که در اوایل سدهٔ چهاردهم میلادی تالیف شده است" (پر کلماتو تاکید زما دئ – م. هوتک). یو ځای تر اوولسمي پېړۍ پوري (پشتو و پشتون) یوازي د خلکو په ژبنیو محاورو کي معمولي کلمې بولي او بل ځای بیا په خپله د دغو کلمو لیکل سوي مثالونه تر خپل دمخني حکم دوې پېړۍ وړاندي راوړي. زه نه پوهېږم چي دغه تناقض باید څه راز تعبیر سي؟

**ب – افغان:**

پښتانه په مجموع کي نورو اقوامو د (افغان) په نامه بللي دي. دوی خپل ځانونه پښتانه او خپله ژبه پښتو بولي. د افغان کلمې په باب پوهانو بېلابېل نظرونه ورکړي دي. ځینو د مهابهاراته اسواکا Asvaka ته نزدې بللې ده. اسواکا د ګندهارا سیمي ته منسوبه کلمه ده چي د آس د سپرلیو معنا ورکوي. ځینو د سانسکریت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسواغانه څخه راپیداسوې کلمه ګڼلې ده چې معنا ئې د سورلیو ټاټوبی (سرزمین سواران) دئ. په دې ډول وینو چې افغان هم د خلکو او هم د سیمي نوم دئ[۱]. ځیني څېړونکي بیا د اېران د نقش رستم په کتیبه کي د راغلي (ابګان) یا (اوګان) له پاره (افغان) ډېر ښه معادل بولي[۲]. داسي نظر هم سته چې اغوان په ارمني ژبه کي د غرو اوسېدونکو ته ویل کېده او دا نوم پښتنو ته د ارمني ګاونډیانو له خوا ورکړه سوی دئ[۳]. البته په ارمني ژبه کي اغوان د غرو اوسېدونکو ته وایي خو دا چې دا نوم دي په خاص ډول د افغانانو له پاره استعمال سوی وي، نوره څېړنه غواړي. (د زیات تفصیل له پاره وګورئ: پښتانه – د پوهاند دوکتور حبیب الله تږي اثر – ۵۳ – ۵۴ مخونه).

په اسلامي عصر کي به حدودالعالم لومړنی کتاب وي چې د افغان نوم ئې یاد کړی دئ (۳۷۲ ق) د ارواښاد علامه حبیبي په قول د حدودالعالم مولف "په هغه ځای کي چې د پښتونخوا ښارونه لکه ګردېز، لغمان او نور ذکر کوي په سول او بنیهار نومو ځایو کي د افغانانو استوګنه ښیي او داسي ښکاري چې پښتانه په ښارو کي هم اوسېده او مشهور وو[۴]". تر دې یادوني وروسته نو د علامه ابو ریحان البیروني په ګډون د غزنوي دورې د ځینو لیکوالو او شاعرانو په آثارو کي د افغان او افغانانو بیانونه موندلای سو. د غزني د دربار

---

(۱) هماغه اثر: ۱۶ – ۱۷ مخونه.

(۲) تږی – پوهاند دوکتور حبیب الله – پښتانه: ۵۲ مخ.

(۳) کاکړ – پوهاند ډاکټر محمد حسن – افغان ....: ۱۵ مخ.

(۴) حبیبي – پوهاند عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ: دوهم ټوک – ۱۵ مخ، ۱۳۴۲ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاعر فرخي له نن څخه څه دپاسه زر کاله مخکي ويلي دي:**

بگونــهٔ شــل افغانيــان دوپــره و تيــز
چو دسته بسته بهم تيرهای بی سوفار

**فردوسي په شهنامه کي زابل ته نږدې د (دشت خرگاه) د اوسېدونکو په باب ډېري خبري لري چي تفصيل به ئې وروسته ولولئ. دی وايي:**

چنين گفت دهقان دانش پژوه
مر اين داستان را از پيشين گروه
که نزديک زابل به سه روزه راه
يکی کوه بد، سرکشيده به ماه
بيک سوی او دشت خرگاه بود
دگر دشت زی هند وان راه بود
نشسته دران دشت بسيار کوچ
زاوغان و لاچين و کرد و بلوچ

**تر دې را وروسته نو د سيفي هروي تاريخنامه (تاليف: ۷۱۸ – ۷۲۱ هجري) هغه اثر دئ چي د (افغان) او (افغانستان) نومونه يې په پېخر راوړي دي. نوموړي مولف د هغه وخت د (افغانستان) ټول غير پښتانه وگړي لا هم (افغانان) بللي دي[۱].**

**د روښاني غورځنگ ستر مخالف اخوند درويزه ننگرهاري په مخزن الاسلام کي د (افغان) او حتی افغانستان يادونه کړې ده. د ده خپله وينا داسي ده: "الحاصل هر که ميخواهد خود را از بلای**

(۱) تړی – پوهاند دوکتور حبيب الله – پښتانه: ۵۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر دو جهان نگهدارد و در اسلام ثابت باشند و در کفر نه افتند، از پیران این زمانه احتراز بکنند و مرید نشوند و الا همچنان احوال او را پیش خواهد آمد چنانکه دیده می شود درین ایام اکثر هر که از افغانستان و بلایی که درآمده است از پیری و مریدی درآمده است[۱]".**

**د پښتو ژبي پخوانیو شاعرانو هم د (افغان) نوم په خپل کلام کي راوړی دئ. خوشحال خټک وایي:**

د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګیالی د زماني خوشحال خټک یم

**رحمان بابا وایي:**

چي کشور د افغانانو معطر شي
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

**کاظم خان شیدا وایي:**

په هندي ادا یې وکړې په ما چاري
زه شیدا په زړه ساده د روه افغان یم

**د شلمي پېړۍ په سر کي د افغان نوم له افغاني ملت سره د میني او په افغانیت باندي د ویاړلو یوه نخښه سوه. زیاترو منورینو له خپلو نومونو سره د (افغان) لقب هم کیښ. دې نامه نو نور یوازي د پښتنو تمثیل نه کاوه، بلکي د هر افغاني تبعه له پاره کارېدله.**

**له څه مودې راهیسي په خارج کي ځیني افغاني نشرات د اېرانیانو په پیروۍ د (افغانستاني) بېخونده او مضره کلمه کاروي**

---

(۱) اخوند درویزه، مخزن الاسلام: ۲۰۷ مخ، دهلي – ۱۳۰۰ ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په هيڅ صورت د افغانيت مفهوم نه افاده کوي. زما په فکر د دغي کلمې رواج به د افغانيت وياړلي صفت ته زيانمن تمام سي.

لکه مخکي چي مي وويل د افغان نوم پښتنو ته نورو ورکړی دئ خو وروسته يې د پښتنو ليکوالو او شاعرانو په ليکنه او کلام کي رواج موندلی دئ. (په نړۍ کي نور قومونه هم سته چي د بل چا له خوا ورکړه سوی نوم ئې تر خپل نامه ډېر عام سوی وي. ويل کېږي چي المانيانو ته د [جرمن] نوم د سلټيانو له خوا ورکړه سوی دئ او د دوی تر خپل نامه [دويچن] ډېر عام او تاريخي سو)[1]. خو پښتنو ځانو ته تل پښتون ويلي دي او له پښتونولۍ څخه ئې د خپل ژوند له پاره د يوه وياړلي اجتماعي قانون په توګه کار اخيستی دئ او اخلي ئې.

## ج - پټهان:

پښتنو ته د (پټهان) لقب هم ورکړه سوی دئ. دا لقب د هند په پراخه سيمه کي منځته راغلی او پسې عام سوی دئ. تر ايجاد وروسته ئې د ريښې معلومولو له پاره راز راز توجيهات سوي دي. په مخزن افغاني او له هغه وروسته په ځينو هغو آثارو کي چي د مخزن اغېزه پر پرته ده، پټهان د (بطان) اوښتی شکل بلل سوی دئ او پر زيات سوي دي چي دا لقب د آنحضرت صلی الله عليه وسلم له خوا قيس عبدالرشيد ته ورکړه سوی دئ. بطان يې د بېړۍ د ملا تير بللی دئ[2]. د ځينو په نظر د پټهان د نامه ريښه په

---

(۱) نوميالی - محمد انور - د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي: ۳۳ مخ، مسکو - ۱۹۹۷م.

(۲) دا مطلب په خلاصة الانساب، تواريخ خورشيد جهان، پښتانه د تاريخ په رڼا کښي او ځينو نورو کتابو کي راغلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند کي د پښتنو له لومړني ټاټوبي سره تړلې ده. فرشته ليکي: پښتانه چي د غور له غرونو څخه د هند سيمو ته ولېږدېدل، د بهار ايالت په پټنه کي يې واړول. هنديانو په پټنه کي د هغوی د مېشته کېدو له امله هغوی پټهانان وبلل[۱]. مشهور ناروېژي ختيځ پوه مارګنسترن په پټهان کي د (پښتانه – پښتان) ريښه دخيله بولي[۲]. د پټهان توجيه چي هر راز وي، زما د څېړني موضوع نه ده خو دونه ويلای سم چي دا نوم په هند کي ايجاد سوی دئ او د پښتنو آثارو ته ئې لاره کړې ده. حقيقت دا دئ چي پښتون، افغان، پټهان د يوه قوم درې نومونه دي. شاعر وايي:

اسمانه ښه ئې واوره په وازکومي درته وايم
فغان پښتون پټهان دي يو مفهوم يوه نامه ده
ښايست حسن ښکلا ټوله د ميني تعابير دي
توپير دی د الفاظو مسمی ټوله يوه ده

## د- پښتو:

د پښتنو ژبه (پښتو) ده. لکه د افغان نوم چي د غير پښتنو له خوا دې قوم ته ورکړه سوی دئ، دغه راز غيرپښتانه اقوام پښتو ژبي ته (افغاني) وايي. دا نوم همدا اوس د تاجکو، هزاره وو، اوزبکو او نور سره وروڼو قومونو په عوامو کي د پښتو له پاره کارېږي. په پښتو ادبياتو کي د پښتو له پاره د افغاني نوم راوړلو ډېري پخوانۍ

---

(۱) ظفر کاکاخېل – پښتانه د تاريخ په رڼا کښې: ۱۰۴ مخ – پېښور.
(۲) تاريخ تلفظ صرف پښتو: د دوکتور روهان فرهادي ترجمه – د استاد عبدالحي حبيبي له تعليقاتو سره – لومړی ټوک، ۲۱۱ مخ، کابل – ۱۹۷۷م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې سته. د روښاني افکارو مبلغ شاعر دولت لواڼی وايي:

افغاني لفظ مشکل و لوست کوېښ نه شه
ورتــه وشـوه کننـده ديـارلس حرفونــه

له افغاني لفظ څخه ئې مراد پښتو ژبه ده. د نړۍ د زياترو پوهانو په عقيده، پښتو يوه آريايي ژبه ده چي د هندواروپايي ژبو د کورنۍ د هندواریاني څانګي د اوستا په ښاخ پوري تړلې ده. د پټې خزانې د روايت له مخي ئې د ادبي آثارو څرکونه د هجرت په دوهمه پېړۍ کي ليدلای سو.

اوس پښتو ژبه د يوه ژوندي قوم ژبه ده، چي د نوي او معاصر ادب ټولو اصنافو ته ئې په خپله لمن کي ځای ورکړی دئ او د چا خبره "د سيالانو سياله ژبه ده".

په دې شپو ورځو کي د ځينو کسانو له خولې اورو چي د ملګرو ملتو په کومه خپرونه کي ويل سوي چي په يويشتمه پېړۍ کي د نړۍ ځيني ژبې له منځه تلونکي دي او پښتو هم پکښې شامله ده. ما ته دا خبره معلومه نه ده چي د ملګرو ملتو د دغي خپروني د ليکوال استناد به پر کومو دلايلو ولاړ وو. تر کومه ځايه چي د ژبو د مرګ و ژوند مسئله ده نو دا يوه نوې خبره نه ده. په نړۍ کي موږ لکه د ژبو زېږېدل چي ليدلي دي دغه راز مو د ژبو مړينه هم ليدلې ده. خو د پښتو ژبې د مرګ له پاره زه هيڅ راز توجيهي دلايل نه وينم. په دې ژبه باندي د شپېتو مليونو په شاوخوا کي وګړي خبري کوي. د نړۍ د تقريباً ټولو ادبي ژانرونو بېلګې په پښتو کي موندلای سو او له نړيوال ادبي بهير سره د دې ژبې د اوږه پر اوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون شاهد یو. که څوک وایي چي دا یون سوکه دئ، وي به. خو همدا سوکه یون د دې حقیقت ښکارندوی دئ چي پښتو ژبه په خپل ذات کي له دغه یون سره د تګ وړتیا لري. پاته سوه د ژبي د بدلون و پشپړتیا و تکامل خبره. دا حقیقت باید موږ ومنو چي نننۍ پښتو د روښاني عصر له پښتو سره هم د شکل له مخي او هم د محتوی له رویه توپیر لري. د راتلونکو پېړیو پښتو به په هغه صورت کي چي په خپله پښتانه د مرګي له خوبه راویښ سي، تر نننۍ پښتو ډېره بډایه او متکامله وي. خو دا کار باید د ژبي د مړیني په توګه تعبیر نه سي. د پښتو ژوند د پښتانه له ژونده سره تړلی دئ. که پښتون ژوندی وو دا به ژوندۍ وي[1].

(۱) په کوټه بلوچستان کي په ۱۹۹۱م کال د پښتو (عالمي کانفرنس) جوړ سوی وو او تر څلوېښتو زیاتي مقالې پکښې لوستل سوي وې. د غونډې د مقالو مجموعه چاپ سوې هم ده چي ښه د خوند مطالب پکښې دي. د دغي غونډې یوه برخه وال په خپله مقاله کي غوښتي دي ثابته کړي چي پښتو ژبه نوره ژوندۍ نه سي پاتېدلای او هرومرو به مري! دا خو د لیکوال نظر وو، چي د احترام وړ دئ خو ما ته د حیرانتیا ځای دا دئ چي د (کانفرنس) په پای کي د دغه (دلخراشه) مضمون لیکوال ته انعام هم ورکړه سو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## د پښتنو اصل و نسب

### د پښتنو د بني اسرائیلیت نظریه:

لکه د پښتنو د نامه په برخه کې چې د پوهانو نظرونه بېلابېل دي، دغه راز د پښتنو د اصل و نسب په باب هم راز راز خبري سوي دي. چا د بني اسراییلو د ورکو قبیلو بقایا بللي، چا قبطیان، چا ارمنیان، چا بیا تاتار او ځینو نور څه ګڼلي دي. لیکلي اسناد ښیي چې دې موضوع ته د لومړي ځل له پاره د زرمي هجري پېړۍ په شاوخوا کې منظم کار پیل سوی دی. د مغول جهانګیر د دربار منشي خواجه نعمت الله هروي نورزي د نواب خان جهان خان لودي په سپارښتنه او د سمانا د حاکم هیبت خان په مرسته د (مخزن افغاني) په نامه یو کتاب په ۱۰۲۰ هجري قمري کې وکیښ. په دې کتاب کې د پښتنو د اصل و نسب په باب مفصله څېړنه سوې ده او د پښتنو قبیلو د روایتي شجرو چارټونه ترتیب سوي دي او په دې برخه کې شفاهي روایتونه په لیکلې توګه ثبت سوي دي. دمخه تر دې چې د پښتنو د اصل و نسب په باب د مخزن افغاني روایتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيان کړم ما ته دا غوره ايسي چې دغه کتاب او مؤلف ئې درنو لوستونکو ته وروپېژنم.

## مخزن افغاني:

د نورزي نعمت الله هروي په قلم په ۱۰۲۰هـ ق کال کښل سوی دئ. نعمت الله هروي د خواجه حبيب الله هروي زوی دئ، وايي چې خواجه حبيب الله هروي د اکبر پاچا (جلال الدين محمداکبر) له درباريانو څخه وو او ۳۵ کاله ئې په شاهي محکمه کي خدمت کړی دئ. ډاکټر محمدبشير حسين د اکبرنامې په حواله ليکي چې دا سړی هماغه حاجي حبيب الله کاشي دئ چې د اکبر په درباريانو کي منلی شخص وو. له اکبر سره په يوه تجارتي هيات کي ګوا ته هم تللی وو. کله چې اکبر په ۹۹۱هـ ق کي د ځينو خوراکي موادو د بيو د جګوالي په خاطر يو لړ تدبيرونه ونيول همدغه حبيب الله ئې پر بوره (شکره) باندي د نګران په توګه ودراوه[1]. حبيب الله د اکبرنامې له قوله په ۱۰۰۳ هجري قمري کال په اګره کي مړ سوی دئ.

د نورزي نعمت الله د ژوند په باب چې څه مواد په لاس کي لرو هغه زياتره د ده د مخزن افغاني له سريزي او متن څخه په لاس راغلي دي او له هغه څخه څرګندېږي چې نوموړی په اګره يا د هندوستان په کوم بل ښار کي زېږېدلی دئ. د وړوکتوب د زده

---

(۱) مخزن افغاني: اردو ژباړه (اردو ژباړونکی ئې ډاکټر محمدبشير حسين دئ) – د سريزي ۱۳ مخ، ۱۹۷۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي په باب ئې په څه نه يو خبر خو دومره پوهېږو چې په ۹۹۳ هـ ق کي د عبدالرحيم خان خانان د کتب خاني ناظم وو. خانخانان عبدالرحيم د جلال الدين اکبر سپه سالار وو. کله چي تر اکبر وروسته شهزاده سليم د (جهانګير) په نامه پر تخت کښېنوست (۱۰۱۴ هـ ق) نعمت الله ئې د منشي په توګه وټاکه. يوولس کاله ئې خدمت وکړ او وروسته ئې د خانجهان لودي ملازمت ته ملا وتړله. خانجهان ورباندي د پښتانه ورور په توګه ډېر باور درلود. نعمت الله له خانجهان لودي سره په هغه سفر کي ملګرى وو، چي په ۱۰۱۸ هـ ق کال ئې د مرهټه وو د اراموﻟو په خاطر دکن ته کړى وو. په دې سفر کي نعمت الله له يو بل درانه پښتون هيبت خان کاکړ سره پېژندلي دي. د همدغه هيبت خان کاکړ پېژندګلوي او مرسته وه چي نورزى نعمت الله ئې د مخزن افغاني پر کښلو بريالى کړ. هيبت خان کاکړ د خانجهان لودي نژدې ملګرى وو او د هغه د ژوند ډېر حالات ورته څرګند ول. ده له نعمت الله نورزي سره د پښتنو د ژوند و ژواک، اصل و نسب په معلومولو کي ډېره مرسته وکړه او ويل کېږي چي د مخزن افغاني په پاى کي چي د هيبت خان کاکړ د پلار و نيکه حالات بيان سوي دي،هغه د ده په خپل قلم پر زيات سوي دي. بايد وويل سي چي د مخزن په کښلو کي تر ټولو زيات د خان جهان لودي هڅونه او تشويق ډېر اغېزمن وو او ځيني څېړونکي د دې کتاب د ليکلو اصلي مشوق خان جهان بولي[1].

نعمت الله هروي نورزى د فارسي ژبي شاعر هم وو. د دېوان

(۱) محمد حيات خان – حيات افغاني: پښتو ژباړه – لومړى ټوک، ۱۷۰ مخ، کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرک ئې نسته خو په مخزن افغاني کې ئې یو دوه شعره راغلي دي. دغه راز په مخزن افغاني کې د پښتو شعرو سته والی د دې خبرې دلیل کېدای سي چې نعمت الله په پښتو ژبه پوهېدی که څه هم په هندوستان کې زېږېدلی او لوی سوی وو خو خپله مورنۍ ژبه ئې زده وه.

مخزن افغاني یوه دېباچه او مقدمه لري ورپسې په اووه بابه او خاتمه کې کتاب پای ته رسېږي هر باب او خاتمه ئې بیا پر بېلو بېلو فصلونو وېشلې ده. د کتاب د خاتمې په درو فصلونو کې ئې د سړه بنو، بېټنو او غرغښتو په قبیلو کې د مشهورو صوفیانو حالات راوړي دي. کتاب په لوی سر کې د پښتنو اصل و نسب څېړي. (دا برخه ئې اوس د انسابو پوهانو په نزد د منلو وړ نه ده څکه پښتانه بني اسرایلو ته منسوبوي؟) بیا د لودیانو او سوریانو حالات بیانوي او ورپسې د خان جهان لودي د ژوند کارنامې لیکي. که تر دې خبري ورتېر سو چې د پښتنو د اصل و نسب په باب ئې ناسم او له ځانه جوړ سوي نظرونه راوړي دي نور نو مخزن افغاني په هند کې د پښتنو ستانه وو په باب ډېر ګټور اثر دئ.

د دې کتاب ځیني ځانګړ تیاوي به د نوموړي اثر د اردو ژباړونکي له خولې دلته رانقل کړو. تر ټولو لومړۍ ښېګڼه ئې دا ده چې مصنف د پښتنو د حسب و نسب شجرې د لومړي ځل له پاره راغونډې کړي دي چې د تاریخ په کوم بل کتاب کې په دومره تفصیل نه دي بیان سوي.

د خان جهان لودي د حالاتو او فتوحاتو بیان ئې ډېر مستند او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باور وړ دئ ځکه د کتاب ليکونکي ډېر کلونه او په ډېرو کارونو کي د هغه ملګری وو.

د سوري شېرشاه د سترو کارنامو بيان که څه هم په (تاريخ شېرشاهي) او (واقعات مشتاقي) کي راغلی دئ مګر د مخزن افغاني معلومات بايد يو داسي اضافت وبولو چي د هغه په مرسته موږ د شېرشاه ستر شخصيت نور هم ښه ترا پېژندلای سو. په دې برخه کي ئې معلومات ثقه او مستند دي.

د دې کتاب يوه بله ځانګړ تيا لا دا ده چي د لوديانو او سوريانو د زمانې بيان ئې له عقله ليري نکلو او افسانو څخه راييل کړی دئ.

د کتاب په خاتمه کي چي د پښتنو ستانه وو او د خدای د دوستانو کوم معلومات راغونډ سوي دي،ځيني داسي کسان موندلای سو چي په نورو ماخذونو کي ئې څرک نه لرو.

تر مخزن افغاني وړاندي موږ پر همدې موضوع باندي په دغه کم او کيف کوم منظم اثر نه لرو. د پوهاند دوکتور حبيب الله تږي په قول د ابوالفضل (آيين اکبري) تر ټولو پخوانی ليکلی سند دئ چي د پښتنو د سترو قبايلو يادونه ئې کړې ده[1]. آيين اکبري په ۱۵۹۷ - ۱۵۹۸ کلونو کي ليکل سوی دئ. نوموړی پوهاند په دې باب د اخوند درويزه ننګرهاري د تذکرة الابرار والاشرار روايت هم رانقلوي. ما ته د تذکرة الابرار والاشرار او مخزن افغاني ليکني همزولي ښکاري او داسي مي لا هم په زړه کي راګرزي چي د اخوند درويزه ماخذ دي د نعمت الله هروي اثر وي (والله اعلم). د نعمت

---

(۱) تږی - پوهاند دوکتور حبيب الله - پښتانه: ۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله هروي زيار په خپل وخت کي يو نوښت (ابتکار) دئ او د مولف او همکارانو هڅه ئې د ستايني وړ ده.

د مخزن افغاني د روايتو له مخي پښتانه بني اسراييل دي او په بني اسراييلو کي د ساول (طالوت) له نسله گڼل سوي دي. ساول د حضرت يعقوب عليه السلام په دوولسو زامنو کي د ابن يمين له اولادې څخه وو. وايي ساول د حضرت اسماعيل عليه السلام په زمانه کي د بني اسرايلو پاچا وو. دوه زامن ئې ول چي (ارميا) او (برخيا) نومېدل، لور ئې د حضرت داود مېرمن وه، برخيا د حضرت داود عليه السلام وزير او ارميائي سپه سالار وو د ارميا زوی افغنه نومېدی چي د حضرت سليمان عليه السلام سالار وو او د برخيا د زوی نوم اصف وو چي د وزارت منصب ئې درلود. افغنه ته خدای څلوېښت زامن ورکړل او اصف تته اتلس. د حضرت سليمان د وفات پر وخت د دې وروڼو (افغنه – اصف) له اولاده دومره پياوړې قبيله جوړه سوه چي په ټولو بني اسرائيلو کي ئې ساری نه وو.

وايي چي بني اسرائيلو د حضرت سليمان عليه السلام تر وفات وروسته د خدای نافرمانۍ ته ملا وتړله. خدای د بابل پاچا (بخت نصر) پر مسلط کړ او د بني اسرائيلو ځيني قبيلې حجاز ته او ځيني غور ته مهاجري سوې حجاز ته د مهاجرو بني اسرائيلو وروستی مشر خالد بن وليد دئ چي د ځينو پښتنو مورنی نيکه بلل سوی دئ او د غور د بني اسرائيلو متاخر سړی قيس دئ.

د مخزن افغاني دغه روايت د ټولو هغو آثارو له پاره د يوه قوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخذ حیثیت لري چې په دې برخه کې لیکل سوي دي. تاریخ مرصع، خلاصة الانساب، صولت افغاني، شوکت افغاني، توزک افغاني، تواریخ خورشید جهان، د پښتنو تاریخ او نورو د مخزن افغاني محتویات اخیستي دي. دغه راز یو شمېر لوېدیځو مولفینو هم د مخزن افغاني پر روایتو تکیه کړې او منلي ئې دي. په غربي څېړونکو کې د بنګال د ایشیاټیک ټولني مشر سرویلیام جونز William Jones، الکساندر برنس Alexander Burnes، ویلیام موکرافټ William Moorcroft، چارلس مېسن Charles Masson، جورج روز G. H. Rose، والټر بیلیو H. W. Bellew او هنري جورج راورټي H. G. Raverty د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې پلویان دي او په دوی کې جورج روز د دغې نظریې د خورا جدي مدافعینو څخه دئ. (د ده د حکمونو په باب به وروسته وړغېږو). په مقابل کې منسټوارټ الفنسټن Mountstuart Elphinston، جان ملکم John Malcolm او برنارډ ډورن Bernard Dorn ئې بیا کلک مخالفین دي او پښتانه اریاییان بولي (د دغو څېړونکو د نظریاتو له پاره د ښاغلي پوهاند دوکتور حبیب الله تږي د درانه اثر [پښتانه] لوستل له لوستونکو سره فوق العاده مرسته کوي).

په پښتنو لیکوالو کې ښاغلیل خان روشن خان د دغې نظریې په ملاتړ ډېر څه لیکلي دي. په دې برخه کې د ده د مشهور اثر اردو نوم (تذکره – پٹھانون کی اصلیت اور انکی تاریخ) دئ.

د دغې نظریې له مخې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ژوند کي حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه خپل هغه تربرونه چي په غور کي اوسېدل، د اسلام دين ته راوبلل. د غور پښتنو د قيس په مشري يو وفد (جرگه) مدينې منورې ته ولېږه. دغه وفد هورې د اسلام مقدس دين ومانه او په ايمان مشرف سول. آنحضرت صلی الله عليه وسلم پر قيس باندي د عبدالرشيد نوم کښېښوو. قيس عبدالرشيد د مکې د فتح په غزا کي برخه واخيستله او د خپلو جنگي کارنامو په وجه ئې د (بطان) لقب وگاټه. حضرت خالد خپله لور بي بي ساره په نکاح کړه. قيس له خپلو يارانو سره غور ته ستون سو او د اسلام ددين تبليغ ئې پيل کړ. په ۴۰ ق يا ۴۱ ق کي مړ سو. د همدې نظريې اغېزه د ملا عبدالباقي افغان کندهاري په دې لاندي بيتونو کي ليدل کېږي.**

پټان قيس عبدالرشيد زموږ بابا نومونې درې
د وحدت پياله يې نوش کړه له مشرکه شو راپرې
زه د ده تر لبو جار سم د حبيب خپږ يې مچ کړ
اولاده يې بهره مند سوه د اباوو دين يې پوچ کړ
(تهذيب الواجبات: پنځم مخ، ۱۴۰۸هـ ق)(۱)

## قيس څوک وو؟

**د مخزن افغاني د ليکني له مخي او په پښتنو کي د يوې مسلطي عنعنې له رويه، قيس د اسلام د مقدس دين د بعثت پر**

---

(۱) دا بيت ما څه دپاسه پنځوس کاله مخکي د لومړي ځل له پاره له خپلي مور څخه اورېدلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د غور د پښتنو مشر وو. د اسلام تر منلو او له آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره تر مشرف کېدلو وروسته یې نوم عبدالرشید سو دا ځکه چي وایي (قیس) عبراني نوم وو. مرگ ئې په ۴۰ یا ۴۱ ق کي واقع دئ. د ارواښاد دوست محمد کامل او فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د څېړنو له مخي د قیس په نامه یو صحابي هم سته. خو دا چي دغه قیس دي هماغه وي چي د جوړ سوي افسانوي روایت له مخي دي د غور د پښتنو په نمایندگي مدینې منورې ته تللی وو او هورې ئې د اسلام دین منلی وو، بیا وروسته بیرته غور ته راستون سوی وواو درې زامن (بېټ، سړه بن او غرغښت) ځني پاته ول، هغه مسایل دي چي د ثبوت دلایل ئې کافي نه دي. علامه عبدالحي حبیبي لیکي: "کیس پښتو کلمه ده ... ملایانو دغه نوم معرب (قیس) کړ او په مخزن افغاني کي یې د عربیت افسانې وتراشل سوې چي د قیس عبدالرشید د خالد له خپلوانو څخه و او د حضرت رسول صلی الله علیه وسلم په حضور مشرف سوی و مگر دا افسانه حقیقت نه لري او نه په اسلامي تاریخ او سیر یا د احادیثو په کتابو کي د قیس عبدالرشید نوم راغلی دئ او نه په بل قدیم کتاب کي دا افسانه سته او نه قدیم سند لري. د حضرت رسول صلی الله علیه وسلم د ژوندون ټول وقایع او هغه وفود چي له نورو هیوادونو څخه د دوی مبارک حضور ته راغلي وه، ټول وقایع یې د سیر او مغازي او فتوح په کتابو کي منضبط دي خو دا قیس بالکل نسته. نو دا ویلای سو چي دا کیسه فقط د زرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هجري کال په حدودو کې پيدا سوې او تاريخي اصالت نه لري[۱]".**

**د مخزن له روايت سره سم د قيس درې زامن (سړه بن، بيټ او غرغښت) پاته سول چې اوسني پښتانه د همدغو درو تنو اولاده ده. خوشحال خان خټک وايي:**

پښتون په اصل کې سړه بني دي
يا غـــورغښت دي يا بيټني دي
لودي غلجي دي د بيټني له لوره
په سړه بن پوري بيا کــرلاڼي دي

**دا وو د هغې نظريې لنډيز چې په مخزن کې ثبت سوې ده او وروسته ئې پلويان او مخالفين پيدا کړل او تر نونسمي پېړۍ پوري د يوې مسلطي او منل سوي نظريې په توګه وچلېده. پلويانو ئې پښتو ژبه د عبراني ژبو يو اوښتی شکل وباله او سامي ژبه ئې وګڼله. د دې نظريې له مخې پښتانه پنځو نيکونو ته رسېږي د سړه بن، غرغښت او بيټ اولادې ته (اصلي افاغنه) او (متوزيو او کرلاڼيو) ته (وصلي افاغنه) وايي. د نونسمي ميلادي پېړۍ په اوله نيمايي کي اروپايي پوهانو د پښتنو د بني اسرائيليت نظريه تر پوښتني او څېړني لاندي ونيوله او تر اوږدو ژبنيو تاريخي او ايتنيکي څېړنو وروسته دې نتيجې ته ورسېدل چې د پښتنو د بني اسرائيليت نظريه پر پاخه علمي تاداو ولاړه نظريه نه ده او افسانوي اړخ ئې له ورايه څرګند دئ. البته د تاريخ په ځينو پړاوو کي به د سامي اقوامو ځيني افراد او ګروپونه له پښتنو سره يو ځای سوي او پکښې**

---

(۱) حبيبي – عبدالحی – د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، ۱۰۲ – ۱۰۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منحل سوي وي (اوسني سادات او تر هغو وړاندي مثالونه) خو حقیقت دا دئ چي نه پښتانه سامي قوم دئ او نه پښتو سامي ژبه ده (تفصیل ئې وروسته راځي).

## د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې کمزوري اړخونه او تناقضات

پښتنو محققینو د دې نظریې د شنلو او څېړلو په نیامت د تورات[۱] د روایتونو پر بنا اوږدې څېړني کړي دي او په نتیجه کي څرگنده سوې ده چي:

- د ساول (طالوت) په زامنو کي د ارمیا په نامه هیڅوک نسته او زوی ئې (افغنه) یو خیالي موجود دئ. د ظفر کاکاخېل د وینا له مخي خو د افغنه نوم په ټول تورات کي نه دئ موندل سوی[۲].

- د ساول په زامنو کي د برکیا په نامه یو تن سته چي زوی ئې آصف دئ خو دا چي نوموړی دي د حضرت سلیمان علیه السلام په وخت کي وزیر مقرر سوی وي، په تورات کي هیڅ راز اشاره نسته.

---

(۱) تورات چي په لغت کي قانون ته وایي، د هغه اسماني کتاب نوم دئ چي پر حضرت موسي علیه السلام نازل سوی او له هغو څلورو کتابونو څخه دئ چي مسلمانانو ایمان پر راوړی دئ. په قرآن مجید کي د تورات پر نامه ډېر پېښېږو. عیسویان د مقدس کتاب لومړیو پنځو برخو ته تورات وایي. دا پنځه برخي ئې په انگرېزي کي Pentateuch بولي چي په فارسي متونو کي ورته (خمسه موسی) ویل سوي دي(د لومړی چاپ حاشیه. په دې باب تفصیلي بیان وروسته راځي).

(۲) ظفر کاکاخېل – سید بهادرشاه – پښتانه د تاریخ په رڼا کښي: ۳۵ مخ – پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاضل استادعلامه پوهاند عبدالشکور رشاد(رح) د (الدرس التام فی التاریخ العام) په حواله لیکي:

"د شاول (طالوت) د پاچا کېدلو کال ۱۰۹۲ ق م او د مرگ کال یې ۱۰۵٦ ق م ښودل سوی دی او تر شاول وروسته حضرت داود علیه السلام د بني اسرائیلو مشر وټاکه سو او تر څلوېښت کاله واکمنۍ وروسته په ۱۰۱٦ ق م ومړ ... د وروستنۍ لیکني په رڼا کې هم د درایت په حکم د مخزن افغاني دا لیکنه زړه ته نه لوېږي چي وایي (برخیا او ارمیا د ساول دوه پس مرگي زامن وو او د هغو زامن آصف او افغنه د حضرت داود وزیر او سپه سالار سول) دا ځکه چي که موږ د برخیا او ارمیا زوکړه په ۱۰۵٦ ق م یا ۱۰۵۵ ق م کې فرض کړو نو د هغو د زامنو (آصف او افغنه) زوکړه که د پلرو په شل کلنۍ کې پېښه سوې وي نو آصف او افغنه باید په ۱۰۳۵ ق م یا ۱۰۳٦ ق م زوکړي او تر شل کلنۍ په کم عمر کي د حضرت داود غوندي بر میالي پاچا له خوا د وزارت منصب ته دغه آصف او د سپه سالارۍ منصب افغنه ته ورکول له عقل و عادته لیري ښکاري[1]".

- حضرت خالد بن ولید یو پیاوړی صحابي وو او په اسلامي تاریخو کي ئې د ژوند حالات پوره بیان سوي دي مگر د ده د هغه دعوت بیان هیڅ نه سو موندلای چي د غور پښتنو ته دي ئې ورکړی وي او گویا هغوی ئې د اسلام دین منلو ته رابللي وي او که فرض محال دغه روایت ومنو هم، بیا هم د خالد بن ولید په برخه

(۱) محمد حیات خان – حیات افغاني: پښتو ژباړه – دریم ټوک، تعلیقات – با مخ، کابل – ۱۳۷۰ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې د جوړونکو څخه غلطي پېښه سوې ده او هغه دا چي د دوی په نظر خالد بن ولید د امویانو په وخت کي د کابل والي وو، د حجاج بن یوسف له خوا چي د امویانو مشهور ظالم حکمران وو، مرکز ته وغوښت سو. خالد د حجاج له بېري مرکز ته نه ولاړ، په پښتنو ننووت، له هغو سره ئې خپښي وکړه او اوسني خالدي پښتانه چي ځیني کسان دا نسبت (بنګښو) ته کوي د ده اولاده ده. د فاضل استاد رشاد د څېړنو له مخي باید وویل سي چي د کابل والي خالد بن ولید نه بلکي خالد بن عبدالله القسري وو. دغه خالد د یزید لمسی د عبدالله زوی وو چي د عربو په بجیله قبیله کي د قسر بن عبقر له اولادې څخه وو او د دغه نسبت په واسطه ئې خالد بن عبدالله القسري بولي. په داسي حال کي چي د مخزن د روایت خالد نومی د ولید مخزومي زوی او لقب ئې سیف الله وو. ده د کابل د والي په توګه وظیفه نه لرله. د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې له جوړوونکو څخه دا دوه خالد نامي سره ګډ سوي دي[1].

- د بني اسرائیلیت نظریه راته وایي چي قیس پر څلوردېرشم پښت افغنه بن ارمیا ته او پر اووه دېرشم پښت ساول ته رسېږي[2] که اوسني پښتانه یوازي د افغنه له نسله وي نو تر قیس پوري د دغو ۳۴ پښتنو اولاده څه سول؟ هغوی خو به هم پښتانه یا پښتنو ته نژدې قبیلې وې. موږ تر اوسه پوري په کوم

(۱) هماغه اثر: هماغه ټوک، تعلیقات –یج مخ.
(۲) پښتانه د تاریخ په رڼا کښي: ۲۵ مخ –پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ کې د هغوی د اولادې په باب څه نه دي لوستي. له قیس څخه تر نن پوري د ډېرو دقیقو شجرو له مخې ۲٦ پښته ټاکل سوي دي. په ۲٦ پښته کي په میلیونونو انسانان منځ ته راغلل، په ۳۴ پښته کي خو به هرومرو تر دې زیات وای. دا په میلیونونو انسانان چیري تري تم سول؟

- د آنحضرت صلعم حضور ته که د غور د پښتنو له خوا یو هیات د حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه په تشویق تللی هم وي او مشري ئې د قیس عبدالرشید پر غاړه هم وي نو د دغه هیات، وفد یا جرګې د نورو غړو اولادونه څه سول؟ دا هیات خو د غور د پښتنو په نمایندګۍ تللی وو، چې تر راستنېدلو وروسته ئې د غور په پښتنو کي د اسلام د دین تبلیغ ته ملا تړلې وه. نو بیا د دغو پښتنو اولاد څه سول؟ دې پوښتنو ته هم چا جواب نه دئ موندلی.

- د افغنه له زمانې څخه بیا د حضرت رسول صلی الله علیه وسلم تر هجرت ته (٦۲۱م) پوري نزدې شپاړس سوه کاله تېر سوي دي. په دې اوږده موده کي به د افغنه له زوزاتو څخه څومره پراخ اولس جوړ سوی وي او دا اولس خو به هم د پښتنو تربرونه ول. دا اولس څه سو؟ د دې پوښتني جواب هم نسته.

- قیس په یوه روایت په ۴۰ ق (تاریخ سلطاني) او په بل روایت په ۴۱ ق کي مړ سوی دئ. د مړیني پر وخت ئې عمر ۸۷ کاله وو (پښتانه د تاریخ په رڼا کښي). وایي چي د ایمان تر راوړلو وروسته ئې د حضرت خالد له لور (بي بي سارا) سره واده وکړ. واده ئې باید د ۷ – ۱۰ق کلونو تر منځ سوی وي او د واده پر وخت ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر باید د ۵۷ – ٦۰ کلو تر منځ وي. په پښتنو کي مسلط دود داسي دئ چي د قوم سرداران او خانزاده ګان په کم عمر (په اوله ځواني کي) واده کوي. قیس به هم له بي بي سارا سره تر واده دمخه بله ښځه یا ښځي کړي وي ځکه د سردارۍ په حالت کي هغه هم بیا د پښتنو د سردارۍ په حالت کي د یوه سردار له پاره تر ٦۰ کالو پوري مجرد پاته کېدل له عُرف و عادته لیري خبره ده. نو له دې بلي ښځي یا ښځو څخه پیدا سوې اولاده څه سوه؟ او که پښتانه یوازي د بي بي سارا اولاد وي نو بیا مورډ ولي ځینو پښتنو ته خالدي پښتانه وایو؟ د پورتني استدلال له مخي خو ټول پښتانه باید د مور له خوا حضرت خالد ته ورسېږي. دا پوښتني هم ټولي بې جوابه پاته دي.

– د پښتو ژبي په باب علمي څېړنو دا خبره ثابته کړې ده چي پښتو سامي الاصله ژبه نه ده او لکه وړاندي چي مي وویل دا ژبه د هندو اروپایي ژبو په کورنۍ اړه لري. دا څرنګه کېدای سي چي ژبه دي اریایي وي او قوم دي بیا بني اسرائیل[1].

– د پښتنو د بني اسرائیلیت په باب د لوېدیځو مؤلفینو

---

(۱) ځیني کسان وایي دا خبره ممکنه ده چي قوم دي بني اسراییل وي او ژبه دې هندواروپایي. په مثال کي ئې د Yeddish ژبه راوړي. دا ژبه د هندواروپایي ژبو په جرمانیک ښاخ پوري تړل سوې او یوه ډېره نوې جوړه سوې ژبه ده چي د Early German او Hebrew یو مخلوط دئ. دا ژبه ګویا د عبراني ژبي یوه نوې راپیدا سوې لهجه ده. نن ورځ ان د ایټالیا، ترکیې، هسپانیا، شمالي افریقا او امریکا یو زیات شمېر یهودان خولا پرې پوهېږي هم نه. (وګورئ What is a Jew? د Morris N. Kertzer لیکنه – ۱۱۷ مخ، څلرم چاپ، متحده ایالتونه – ۱۹۷۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادعاګاني هم جدي تناقضات لري. ما وړاندي دا خبره کړې ده چي په لوېديځو مؤلفينو کي جورج روز د دغي نظريې له کلکو پلويانو څخه دئ. تاسي د ده هغو خبرو ته ځير سئ چي ارواښاد پوهاند دوکتور حبيب الله تږي د خپل وروستي کتاب (پښتانه) په ۱۲ مخ کي راوړي دي. دی وايي:

"روز په پای کي د ژبي خبره يادوي (مراد ئې د ورکو سوو يهودو قبايلو ژبه ده – م. هوتک) او وايي دا څه عجبه خبره نه ده چي پښتنو دي خپله اصلي عبراني ژبه بايللې وي. ځکه دی وايي کله چي د يوه ولس يو څو قبيلې له خپل ملک او خلکو نه جلا او په يوه بل ملک کي د يوه غښتلي او ګڼ ولس په منځ کي ميشتې شي، هلته نو بيا دا څه د تعجب خبره نه ده چي دغه قبيلې خپله ژبه بايلي ..." (پر کلماتو تاکيد زما دئ – م. هوتک) تږی صاحب د همدغه جورج روز له خولې ليکي:

"د اسرائيلو لس قبيلې ... په نهايت کي افغانستان ته تللي او پښتانه د همدغو لسو قبيلو اولاده ده".

يو ځای پښتانه "د همدغو لسو قبيلو اولاده" ګڼي او بل ځای وايي چي "يو څو قبيلې له خپل ملک او خلکو نه جلا او په يوه بل ملک کي د يوه غښتلي او ګڼ ولس په منځ کي ميشتې سوې ..." (تاکيد زما دئ م. هوتک) که پښتانه د "همدغو لسو قبيلو اولاده" وي نو بيا "دغه غښتلی او ګڼ ولس" څوک وو؟ چي "دغو لسو قبيلو" يکي خپله عبري ژبه بايلوده او اوس په پښتو ګړېږي. د دغه ولس ژبه خو به هرومرو پښتو وه. آيا دا حکم پر دغه حقيقت باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراف نه دئ چي د دغو لسو قبيلو تر ورکېدو دمخه دلته يو ګڼ او غښتلی ولس وو او ژبه ئې پښتو وه.

پوهېږو چي د دې نظريې جوړوونکي په مغولي واکمني کي اوسېدل. د دې واکمنۍ په حدودو (هند) کي تر پښتون د (افغان) کلمه ډېره مروجه وه. د هغه وخت د پښتنو په نزد هم د افغان نوم تر پښتون لرغونی ښکارېده. ځکه ئې نو ساول هم په کورنۍ کي د ارميا او افغنه افسانه جوړه کړه. که دوی ته دا معلومه وای چي پښتون نوم تر افغان لرغونی دئ، هيڅکله به ئې د ارميا پر زوی د افغنه نوم نه وای ايښی بلکي پښتون ته ورته نوم به ئې ورته تراشلی وای.

## د بني اسرائيليت د نظريې د منځته راتګ عوامل:

د پښتنو د اصل و نسب او د هغو د قبيلوي شجرو کتابي ثبت په ۱۰۲۰ق کي سوی دئ او په دې کال نورزي نعمت الله هروي د (مخزن افغاني) په نوم کتاب وکيښ. دا وخت مغول جهانګير پر تخت ناست دئ. نعمت الله هروي د خانجهان لودي ملازم وو او کتاب ئې د همدې خانجهان په تشويق کښلی دئ (تفصل ئې مخکي بيان سوی دي). د حيات افغاني ليکوال ډپټي محمد حيات خان د مخزن افغاني په حواله کاږي چي خانجهان لودي د افغانانو (پښتنو) د (سلسلۀ نسب) د معلومولو له پاره خپل ملازمان (قطب خان، سرمست خان ابدال، همزه خان توخی، عمرخان کاکړ، ظريف خان يوسفزی) افغانستان ته ولېږل. هغوی د نسب دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلسله له ساوله رانیولې بیا تر قیس عبدالرشید پوري نوم په نوم په مفصله توګه لیکلې راوړه[1]. د حیات افغاني مولف د دغې نسبنامې په باب خپل تردید په واضحو ټکو بیان کړی دئ او پوښتي چي د ساول له مړیني څخه دوه نیم زره کاله وروسته به آیا دا ممکنه وي چي د دومره اوږدې زمانې مفصله نسبنامه دي سینه پر سینه په سمه توګه رارسېدلي وي؟ جواب ئې ده منفي ور کړی دئ. نوموړی مؤلف وایي د مخزن افغاني هغه قلمي نسخه چي ده ترې استفاده کړې د کابل د یوې معتبري کورنۍ له کتب خانې څخه ورته غلام حسین علیزي ورلېږلې وه. په دغه نسخه کي د کتاب د تصنیف علت دا راز بیان سوی دئ. د جهانګیر دربار ته د اېران یو ایلچي راغی او د پښتنو د نسب ریښه ئې له دېبانو (دېوانو) سره تړلې وبلله او حواله ئې پر یوه معتبر کتاب ور کړه. پر خانجهان لودي باندي دا خبره درنه تمامه سوه د خپلو ملازمانو یوه جرګه ئې چي نومونه ئې وړاندي بیان سول، د پښتونخوا بېلابېلو برخو ته ولېږله او دغه نسبنامه او د پښتنو د بني اسرائیلیت نظریه ئې بیان کړه. په دې وخت کي د پښتنو له لاسه پاچهي وتلې ده. نه هغه پخوانی برم ورپاته دئ او نه مقام. د مغولو په دربار کي پاته پښتانه هم په بېلابېلو ډولونو سره تر روحي شکنجې لاندي دي. په دغسي حالت کي چي د خپل اصل و نسب په باب دا راز له سپکاوۍ ډک توجیهات اوري، ځرګنده خبره ده چي د زغملو توان ئې نه سي

(۱) خپل – هارون – آفریده های مهجور علامه حبیبي – ۱۲۹ – ۱۳۸ مخونه، کابل – ۱۳٦۷ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلای. د پاچهۍ د اعادې له پاره خو ئې د توري کمی نه محسوساوه او خپلو هلوځلو ته ئې امید لاره خو د اصل و نسب د سپکاوۍ چاره ورته درنه تمامېدله. په دغه راز یوه فضا کي د قیس عبدالرشید سره د ټولو پښتنو د تړلو افسانه میدان ته سوه. دا افسانوي نظریه هسي د عادي خلکو له خوا وضع سوې هم نه ده. ډېر دقت پکښې سوی دئ. زیار ایستل سوی دئ چي افسانوي روایتوته د هغي عیني زمینې له مخي چي تفصیل به ئې وروسته راسي، لږ څه منطقي او واقعي رنګ ورکړه سي او د هغه وخت د مسلط تفکر پر اساس باید د پښتنو د اصل و نسب سلسله د حضرت نوح علیه السلام دریو زامنو (حام – سام – یافث) ته ورسول سي. باید وویل سي چي دریو تنوته د انساني ټولیو د رسولو عنعنه یوازي په پښتنو پوري منحصره نه ده. په شهنامه کي راغلي دي چي فریدون هم درې زامن (سلم، تور او ایرج) درلودل او جهان ئې پر دریو برخو وویشه، هر زوی ته ئې یوه برخه ورکړه. د تاریخ پلار هیرودوت له خولې روایت دئ چي د اروپا په پراخه نااستوګنه سیمه کي چي واردواره یو سړی پیدا سو، تارژیتائوس نومېدی او درې زامن ئې پیدا سول (لیپوخائس، ارپوخائیس او کولاخائیس). د اوستا د روایتو له مخي زردشت هم درې زامن درلودل (ایست واستره، اوروه تت نره، هوره چیتره)[1]. چي بیرته خپل اصلي مطلب ته راوګرزم، د پښتنو د سامیت د نظریې د منځته راتګ پر وخت په هندوستان کي د پښتنو اړیکي له دوو قوتونو سره وې. مغول او

---

(۱) حیات افغاني – پښتو ژباړه: لومړی وک – ۱۷۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوان. د ظفر کاکاخېل په عقیده مغولو او هندوانو د خپل نسب لړۍ حام او یافث ته رسول. پښتنو له مغولو سره سیاسي رقابت درلود او له هندوانو سره مذهبي دښمني. د دې له پاره چې له دوی دواړو سره ئې اړیکي شلولي او خپل خط ئې بېل کړی وي، ځکه ئې نو خپله شجره سام ته ورسوله. دې کار دوې ګټې ورته وکړې. یو ئې د خپلي مذهبي عقیدې د تسکین له پاره ځانونه له هندوانو رابېل کړل او عربو ته ئې چې د دوی په نظر ډېر مقدس ول ،ورسول او بل ئې له خپلو سیاسي سیالانو سره د مخالفت له پاره تیوریک تاداو جوړ کړ. د دې له پاره چې خپلو شجرو ته ئې علمي او منطقي رنګ ورکړی وي، نو ئې د ساول په زوزاتو کي د افغنه په نامه یو شخص ور زیات کړ او پښتانه ئې ورسره وتړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

**په تورات کې د مخزن افغاني د تېر روایت په باب زما څېړنې:**

یوولس کاله مخکې چې ما دا کتابګوټی کیښ، په تورات کې د مفصلي څېړنې امکانات راته میسر نه ول، ځکه مې نو د مخزن افغاني روایتونه د هغو پوهانو د تحقیق په استناد وڅېړل چې په تورات کې ئې مطالعه درلوده. د کتاب تر چاپ وروسته ما په خپله د تورات د مطالعې په مرسته ځینې حقایق وموندل چې د مخزن د روایتو په رد کې استناد په کېدلای سي. دغه موندل سوي حقایق به په دې څپرکي کې له لوستونکو سره شریک کړم.

د مخزن افغاني د تېر روایت په باب ما د بایبل انګرېزي متن وکوت. دغه متن (A New Translation of THE BIBLE) نومېږي چې د (James Moffatt) په زیار خپور سوی دئ.

جېمز موفاټ (۱۸۷۰-۱۹۴۴ع) د ګلاسکو پوهنتون له فارغانو څخه دئ. ده په ۱۹۱۱ع کال کې د عهدجدید (New Tesaments) مواد، د ده په نظر پر تاریخي نظم باندي سره واوړل او دغه متن ئې، چې اوس زما مخ ته پروت دئ، په ۱۹۲۶ع کال کې بشپړ کړی دئ او زه ئې د همدې لیکنې پر وخت د ۱۹۳۵ع کال چاپ څخه استفاده کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موفاټ هدف دا وو چي د بايبل متن په ډېره ساده انګرېزي ژبه برابر کاندي. د ده په لاس دغه برابر سوی متن په رشتيا سره هم په ډېره ساده انګرېزي ژبه ژباړل سوی دئ. ده د بايبل فصلونه هم سره لاندي باندي کړي دي چي دا کار ئې د ډېرو پوهانو د اعتراض سبب ګرځېدلی دئ خو له دې اعتراضو سره سره د ده ژباړي، د چا خبره "عامه قبول" ګټلی دئ.

د بايبل له مطالعې څخه ما ته ځيني مسايل روښانه سول چي هغه به له درنو لوستونکو سره شريک کړم. خو مخکي له دې چي اصل موضوع ته ورننوزم ، د تورات په باب به هم څه ناڅه وړغېږم.

## تورات:

تورات هغه کتاب وو چي د خدای پاک له خوا پر موسی عليه السلام باندي نازل سوی وو. دغه کتاب اوس د يهودو مذهبي کتاب دئ چي د بايبل په سر کي د (Old Testament) په نامه راغلی دئ او په فارسي او اردو ترجمو کي ئې د (عهدعتيق) په نامه بللی دئ په اولډ ټيسټمنټ کي پنځه کتابه (Genesis, Exodus, Leviticus, Numbers, Deuteronomy) شامل دي او له همدې خاطره ورته کله خمسه موسی يا "اسفار پنجګانه" يا (Pentateuch) هم وايي. "اسفار" د "سِفر" جمع ده او سِفر د (کتاب، ليک) معنا لري (وګ: غياث). د دغو پنځو کتابو په لومړي کتاب (Genesis) کي د کائناتو د پيدايښت (تکوين) بيان راغلی دئ او په مصر کي د عبرانيانو تر ځای پر ځای کېدو پوري حالات بيانوي. په دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب (Exodus) کي د جلاوطنۍ بیان راغلی دئ، په دریم کتاب (Leviticus) کي مذهبي احکام بیان سوي دي او د طهارت، اخلاق، مقدسو ورځو په باب د یهودانو زیاتره قوانین له همدې کتابه اخیستل سوي دي، په څلرم کتاب (Numbers) کي په دښتو کي د بني اسرائیلو د اته دېرش کلني سرګردانۍ بیان راغلی دئ او پنځم کتاب (Deuteronomy) ته "تثنیه" یا د یادسوو کتابو بشپړوونکی ویل سوی دئ (وګ: لغتنامه دهخدا). په قرآن کریم کي د تورات یادونه اتلس ځایه سوې ده. په سوره آل عمران کي شپږ ځایه، په سوره المائده کي اووه ځایه، په سوره الاعراف کي یو ځای، په سوره التوبه کي یو ځای، په سوره الفتح کي یو ځای، په سوره الصف کي یو ځای، او په سوره الجمعة کي یو ځای. (وګ: المعجم المفهرس لالفاظ القرآن الکریم – انتشارات بیدار – قم – ۱۳۶۶هـ ش) تورات ته په انګرېزي منابعو کي (Torah) وایي چي د (قانون) معنا لري. د (Torah) کلمه ما په بایبل کي نه ده په سترګه سوې خو د (Pentateuch) لغت د هغو کلماتو په لیست کي ثبت دئ چي په بایبل انسایکلوپیډیاکي د Complete Bible) (word list په نامه ضبط دئ. دغه متن چي اوس د بایبل (انجیل) په سر کي راغلی دئ له هغي یونانۍ نسخې څخه رانقل سوی دئ چي ویل کېږي د دوهمي او دریمي عیسوي پېړۍ په اوږدو کي منځ ته راغلی دئ.

(وګ: "The Bible,A New Translation" د " James Moffatt" په قلم – د سریزي – xvi مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو آثارو کي د تورات نوم واردواره د اخونددروېزه ننګرهاري په مخزن الاسلام کي راغلی دئ او په پښتو ژبه ئې لومړۍ ترجمه د ویلیام کېري په قلم سوې او په ۱۸۲۴ع کال په کلکته کي چاپ سوې ده (وګ: په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه – ۴۷۴مخ).

د تورات د اوسني متن په باب ځیني منقدین داسي نظر لري چي دا متن د یو څو لیکوالو په قلم لیکل سوی دئ او هغه متن نه دئ چي حق تعالی پر موسی علیه السلام باندي نازل کړی دئ.

**د تورات برخیا د مخزن افغاني له برخیاوو سره سر نه خوري:**

د مخزن افغاني د روایت له مخي برخیا د ساول (طالوت) زوی وو. زما د مطالعې له مخي په تورات (Old Testament) کي د بر کیا (Berechiah) په نامه څلور تنه سته. په دې ډول:

۱– دغه بر کیا نومی د زیرو بابیل (Zerubbabel) زوی وو او د جودا (Judah) په شاهي کورنۍ پوري ئې اړه درلوده. د دغه بر کیا یادونه د عهدعتیق (Old Testament) په دیارلسم کتاب ۱ Chronicles – دریم باب شلم آیت کي راغلې ده. ما دلته د باب او آیت اصطلاحات د ظفرکاکاخېل په پیروۍ راوړي دي خو نه پوهېږم چي دقیق به وي که یا؟

(وګ: انګرېزي بایبل د جېمزموفټ (James Moffat) ترجمه – ۴۵۶مخ).

۲ – د دغه بر کیا نوم په هغو اوو تنو مشرانو کي راغلی دئ چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عهدعتیق کي د (Ephraimite Chieftains) په نامه راښوول سوي دي. د دغه برکیا د پلار نوم (Meshillemoth) وو او یادونه ئې د عهدعتیق په څورلسم کتاب اته ویشتم باب او ۱۲ آیت کي راغلې ده. (وګ: انګرېزي بایبل – ۵۱۵مخ). د میشلموت په نامه په تورات کي دوه تنه سته چي یو ئې همدا د برخیا نومي پلار وو او بل ئې یو مذهبي مشر ملا وو چي پلار ئې اِمر (immer) نومېدی (وګ: ۱۳: ۱۱– Nehemiah). د (اِمِر) په نامه هم څو تنه په تورات کي سته.

۳ – وايي د زکریا علیه السلام د پلار نوم هم برکیا و. په انګرېزي بایبل ۵۳۴ مخ او ۵۳۵ مخونوکي (د Ezra کتاب پنځم باب اول آیت او شپږم باب ۱۴ آیت) د زکریا علیه السلام د پلار نوم (Iddo) راوړی دئ. محققین په دې عقیده دي چي (Iddo) د زکریا د نیکه نوم وو. د زکریا علیه السلام د ژوند زمانه تر میلاد پنځه سوه شل کاله وړاندي ګڼل سوې ده او د پارس د واکمن داریوش د واکمنۍ له وخت سره سمون خوري (وګ: بایبل انسایکلوپیډیا د – Zechariah – بحث).

۴ – ځلرم برکیا نو د (Shimea) زوی او د آصف (Asaph) پلار وو. د ده یادونه د انګرېزي بایبل په ۴۵۹ او۴۷۰ مخونو کي راغلې ده. (وګ: – Chronicles ۱ – شپږم باب ۳۹ آیت او پنځلسم باب ۱۷ آیت).

دا سړی د مخزن افغاني له روایتي برخیا سره یو څه ورته والی لري او په دې سبب زه یو څه زیات پر بږغېږم. په مخزن افغاني کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي برکیا د آصف د پلار په توګه راپېژندل سوی، د ساول (طالوت) په زامنو کي بلل سوی دئ. په داسي حال کي چي د تورات په روایت دغه برکیا د (Shimea) زوی وو. د انګرېزي تلفظ او عربي و عبراني تلفظونو توپیرونه زیات دي.

د (Shimea) په نامه په عهدعتیق کي څلور تنه پېژنو چي عبارت دي له:

۱ – د داود علیه السلام یو زوی چي یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۴۵۶مخ کي سوې ده (– Chronicles ۱– دریم باب پنځم آیت).

۲ – د (Levite) له قبیلې څخه د (Merari) د کورنۍ چي یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۴۵۹ مخ کي سوې ده (– ۱ Chronicles– شپږم باب دېرشم آیت).

۳ – د همدې قبیلې د (Gershon) کورنۍ څخه وو. یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۴۵۹ مخ کي سوې ده. (– Chronicles ۱ – شپږم باب نهه دېرشم آیت).

۴ – د داود علیه السلام یو ورور وو چي یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۳۲۵مخ کي سوې ده. (– Samuel ۱ – شپاړسم باب نهم آیت). د دغه نوم انګرېزي ثبت د (Shammah) په شکل دئ.

په دې کي دوهم او دریم نمبر شخص په لېوي (Levi) قبیله پوري اړه لري او دا قبیله د یعقوب علیه السلام اولاده ګڼل سوې ده. خو دا چي (Shimea) دي د ساول (طالوت) بل نوم وي، کوم څرګند روایت ما ونه موند.

په عهدعتیق کي د همدغه برکیا زوی آصف (Asaph) بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی دئ. خو دا چي نوموړي دي د وزارت منصب درلود، کومه صریحه اشاره نسته. د تورات د روایتو له مخي آصف میوزیشن وو (وګ: د انګرېزي بایبل ۴۵۹ مخ او۴۷۰ مخ).

عبرانیانو (The Hebrews) له موزیک سره ډېره جوړه وه. د تورات له متن څخه داسي ښکاري چي د سامویل، داود او سلیمان وختونه د موسیقۍ د زیات رواج زمانه وه. په دغه زمانه کي موسیقي په معبدونو کي په منظمه توګه تدریسېدله او د مسلکي سندرغاړو یوه ډله هم په همدې زمانه کي منځ ته راغله.

داود علیه السلام په خپله د ښکلي آواز څښتن وو. پر ده باندي نازل سوی کتاب زبور نومېږي چي په انګرېزي ئې (Psalms) بولي. (Psalms) د عهد عتیق (Old Testaments) نونسم کتاب دئ چي ټول یوسلو پنځوس سرودونه پکښې دي. دغو سرودونو ته په عربي ژبه کي "مزامیر" وایي چي مفرد شکل ئې "مزمار" یا "مزمور" دئ. مزمار په لغت کي نل، سورنا او ټولو هغو لرګینو آلو ته وایي چي په خوله وهل کېږي. د مزمار بله معنا "دوعا" ده او "مزامیر" د دوعاوو په معنا د "زبور" بل نوم دئ.

شیخ سعدي رحمة الله علیه فرمایلي دي:

آتشی از سوز عشق در دل داود بود
تا به فلک میرود بانگ مـزامـیر او

یا:

همه گویند و سخن گفتن سعدی دگر است
هــمه دانند مزامـــیر نه همــچـــون داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیخ سعدی اشاره هغه روایت ته ده چي موږ ئې په لغتنامه دهخدا کي د مجمل التواریخ والقصص په حواله داسي لولو: داود علیه السلام چي به زبور په خپل خوږه آواز باندي لووست، د هوا مرغانو به د ده د ښکلي آواز په خاطر په هوا کي سیلونه وتړل او پر ځرخېدل به. په همدې لغتنامه کي د حمدالله مستوفي له خولې ویل سوي دي چي داود علیه السلام د انسانانو په توکم کي تر ټولو ښه آواز لرونکی سړی وو. چا چي به د ده په آواز زبور واورېد، نور نو ځني تېرېدلای نسوای او هرومرو به ورته درېدی. په فارسي ادبیاتو کي د "نغمه داودی"، "الحان داودی" پر عبارتو باندي ډېر پېښېږو.

نظامي ګنجوي وايي:

یافته در نغـمه داود سـاز
قصه محمود و حدیث ایاز
(د دهخدا له لغتنامې ځخه)

شیخ سعدی شیرازي علیه الرحمه ویلي دي:

بر این الحان داودی عجب نیست
که مرغان در هـوا حیران مـاند

د فارسي ژبې د یو بل شاعر ځلوریځه، چي د زمانې له ناخوالو ځخه ئې د خپل شین زړه ترسیم پکښې کړی دئ، زما په حافظه کي له زلمیتوبه ځخه خوندي پاته ده خو له بده مرغه د شاعر نوم مي له حافظې ځخه پاک سوی دئ. ځلوریځه داسي ده:

امـروز بهای هـیزم و عـود یکیست
درچشم جهان خلیل و نمرود یکیست

(c) ketabton.com: The Digital Library



در گوش کسانیکه درین بازار اند
آواز خـــر و نغـــمه داود یکیست

## د تورات آصف او د مخزن افغاني آصف هم نه سره وايي:

په مخزن افغاني آصف د برخيا زوی او د ساول لمسی بلل سوی دئ. په تېر بحث کي خو خبره په اصل کي د برکيا د زوی آصف په باب وه او بیر ته به هماغي موضوع ته راغبر گ سم. د آصف (Asaph) نوم په عهدعتيق کي درې پلاراغلی دئ:

۱ – دا آصف د (Levite) قبيلې ته منسوب دئ او د داود د دربار د سندر غاړو له ډلي (Choir) څخه وو. د ده يادونه د انګرېزي بايبل په ۴۵۹، ۶۳۶، ۶۵۱، ۶۵۹ مخونو او نورو ځايونو کي راغلې ده. (وګ:–Chronicles ۱– شپږم باب ۳۹ آيت او دغه راز پنځوسم، درواويايم او درواتيايم او نور مزمارونه "Psalm"). د آصف نامه ته منسوب مزمارونه ئې آصفي سرودونه (Asaphite Songs) بللي دي. آصف او داود عليه السلام دواړه د موسيقۍ د مخکښانو (seer) په توګه معرفي سوي دي (وګ: د انګرېزي بايبل ۵۱۸ مخ –Chronicles ۱ – نهه ويشتم باب دېرشم آيت).

د دغه آصف د زامنو يادونه په انګرېزي بايبل ۴۸۰ ، ۵۰۶ ، ۵۳۱ مخونو کي سته (وګ: – Chronicles ۱– پنځه ويشتم باب اول آيت، –Chronicles ۲– شلم باب څورلسم آيت او – Ezra – دوهم باب يوڅلوېښتم آيت). خو ويل کېږي چي دغه کسان د شاعرانو او سندرغاړو يوه ډله وه چي آصف ئې د خپل استاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توگه منلی وو.

۲ – دوهم آصف نومی د (Hezekiah) په وخت کي د محکمې د مشر (Recorder) او په بل روایت د (Chancellor) په توگه ثبت دئ. په انگرېزي بایبل ۴۴۳مخ کي ئې چانسلر بللی دئ (وگ: – ۲ Kings – اتلسم باب اتلسم او اووه دېرشم آیت). دی د غټې رتبې سړی ښکاري خو په بایبل انسایکلوپیډیا او نورو منابعو کي نه د ده د قبیلې یادونه سته او نه هم دا خبره چي دی د بر کیازوی وو.

هیزیکیا (Hezekiah) د (Ahaz) زوی وو چي د انگرېزي بایبل په ۴۴۳ مخ کي ئې یادونه سته. د ده د پاچهۍ دوره له ۷۲٦ق م څخه تر ٦۹۷ ق م پوري ټوله نهه ویشت کاله ښوول سوې ده.

۳ – دریم آصف نامی د "پاچاهي ځنگلونو ساتونکی" وو او ویل کېږي چي (Nehemiah) د ده له پاره له (Artaxerxes) څخه یو "لیک" اخیستی وو او په هغه کي له آصف څخه غوښتل سوي وه چي د یوروشلیم د معبد له پاره الوارونه (تیران) ورکړي. د ده یادونه د انگرېزي بایبل په ۵۴۳ مخ کي سته، (وگ:– Nehemiah – دوهم باب اتم آیت). زما تر مطالعې لاندي بایبل کي د ځنگله پر ځای د (پارک) کلمه راغلې ده.

وایي په یوناني منابعو کي د (Artaxerxes) نوم د پارس د ځینو پاچهانو له پاره استعمال سوی دئ. د بایبل په –Ezra– څلرم سورت اووم آیت او اووم سورت اول آیت کي یادوني سته. د دغو پاچهانو په لړ کي د داریوش (Darius) د لمسي یادونه هم سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده.

(Nehemiah) د (Artaxerxes) په وختو کي د شاهي ماڼۍ شربت دار (cup-bearer) وو او له پاچا او نورو منسوبينو سره ئې ښې اړيکي درلودې. وايي دی د يوروشليم په وران حالت ډېر خواشينی وو او د همدې خاطره ئې له پاچا څخه د(Judea) د ګورنرۍ منصب وغوښت او پاچا هم له مضبوطي بدرګې او سپارښت ليکونو سره هغه ځای ته د ګورنر په توګه د ۴۴۶ ق م په پسرلي کي واستاوه (وګ: بايبل انسايکلوپيډيا). د آصف په نامه ليک، چي وړاندي مو يادونه وکړه، په همدې سپارښت ليکونو کي وو.

د دې درو سرو آصف نامو بيان د مخزن افغاني د روايتونو له منلو سره مرسته نه کوي.

## د تورات ارميا او د مخزن افغاني ارميا هم نه سره وايي:

په مخزن افغاني کي ارميا د ساول (طالوت) زوی او داود عليه اسلام سپه سالار وو.

د ارمياپه باب په همدې ليکدود په عهدعتيق کي څه نه موندل کېږي. مجبور يو دې ته ورته نومونه وپلټو. ما ته چي اوس د انګرېزي بايبل کومه نسخه پر ته ده (د جېمز موفټ)، په هغې کي د ارميا ذکر نسته. ژبپوهانو ته معلومه ده چي د عبراني ژبي(j) زياتره په (ی) باندي اوړي. ځکه نو ما د بايبل انسايکلوپيډيا د (j) رديف هم په دې نيت وکوت چي ګوندي د (ارميا- يرميا) نامه ته نزدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم نوم پیدا کړم. هورې مي د (Jeremiah) په نامه، چي یرمیا هم تلفظ کېدای سي، څو تنه ومونډل او له بده مرغه یا له ښه مرغه یو ئې هم د مخزن افغاني له ارمیا بن ساول سره سر نه خوري. په دغه نامه باندي د تورات په متن کي لس تنه راغلي دي:

۱- ډېر مشهور جرمیا (یرمیا) وو چي نوم ئې د پیغمبرانو په لیست کي سته. د عهدعتیق څلېرویشتم کتاب هم په دغه نامه نومول سوی دئ.

۲- دوهم یرمیا د بن یمین له خاندانه دئ. دی مچلوغزه ویشتونکی عسکر او له داود علیه السلام سره ملګری وو. په انګرېزي بایبل ۴۶۷مخ کي یادونه سته (وګ: – Chrinicles ۱ – دوولسم باب څلرم آیت).

۳- د پنځم یرمیا په نامه هم یادېږي. د ګادیت (Gadite) له قبیلې څخه وو او دی هم د داود علیه السلام ملګری وو. په بایبل (انګرېزي) کي د ده یادونه په ۴۶۷مخ کي سته (وګ:- ۱ Chronicles– دوولسم باب لسم آیت).

۴ – دی هم د ګادیت قبیلې سړی وو. په لسم یرمیا باندي یاد سوی دئ. عسکر وو او له داود علیه السلام سره ملګری. د نامه یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۴۶۷مخ کي سوې ده. (وګ: – ۱ Chronicles. دوولسم باب دیارلسم آیت).

۵ – دغه یرمیا نومی د (Libnah) قبیلې؟ څخه وو. لور ئې (Hamutal) نومېده او په (Josiah) واده وه. زوی ئې (Jehoahaz) پاچا وو. د نامه یادونه ئې د انګرېزي بایبل په ۴۴۹مخ کي سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



( وګ: -Kings ۲- درویشتم باب یودېرشم آیت).

۶ - دغه یرمیا د یوې مشهوري قبیلې (Manasseh) مشر وو. دا قبیله د اردن په ختیځ کې میشته وه. د دغه یرمیا نوم د بایبل (انګرېزي) په ۴۵۸مخ کې راغلی دئ، (وګ: - Chronicles ۱- پنځم باب ځلېرویشتم آیت).

۷ - د (Rechabite) قبیلې څخه وو. زوی ئې (Jaazanieh) نومېدی. نوم ئې په انګرېزي بایبل ۸۶۸ مخ کې راغلی دئ، (وګ : -Jeremiah- پنځه دېرشم باب دریم آیت).

۸ - یوملا (Priest) وو. یادونه ئې په بایبل ۵۵۳ مخ کې راغلې ده. (وګ: - Nehemiah- لسم باب دوهم آیت).

۹- دی هم ملا (Priest) وو.له (Zerubbable) سره (Judah) ته له تبعیده راستون سو. یادونه ئې د بایبل په ۵۵۶مخ کې سته (وګ: -Nehemiah- دوولسم باب دوولسم آیت).

۱۰ - یو مشر وو چې د یورشلیم د دېوال په اهدا کولو کې ئې برخه درلوده. بیان ئې د انګرېزي بایبل په ۵۵۶ مخ کې سوی دئ، (وګ: -Nehemiah - دوولسم باب څلوردېرشم آیت).

پر دې ټولو لسو تنوباندي پر یوه لاهم د مخزن افغاني د ارمیا خیال نه سي راتلای.

هسي خو له لویه سره د ساول په اولاده کې د ارمیا نوم نسته. د ساول (طالوت) د اولادې نومونه چې ما ته په انګرېزي تلفظ او لیکدود را معلوم دي، دا دي:

زامن: (Jonathan)، (Ishvi)، (Melchishua).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوڼي: (Merab)، (Michal).

خو د تورات په (Samuel ۲) کتاب یوویشتم باب اتم او نهم آیت کي د (Rizpah) د یوه زوی یادونه سوې ده چي بایبل انسایکلوپیډیا ئې د ساول زوی بولي. دا شخص (Armoni) نومېدئ، (وګ: د بایبل ۳۷۳،۳۷۴مخونه). وایي ارموني د داود علیه السلام له خوا (Gibeonites) ته وسپارل سو او هغو غرغړه کړ. ریز په (Rizpah) د (Aiah) لور او د ساول مینځه (Concubine) وه. دې د (Mephibosheth) په نامه بل زوی هم درلود. (وګ: -Samuel ۲- دریم باب اووم آیت، یوویشتم باب اتم ،لسم اویوولسم آیتونه).

د ارموني د غرغړه کېدو(په دارولو) کیسه داسي بیان سوې ده: د داود علیه السلام د پاچهۍ په نیمایي کي په یوروشلیم کي یوه غمناکه کاختي (Grievous Famine) راغله. دا بخوله پر داود علیه السلام باندي د ساول له سببه نازله سوې وه ځکه چي ده جیبیونایتان (Gibeonites) وژلي ول. جیبیونایتان د (Gibeon) ښار اوسېدونکو ته ویل کېدل او وایي چي ټول غښتلي او مقتدرخلک ول. داود علیه السلام له جیبیونایتانوڅخه وپوښتل چي دوی په څه باندي غاړه باسي او پخلا کېږي؟ هغوی په جواب کي د ساول د اوو زامنو وژل وغوښتل او دواد علیه السلام دې غوښتني ته غاړه کښېښووله او د (Rizpah) دوه زامن او د (Merab) نومي ښځي پنځه زامن ئې وروسپارل. میراب (Merab) د ادرییل (Adriel) له نسه څخه د ساول مشره لور وه. په ځینو ځایو کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغي ښځي نوم (Michal) ثبت سوی دئ. په دې زامنو کي ئې (Armoni) هم وروسپاره. جیبیونایتانو دغه ټول ورسپارل سوي کسان په (Gibeah) غره کي غرغړه کړل. وایي چي د ارموني مور ریزپه (Rizpah) پنځه میاشتي او په بل روایت شپږ میاشتي په دغه غره کي د خپلوزامنو مړو ته تېري کړلې چي پرې نږدي حیوانات او مرغان د دې د اولادو غوښي وخوري. د دوی لاښونه وروسته د داود علیه السلام په امر ښخ سول. زما (هوتک) د څېړني له مخي، جیبیاه (Gibeah) د یوروشلیم د شمال په درې میلۍ کي د یوه ځای نوم دئ چي اوس ئې تل الفول بولي.

د ارموني په نامه شخص که هماغه د مخزن افغاني ارمیا هم وي، نو د ده د اولاد خو اصلاً په تورات کي څه ذکر نسته.

زما د څېړني له مخي په تورات کي د نارینه وو نومونو شمېر یوزر و یوسل و یواتیا(۱۱۸۱) تنه دئ. د تورات په دغو ټولو یوزر یوسل یو اتیا نارینه نومو کي د افغنه په نوم کوم څوک نسته.

دا وو زما د هغي څېړني بیان چي په تورات کي مي کړې ده او د هغې له مخي ویلای سم چي د تورات په محتویاتو باندي د پښتنو د اصل و نسب په باب د مخزن افغاني د روایت ملاتړ نه سي کېدلای او څوک ویلای سي چي د دې روایت تر تاریخي اړخ افسانوي خوا ډېره پیاوړې ده.

***

زه د تورات د انګرېزي ترجمې د مطالعې پر وخت د اشخاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومو په برخه کي له ستونزو سره مخامخ سوم او همدې مشکل په یوه لیست کي د بایبل د انګرېزي متن د نومو د عربي معادل راوړلو ته وهڅولم، چي د نورو څېړنو له پاره به هم ښايي د لوستونکو په درد وخوري.

(Elisha) = الیاسا

(Andrew) = اندراوس

(Job) =ایوب

(Benjamin) = بنیامین

(David) = داود

(Ephraim) = افرایم

(Aaron) = هارون

(Eve) = حوا

(Abraham) = ابراهیم

(Elijah)=الیاس

(Jesus,Joshua) = عیسی

(Issac) = اسحاق

(Ishmael) = اسماعیل

(Israel) = اسرائیل

(Gabriel) = جبرئیل

(Gad) = جد

(Luke) = لوقا

(Mary) = مریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Matthew)= **متی (متا)**

(Michael,Mojad) = **میکائیل**

(Moses) = **موسی**

(Noah) = **نوح**

(Psalms) = **المزامیر**

(Sarah,Sara) = **سارا**

(Solomon) = **سلیمان**

(Obadiah) = **عبیدالله**

(Jacob,James) = **یعقوب**

(John) = **یحیی، یوحنا**

(Jonah) = **یونس**

(Joseph) = **یوسف**

(Zachary,Zechariah) = **زکریا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلرم څپرکی

## روایتي شجرې

### شجره څه ته وایي؟

شجره یا په دقیقه توګه (نسبي شجره) چې ځینې پښتانه ئې د لهجوي ځانګړتیاوو له مخې (سجره) بولي، یوه عربي کلمه ده او معنا ئې درخته (ونه) ده. په انسابو کې شجره هغې جینیټیکي نقشې ته ویل کېږي چې د کورنۍ د غړو تر منځ د وینې د ګډون تسلسل پکښې بیان سوی وي. دغې نقشې ته په انګرېزي Family Tree وایي. استاد محمدانور نومیالي د شجرې تعریف داسې بیان کړی دئ:

"نسبي شجره هغه څرګندونه ده چې د یو چا یا د یوې ټولۍ د منل سوي مبدې په باره کې ویله کېږي[1]".

د نړۍ د زیاترو ملتونو افراد د خپلو کورنیو چارټونو په ثبتولو سره غواړي خپله ایتنیکي لوړتیا یا اشرافیت ثابت کړي، د امریکا د متحده ایالتونو زیاتره مخوري کورنۍ چې غواړي خپله خانداني

(۱) نومیالی –محمدانور –د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي: ۳۷ مخ –مسکو –۱۹۹۰م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړتیا او اصالت وښيي نو خپلي نسبي اړیکي هغو مسافرو ته رسوي چي په ۱۶۲۰ع کال د Mayflower په بېړۍ کي امریکا ته راغلي ول[1]. اروپایي اشراف د دې له پاره چي خانداني امتیازونه تر لاسه کړي، زیار باسي خپل ځانونه لرغونو اتلانو، حتی په خپل زعم خدایانو ته ورسوي. د عیسویانو په مقدس کتاب Old Testament کي هم د آدم، نوم او ابراهیم علیهم السلام شجرې راغلي دي.

پښتانه د خپلو نسبي شجرو خوندي کول د خپل قوم او قبیلې یو منلی دود ګڼي او زده کول ئې پر ځان لازم بولي. دوی ته د خپل قوم و ګدۍ د سوچه توب مساله زیات اهمیت لري. کله چي د قوم سوچه توب تثبیت سو، بیا ئې نو په کلي او اولس کي حیثیت، وقار او ټولنیز موقف ډېر درووند وي. سراولف کیرو د الفنسټون له خولې لیکي:

"... قبیلوي شجرې زیات ازرښت لري او ټول وېشونه او قبیلوي داخلي حکومتونه پر همدې باندي متکي دي". بل ځای ورپسې زیاتوي: "... پښتنو ته شجره د ژوندانه ساه ده او نور و ته ښایي د پاملرني اړول". دوی د خپل پلار و نیکه نومونه او د خپل قومي تسلسل روایتونه په سینو کي ساتي او هغوی چي بیا په لیک لوست پوهېږي، په لیکلې توګه ئې خوندي کوي. د کورنۍ شجرې معمولاً پر اوږدو طومار ډوله کاغذي تړاړو باندي لیکلي وي د نسبي

---

(۱) په ۱۶۲۰م کال په اتلانتیک سمندر کي یو بېساري توپان پېښ سوی وو، چي ٦٦ ورځي ئې دوام درلود. له دغه توپان څخه یوه کوچنۍ بېړۍ راووته چي سپرلي ئې مذهبي مبلغین ول. دغو مبلغینو په شمالي امریکا کي یوه ټولنه جوړه کړه چي زوزات ئې د امریکایي کلتور له مخي زموږ د ځینو پښتنو په شان ځانونه (ستانه) بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجرو د ليکلي ثبت دود زياتره په اشرافي کورنيو کي باب (رواج) دئ. ښاري پښتنو او تعليم يافته قشر دا دود تر ډېري اندازې خوشي کړی دئ. خو په هيواد کي د تېرو دوو لسيزو تراجيدۍ د پښتنو يو لوی جمعيت د نړۍ پر پنځو لويو وچو سره تيت کړ او په نويو مېنو کي د هغوی ټولنيز دريځ تر ګواښ لاندي راغی نو د نسبي اصالت مړژواندې دود ئې بيرته را ژوندۍ کړاوواردواتي دموکراسۍ بيابنه پسې وپاله.

هغسي چي د پښتنو د بني اسرائيليت نظريه د لومړي ځل له پاره په مخزن افغاني کي په مفصله توګه ثبت سوه، دغه راز د هغوی د نسبي شجرو لومړنی مفصل ثبت هم په دغه کتاب کي واردواره پيل سو. مخزن افغاني د پښتنو له عمومي عنعنوي روايت سره سم ټولي پښتني قبيلې او قومونه د بيټ، سړه بن او غرغښت له لاري قيس عبدالرشيد ته رسولي دي او لکه وړاندي چي وويل سول قيس د اسلام د اوايلو د زمانې سړی ښوول سوی دئ او دا لا هم وايي چي صحابي وو. زما په فکر که د قيس نيکه صحابي توب ثابت هم وي، بيا هم دا درې پښې د ده زامن نه سي کېدلای ځکه چي تر اسلامي عصر ډېر وړاندي نومونه دي. که دا درې پښې موږ د قيس زامن وګڼو نو دڅ وند زمانه به ئې د لومړۍ هجري پېړۍ شاوخوا وي يعني په دغه وخت کي بايد پښتانه د ټولنيز جوړښت له مخي د افرادو يا کورنيو په حالت کي وي او د قوم يا قبيلې سطحي ته بايد ډېر وروسته رسېدلي وي. پر دې خبره خو تقريباً اتفاق سته چې په دوو، درو پېړيو کې له يوه فرد څخه د زرګونو يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکونو کسانو زېږېدل د عقل و عادت پر خلاف حکم دئ. خو تاریخ موږ ته وايي چي د پښتنو د دغو درو نیکونو تر زمانې دوې درې سدۍ وروسته پښتانه د یوه داسي جنګي ځواک په توګه منل سوي دي چي ستر واکمنان حساب ورباندي کوي. په دې برخه کي به بده نه وي چي دا څو بېلګې ولول:

- وايي چي سبکتګین (د ٣٦٦ ق شاوخوا) د خپل جنګي ځواک د پیاوړتیا او د خپلي پاچهۍ د ټینګښت له پاره له پښتنو سره خپښي وکړه او د زابل (زاول) د پښتنو د یوه مشر لور یې ځان ته وغوښته. ارواښاد علامه حبیبي لیکي چي: "چون سبکتګین داماد افغانان شد، تمام افغانان در لشکر او میجنګیدند[1]". داسي یو ځواک چي سبکتګین غوندي برمیالی پاچا دي ئې په زومواله پیاوړی کېږي، باید د شمېر په لحاظ هم زیات او مؤثر وي. خو د روایتي شجرو له مخي په دغه وخت کي نه د ابدالیانو مورث اعلی (ملک اودل) زېږېدلی وو او نه د غلجیو د موجد اعلی بولګه وه! چې دا پښتانه به نو څوک ول؟ (د ابدالیانو د مشر نیکه ملک اودل د ژوند زمانه د ۴۴۰ هـ ق حدود ټاکل سوي دي او په همدې اساس باید د غلجیو د مشر نیکه زمانه هم د ۴۰۰ق حدود وي) د تېري پوښتني جواب دا دئ چي د سبکتګین خپښان د همدغو اوسنیو پښتنو اسلاف ول خو روایتي شجرو او د هغو پر اساس د قومونو د موجدانو د ژوند د زمانو اټکلي ټاکلو موږ ناسمي لاري ته رهنمایي کړي یو.

---

(۱) حبیبي – پوهاند عبدالحی – تاریخ مختصر افغانستان – ۱۴۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– د روايتي شجرو له مخي د بېټ نيکه د لور بي بي متو دوه زامن ول چي غلجی او ابراهيم (مشهور په لودي) نومېدل او د بېټ زمانه بايد د دوهمي هجري پېړۍ شاوخوا وي ځکه وايي پلار ئې قيس عبدالرشيد په ۴۰ – ۴۱ ق کي مړ دئ او بېټ هم معمر سړی معرفي سوی دئ. د لودي او غلجي زېږېده هم بايد د دوهمي هجري پېړۍ حدود ومنو (که څه هم روايتي شجرو په کتابو کي لودي د خپل تربور ابدال يا اودل همزولی ښوول سوی دئ او د ابدال د ژوند زمانه ئې د ۴۴۰ق ټاکلې ده). خو په حيرانتيا سره وينو چي د همدې لودي اولاده د خپل موجد تر زېږېدو په يوه حساب يو نيم سل کاله دمخه او په بل حساب اويا کاله دمخه د شمېر او قوت په لحاظ دومره پياوړي کېږي چي په ملتان کي پوره نيمه پېړۍ پاچهي کوي داسي پاچهي چي حدود يې شمالاً او جنوباً له لغمانه تر ملتانه ول. وايي ملتان په هغه وخت کي د يوه ښار نوم نه وو بلکي يوې پراخي سيمي ته ويل کېده، دومره پراخه سيمه چي يو سل شل زره کلي ئې درلودل[1]. د دې پاچهۍ بنسټ ايښوونکی حميد لودي وو چي له سبکتگين سره ئې د دوستۍ تړون درلود او سبکتگين ئې پاچهي په رسميت پژېندلې وه[2].

د نسب پوهني پوهانو يوه پېړۍ د دريو نسلونو له پاره ټاکلې ده او يوه نيمه پېړۍ له نيکه څخه تر کودي پوري زمانه نيسي يعني

---

(۱) رشاد عبدالشکور – لودي پښتانه – ۱۳ مخ.

(۲) تاريخ سلطاني ۲۳ مخ، تواريخ خورشيد جهان: ٦٧ مخ، لودي پښتانه: ۱۲ مخ، د تاريخ فرشته د لومړي ټوک ۱۸ مخ په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه نسله. په پنځه نسله کي انساني زېږېدنه دومره نه سي ډېرېدلای چي له خپل ټاټوبي (کسي غر) څخه په زرګونو میله لیري (ملتان) کي دي د یوې درنې پاچهۍ بنسټ کښېږدي، داسي پاچهي چي د سلطان محمود غزنوي د لښکرو په مخ کي خنډ وي او سلطان مجبورېږي هغه په زیاته قوه له منځه یوسي (۴۰۱ق).

- غوري پاچا علاوالدین (مشهور په جهانسوز) پر غزنوي دولت باندي په ۵۴۵ - ۵۴٦ق کي بری وموند، او د بست و تخارستان تر فتح کولو وروسته له سلجوقي سلطان سنجر سره ونښت. خلک ځني خواتوري سوي ول ځکه ئې له لښکرو څخه شپږ زره تنه غلجي و تورک سلطان سنجر ته تسلیم سول[1]. که د غلجي د ژوند زمانه لکه څرنګه چي د روایتي شجرو څېړونکو ټاکلې ده څلور سوه هجري قمري ومنو نو دلته بیا هم د تولد و تناسل له نامکن ډېرښت سره مخامخ کېږو. په یو سل و پنځوس کاله کي له یوه فرد (غلجي) څخه دومره اولاده منځ ته راغله چي یوازي درې زره تنه ځوانان ئې سلطان سنجر ته تسلیم سول. د دې ځوانانو کورنۍ (مور و پلار، خوندي و وروڼه) چي پر زیات کړې، خبره لکونو ته رسېږي. عقل دومره زیاته زېږېدنه په یوه لنډه زمانه کي نه سي منلای.

- په روایتي شجرو کي متوزي او کرلاڼي پښتانه (وصلي افاغنه) بلل سوي دي. د اصل و وصل خبره به وروسته وڅېړو، خو که د اصل و وصل (جزء و کل) مفهوم په پام کي ونیسو نو باید

---

(۱) حبیبي – پوهاند عبدالحی – تاریخ مختصر افغانستان: ۱۵۷ – ۱۵۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي قومونه تر وصلي د شمېر له مخي زيات وي. مگر اوسنۍ شمېرني موږ ته برعکس معلومات راکوي. د پښتنو د قبيلوي ترکيب په باب نسبتاً جامع څېړنه په يوه کتاب کي سوې ده چي د (پښتني قبيلې) په نامه د پښتنو څېړنو د نړيوال مرکز له خوا په ۱۳۷۰ ش کال په کابل کي خپور سوی دئ. په دې کتاب کي د پښتنو قومونو په باره کي تفصيلي خبري سوي دي، تر يوې اندازې ئې د ډاډ وړ احصائيې ورکړي دي او د اوسېدنو ځای ځايگی ئې ښوول سوی دئ. ما چي دا قومونه وشمېرل نتيجه ئې په لاندي ډول راووتل:

سړه بني (اصلي) = ٦١ لوی قومونه.
غرغښتي (اصلي) = ١٦ لوی قومونه.
متوزي (وصلي) = ۷۱ لوی قومونه.
کرلاڼي (وصلي) = ۲۹ لوی قومونه.

اروابناد سر محقق دوست شينواري په مخزن افغاني کي ټولي درج سوي قبيلې (۳۹۵) او په هغو کي ئې سړه بني (۱۰۵)، بېټني (۲۵)، متوزي (۵۲) او کرلاڼي (۱۲۰) شمېرلي دي[1]. په دې ډول وينو چي د وصلي شمېر تر اصلي واوښت. دا کار خو له ناممکناتو څخه نه دئ، خو عادت و درايت ئې نه سي منلای.

د روايتي شجرو په عنعنه کي اساسي تېروتنه دا ده چي هلته د پښتني ټولني د جوړښت واحدونه د افرادو په توگه منل سوي دي په داسي حال کي چي دا واحدونه افراد نه بلکي د افرادو لويي لويي

(۱) شينواري – سر محقق دوست – پښتانه څوک دي؟ – ٦٨ مخ، پېښور – ۱۹۹۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولۍ دي. ابدال، غلجی، وردک، ځاځی، منګل، اڅک، سلیمان ... او نور د افرادو نومونه نه دي بلکي د لویو لویو اتنیکي ټولیو نومونه دي. استاد نومیالی لیکي:

"د پښتنو ایتنیکي مجتمع د یو بشپړ اورګانیزم په توګه تش د منفردو وګړو مجموعه نه ده بلکي یو اجتماعي – اقتصادي سیسټم دئ چي د مادي او معنوي عناصرو له تاریخي ترکیبه څخه د اوږدې زمانې په دوران کي د تشکل او تکامل پر لار باندي منځ ته راغلی دی. د دې اورګانیزم واحدونه وګړي نه دي بلکي لویي لویي قبیلې یا ټبې دي چي د هري یوې تشکل او تکامل د خورا ډېر وخت مولود دئ... [1]".

پوهاند دوکتور حبیب الله تږی لیکي، چي:

"... په پخوانو تاریخونو او آثارو کي رښتیا هم ډېر زیات داسي خیالي او جعلي روایتونه او خام مطالب راغلي دي چي یو ئې هم د اصولي کره کتني او منطقي استدلال تاب نه لري. یو مثال د پښتنو په باره کي د افغنه او قیص عبدالرشید افسانه او د هغې په اساس باندي د پښتنو د نسب جوړه شوې شجره ده، چي هم د منطقې پخواني او ځیني اوسني تاریخونه پرې ډک دي، او هم په پښتنو کي له ډېر پخوا نه په شفاهي ډول رایجه شوې ده. خو که دا او داسي ډېر نور د پخوانو تاریخونو او آثارو مطالب د اصولي، اجتماعي او تاریخي کره کتني د معیارونو په اساس وڅېړل شي نو یقین دئ چي افسانوي اړخ به یې په واقعي اړخ دومره غالب شي

---

(۱) نومیالی – محمد انور – د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي: ۴۶ مخ – مسکو، ۱۹۹۰ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ټول روایت به باد یوسي[(۱)]".

سراولف کیرو وایي: "د دې کیسې خیالي اړخ پوره څرګند سو. حتی د قیس او د ده د ملګرو نکل هم د ځینو باوري اسلامي منابعو له خوا رد سوی دئ. مشهور سیاح البیروني او درباري العُتبي (Alutabi) دواړه د محمود غزنوي د یوولسمي پېړۍ د زمانې خلک دي او د قیس نکل ردوي. د دوی لیکني ښیي چې له قیس څخه څلور پېړۍ وروسته د کابل ولایت لا مسلمان شوی نه وو".

نوموړی زیاتوي: "... له دغو کیسو څخه د ډهلي د څراغ د تیلو بوی ځي. د دربار افغانانو خپلي شجرې بیانولې او ځان ته ئې کریډټ ورکاوه حال دا چې پښتو ئې نه وه زده او په پاړسي به غږېدل. دوی د مغول پاچا د خوشحالۍ او خندولو لپاره هر څه ویل[(۲)]".

اوس به د پورتني حقیقت په پام کي نیولو سره د پښتون قوم یو شمېر ستري څانګې د مستندو تاریخي پېښو په رڼا کي وڅېړو او وبه ګورو چې د دغو څانګو څرک د روایتي شجرو پر خلاف تر اسلامي عصر ډېر وړاندي موندلای سو.

## اودل - ابدال - اپتل - هفتل - یفتل:

ابدالیان د پښتنو یوه مشهوره قبیله ده د افغانستان په تاریخ کي د دغي قبیلې رول ډېر زیات دی. دې قبیلې د معاصر افغانستان د جوړېدو له وخته د دوه نیم سوو کالو په اوږدو کي واکمني کړې چې په هیواد کي د ټولو میشته وو پښتنو او غیرپښتنو له خوا منله

---

(۱) تړی - حبیب الله - پښتانه: شپږ مخ، پېښور - ۱۹۹۹م.

(۲) سراولف کارو - پښتانه (پټانز) - پښتو ژباړه - ۲۵ - ۲۶ مخونه، پېښور - ۱۹۹۹م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې هم وه. د روسانو غیر مستقیم او مستقیم تېري د دوی واکمني پای ته ورسوله. د دغي قبیلې زیاتره مشاهیر د افغانانو او ټولو پښتنو ګډ ملي ویاړونه دي. د ابدالیانو د نامه ریښه هغو سپین پوستي اریایي قبیلې ته رسېږي چي په تاریخ کي یې د اپتل Aptal یا هفتل په نامه پېژنو. اروپایان دغو اریایي هپتالیانو ته سپین هونان وایي. د (هون، هان) اوښتی شکل اوس په پښتو کي (خان) دئ چي ځیني پښتانه ئې د (خون) په بڼه هم تلفظ کوي. د (هـ) او (خ) د اوښتون نور مثالونه هم سته. د (خوارزم) پخوانی ثبت د (هوارزم) په شکل هم لیدل سوی دئ. عربو دې قبیلو ته (هیاطله) ویله. تاریخي څېړني ښیي چي دغه سپین پوستي اریایان د اوسني افغانستان سیمو ته تر راتګ وروسته د دې ځای له لرغونو قبایلو (پکهت، پښت) سره ګډ سوي دي. د هفتالیانو ژبه چي هر څه وه خو له پکتهانو سره له ګډون وروسته ئې ژبه یو مخیزه (پښتو) سوې ده. د اپتل قبیلې د (۴۰۰ م) په شاوخوا کي په باختر او تخارستان کي یو پیاوړی دولت جوړ کړ، له ساسانیانو سره ئې جګړې وکړې او کتیبې ئې د کندهار په شمال او ارزګان کي موندل سوي دي[1]. د روایتي شجرو له مخي د ابدالیو پښتنو نیکه (ابدال) نومېدی او په اسلامي عصر کي پیدا سوی دي. د ترین زوی، د شرخبون لمسی، د سړه بن کوسی او د قیس عبدالرشید کودی وو. د ژوند زمانه ئې د ۴۴۰ هـ ق شاوخوا ټاکل سوې ده. د اسلامي دورې دغه ابدال نیکه که څېري عیني موجودیت هم ولري نو به د لرغونو

---

(۱) حبیبي – پوهاند عبدالحي – تاریخ مختصر افغانستان: ۲۳۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپټاليانو له زوزاتو څخه يو متاخر سړي وي. ځکه ابدالي قبيلې د اسلام د مبين دين تر بعثت څه دپاسه دوه سوه کاله وړاندي پياوړی دولت درلود. موږ د روايتي شجرو په ګرافيکه نخشه کي پر ډېرو داسي نومونو پېښېږو چي له پوښتنو خالي نه دي. حضرت بېټ نيکه په هيڅ ډول هغه بېټني نه دئ چي قوم ئې په نامه سته. د پټې خزانې بابا هوتک د هوتک قبيلې يو متاخر شخص دئ او په هيڅ راز ئې بايد هغه منبع ونه بولو چي د هوتکو پراخ قوم ورته منسوب دئ.

ابداليانو ته د (دراني) لقب لوی احمدشاه بابا ورکړی دئ. تر احمدشاهي عصر وړاندي ئې ټولو منابعو نوم ابدالي يا اودالي راوړی دئ.

## الکو، اراکو، الکوزي، اراکوزي:

د روايتي شجرو له مخي الکو د ځيرک په اولاده کي د بارک او پوپل سکنی ورور دئ. ځيرک د ابدال زوی د ترين لمسی د شرخبون کړوسی د سړه بن کوسی او د قيس عبدالرشيد کودی دئ. د ژوند زمانه ئې بايد د ۷۸۰ هـ ق شاوخوا وبولو ځکه د ورور (پوپل) د ژوند زمانه ئې تاريخونو د ۷۸۰ هـ ق حدودو ښوولي دي[1]. يعني د اتمي هجري پېړۍ پای يا له نن څخه نزدې ٦۵۰ کاله وړاندي. د الکوزيو پښتنو ټاټوبی په مشخصه توګه د احمدشاهي کندهار شمال لوېديځ ته د ارغنداو ناوه ده. د زابل ولايت په جلدک او په فراه ولايت کي هم يو شمېر الکوزي اوسي خو اصلي مېنه ئې د ارغنداو د رود غاړي دي. د ارغنداو حوزه په

---

(۱) تاريخ مختصر افغانستان: ۲۳۹ مخ – پښتانه د تاريخ په رڼا کښې: ۱۲۷۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاريخي لحاظ د اراکوزيا سيمه ده. وايي کله چې مقدوني سکندر (تولد ئې ۳۵٦ ق م) له اتيا زرو لښکرو سره د اسيا پر لويه وچه بريد وکړ، دريم داريوش ته ئې ماته ورکړه، د هخامنشي سلطنت پلازمېنه (پايتخت) ئې وسوځله، مخ ئې پر خراسان ونيو، د هرات تر نيولو وروسته ئې د هيلمند ناوه او ورپسې د اراکوزي ناوه د اراکوزيانو له سخت مقاومت وروسته فتح کړه. د ۳۲۹ ق م په دوبي کې ئې د اراکوزي سکندريې ښار د اوسني کندهار په شاوخوا کې جوړ کړ[1]. د اراکوزيا سيمه په ريگويدا کې د (سراسواتي) او په اوستا کې د (هراويتي) په نامه ياده سوې ده[2]. دغه اراکوزيان چې د ارغنداو پر غاړو اوسېدل او له مقدوني سکندر سره ئې (سخت مقاومت) کاوه، څوک ول؟ دا خلک د همدا ننني الکوزيو**

---

(۱) تاريخ مختصر افغانستان: ۴۰ مخ.

(۲) ريگويدا د ويدي سرودونو يو کتاب دئ. ويدي سرودونه له نن څخه نزدې څلورنيم زره کاله وړاندي ويل سوي دي. ويونکي ئې هغه اريايي قبايل ول چې د آمو سيند په شمال کي اوسېدل او خپله مېنه ئې (اريانا ويجه) بلله. (اوېجه اوس لا هم د کندهار په لهجه کي د (سرزمين) په معنا ژوندي او مستعمله کلمه ده). اريايي مدنيت د ويدا په څلورو کتابونو کي منعکس سوی دئ. له دغو څلورو کتابونو څخه د يوه نوم ئې ريگويدا دئ نور درې ئې سام ويد، اتهرواويد، يجورويد نومېږي. ريگويدا ئې تر ټولو قديم دئ.

اوستا بيا د زردشتي مذهب مقدس کتاب دئ چې دوې لويې برخي لري. په لومړۍ برخه کي ئې دغه لاندي کتابونه راغلي دي: يسنا، ويسپرد، ونديداد. او دوهمه برخه ئې دوې څانگې لري: خورده اوستا او يشتونه د (يشت) معنا د (ستايني سرود) ده. که د اوستا لومړۍ او دوهمه برخه په پام کي ونه نيسو، نو په مجموعه کي گويا پنځه کتابه کېږي: يسنا، ويسپرد، ونديداد، يشت او خورده اوستا. (وگورئ: افغانستان در شاهنامه د اروابناد احمدعلي کهزاد ليکنه – ۹۳ مخ – کابل – ۱۳۵۵ ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلاف ول. د الکوزي او اراکوزي په نومونو کي د (لام) او (رې) اوښتون (ابدال) پېښ دئ. (رې) په (لام) اوښتې ده. د دغه راز ابدال نوري بېلګې هم سته لکه: دېوار = دېوال، غربېل = غلبېل، قيطور = قيطول. (د کندهار ښار لوېديځ ته د سرپوزې د غره لوړه څوکه [قيطول] نومېږي). ما ته لا په (رې) او (لام) کي د (لام) رېغ لرغونی ښکاري او په (الکوزي) کلمه کي د پای له خوا (زې) هغه سوفيکس نه بولم چي د نومونو په پای کي ورلوېږي او د (زوی) معنا ورکوي لکه د (بارک) او (محمد) د نامه و پای ته چي ورلوېدلي او (بارکزي) او (محمدزي) ځني جوړ سوي دي يعني د بارک زوی او د محمد زوی، الکوزی او اراکوزی د شخص نوم نه بلکي د هغه جمعيت نوم دئ چي د اراکوزيا اوسېدونکي ول.

## اڅک - اڅکزي:

په ابداليو پښتنو کي اڅکزي هغه قبيله ده چي د ژوند ډېري لرغوني لاري چاري، راشه درشه، رسم و رواجونه، دودونه و عادتونه ئې خوندي ساتلي دي. د پښتنو د ايتنيکي څېړنو له پاره دا قوم خورا غني مواد لري. د دوی دنګ دنګ قدونه، پياوړي بدنونه، غښتلي موټي، ګردي مخونه، مست اټنونه، غېږي او نور ئې هر يو په خپل ذات کي د اريايي توب او لرغونتوب نخښي دي. د دې قوم د خېلونو نومونه هم خورا لرغوني علايم لري. د روايتي شجرو پر بنا اڅک او محمد دوه ورونه دي چي د بارک له اولادې ګڼل کېږي. د بارک د ژوند زمانه د ۷٦۰ هـ ق شاوخوا اټکل سوې ده او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب باید د اڅک نیکه وخت تر دې وروسته کلونه وي او تر ۸۰۰ هـ ق وروسته کلونه ئې وبولو. دا خبره مي لا باید دمخه کړې وای چې د یوې قبیلې د جوړښت د پیل له پاره دغه شان دقیقه نېټه یا کال ټاکل پخپله د علم له موازینو سره سر نه خوري. د اڅک د پیدایښت کلونه که د ۸۰۰ هـ ق حدود ومنو نو دا د اسلامي عصر هغه دوران دئ چې اسلامي تفکر د مسلمانانو او په تېره بیا پښتنو د ژوند په ټولو اړخونو کې ژوري ریښې ځغلولې دي. پر ژبه د عربیت ژوره اغېزه مسلطه سوې ده. نومونه ئې عربي، اصطلاحات عربي، هر څه عربي سوي دي. دا خبره د منلو نه ده چې د اسلامي مجد و عظمت په دغسي یوه دوران کې دي د یوه مسلمان قوم نومونه غیر اسلامي یا غیر عربي وي او مسلمان اڅک دي پر خپلو زامنو (ګجن) و (بادین) نومونه کښېږدي، لسمی دې د (څول) کړوسی دې د (سدی)، کوسی دې د (پایک) او کودی دې د (خودک) په نامه ونوموي. تاسي ته به زه د یوه اڅکزي شاعر شجره وړاندي کړم او تاسي به دا ټول غیر عربي نومونه پکښې ووینی. دا شاعر ملا عبدالسلام اشیزی نومېږي او په اولس کې په سلام بابا مشهور دئ. نوموړی د ملا حبش زوی هغه د ملا صمد هغه د ملا برت هغه د جمال هغه د ګلي هغه د غازي هغه د پیرعلي هغه د خودک هغه د پایک هغه د سدي هغه د څول هغه د ګجن هغه د اڅک زوی دئ[1].
د دې شجرې د پای شپږ نومونه خو په څرګند ډول تر اسلام دمخه

---

(۱) ملا عبدالسلام اغشیزی – د مقدس خان معصوم لیکنه – پښتو اکاډمي، بلوچستان– ۱۹۸۷م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نومونه دي[۱]. که درې پښته يوه پېړۍ وګڼو نو شپږ پښته دوه سوه کاله کېږي او د دې معنا به دا وي چې د اڅک زېږېدنه بايد لږ تر لږه دوه سوه کاله تر اسلام وړاندې وبولو. روايتي شجرو ته د نېټې ټاکونکو د هغه عمر شپږ سوه کاله کړی دی. په دغه موده کې له يوه فرد څخه د اڅکزو د دومره پراخ اولس جوړېدل تر عقل وتلې خبره ده. ما د يوه اڅکزي شاعر شجره ځکه د بېلګې له پاره راوړه چې د دې قوم پر شجرو زيات باور کېدلای سي. په ابداليو پښتنو کې د اڅکزو قبيله د نسبي اړيکو په خوندي کولو کې تر نورو قبيلو ډېره پابنده ده. په دوی کې د قبيلې پوښتنه اساسي سوال دئ. له نابلده مېلمه څخه تر روغبړ وروسته لومړۍ پوښتنه دا ده چې څوک يې؟ يعني په قوم څوک يې؟**

**د اڅک د ژوند زمانه ډېره قديمه ده. د شجرو جوړوونکو د کجن او اڅک تر منځ د پېړيو پېړيو فاصله غورځولې ده. ښاغلي دوکتور عبدالرازق پالوال په خپل درانه اثر (د پښتنو نوی پخوانی تاريخ) کې د يوناني آثارو پر بنسټ د (ارڅک) شاهانو په باب (چې مراد ئې اڅک شاهان دي) ډېر لرغوني شواهد او تازه و بکر معلومات ورکړي دي. د دغه درانه او ګران کتاب دوهم ټوک چاپ سوی دئ (۱۹۹۴م) پښتانه د دغه اثر د نورو ټوکونو د خپرېدو لار څاري.**

---

(۱) په وروستيو څو لسيزو کې پر پښتنو کوچنيانو باندې د غير عربي نومونو ايښوول باب سوی دی. زموږ زلمي پښتانه کوښښ کوي پر اولادو باندې پښتو نومونه کښېږدي. دغه تمايل د وروستيو لسيزو محصول دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بړیڅ - پروټ - ډاسو - اپرېدي:

د اریایانو په لرغونو سرودونو (ویدونو) کي موږ د ارغنداو په ناوه کي د پښي، ډسه، پراوته او بریسه قبیلو نومونه مومو چي له دوی څخه همدا نن پښي په سیوی او کندهار کي سته، بریسه په یقین سره د بړیڅ قوم دئ، پروټ د الکوزیو یو ښاخ دئ، د اپرېدیو نوم د اپاریتي په بڼه ثبت دئ او په سلیمانخېلو کي د ډاسو (ډسه) په نامه یو خېل سته[1].

## ساک - سهاک - ساکزی - اسحاق زی:

له تاریخي څېړنو څخه څرګندېږي چي ساک قبایل د آمو په شاوخوا کي تر میلاد شپږ سوه کاله مخکي اوسېدل. وایي لوی کوروش د سیستان د فتح پر وخت همدغه ساکان د هغوی د ښو خدمتونو له امله (نېک کردار) بللي او نازولي ئې دي. ارواښاد علامه حبیبي لیکي کله چي دغه کوچي ساکان صحرانشین سول د باختر په سیمو او د آمو سیند په جنوب کي له پښت قبیلې سره ګډ سول او د ساکه نوم د دغو قبایلو په نومونو کي ځای سو. لکه په زابل او کابل کي د سهاک او په هیلمند کي د ساګزي په پښتنه قبیله کي همدا نوم سته. له ساکانو څخه عبدالله محمد بن صالح ساګزي په سیستان کي د یعقوب لیث صفار پر خلاف پاڅون وکړ او مات سو (۲۵۹ هـ ق) مشهور انګرېز افغان پوه سراولف کیرو د ګندهارا د ساک واکمنانو په نومونو کي خورا ډېر پښتو مشابهتونه

---

(۱) حبیبي - پوهاند عبدالحی - تاریخ مختصر افغانستان: ۱۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونډلي دي[۱]. اروانښاد دوست شينواری خو لا ساکان د پښتنو قام په جوړښت کي يو اساسي عنصر ګڼي. د ده په عقيده د پښتانه په خټه کي د (سلم، ساک او سامي) عناصرو بېلګې ستهٔ[۲].پوهاند دوکتور زيار صاحب خو د پروفيسور مارګينستيرنه په پيروۍ د پښتنو پرساکي منشاءباندي پنډ کتاب کښلی دئ.

په پښتنو کي د عربي فرهنګ له خپرېدو سره سم خورا ډېري پښتو کلمې په عربي بڼه او وروسته په پاړسي شکل واوښتې لکه صرود (سردسېر)، جروم (ګرمسير)، مستنج (مستنګ)، سجستان (ساګزستان)، سجزي (ساګزي)، قهستان (کوهستان)، مير واعظ (ميرويس)، ضحاک (سهاک)، لهوګرد (لوګر)، فوفلزايي (پوپلزی)، طوخی (توخی)، صدوزی (سدوزی)،ارغستان (ارغسان)، سفيد روان (سپېروان) او نور. په دې ډول له سهاک شخه (ضحاک او اسحق) جوړ سو (لکه له ښرخبون او خرښبون شخه چي ئې شرف الدين او خيرالدين جوړ کړي دي!) او د ساګزو قبيلې نوم په اسحق زايي واوښت. دا لرغونې قبيله چي موږ ئې د موجوديت څرک (۲۵۰۰) کاله وړاندي لرو، د روايتي شجرو د مسخ کوونکو له خوا دوه ځايه سوې ده. يوه برخه ئې د سړه بن په اولاده کي د ابدال له لاري د پنج پای په ګروپ کي شامله سوې او بله يې د سهاک ولد ابراهيم ولد بي بي متو بنت بېټ بللې ده[۳]. که د ابدال زمانه د ۴۴۰ هـ ق شاوخوا ومنو نو د سهاک = اسحق د ژوند عصر بايد د اوومي هجري پېړۍ سر

---

(۱) پورتنی اثر: ۵۸ مخ.
(۲) شينواری – سرمحقق دوست – پښتانه څوک دي؟ – ۱۹ مخ، پېښور – ۱۹۹۸م.
(۳) خلاصة الانساب: ۱۲۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او په دې توګه به مو د يوې لرغوني قبيلې د عمر لږ تر لږه اتلس سوه کاله عمر خوړلی وي.

د پنج پای له ګروپ سره د ساکانو يو ځای کول ما ته مصنوعي ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## غرزي – غلزي – خلجي – غلجي

په پښتنو کي غلجي قبایل هم د شمېر له مخي او هم په تاریخ کي د خپل ځانګړي نقش له رویه د یادوني وړ موقعیت لري او همدا علت دئ چي ما په دې لیکنه کي هغوی په یوه بېل څپرکي کي راوړل. له دې قبیلې څخه لودیانو د څلرمي هجري پېړۍ په سر کي په ملتان کي د یوې درنې پاچهۍ تاداو کښېښود چي نیمه پېړۍ ئې دوام وکړ او د غزنوي سلطان محمود له خوا په ۴۰۱ هـ ق کي ورانه سوه. تر دې وروسته په هند کي د خلجي (غلجي) شاهانو اوږده دوره پیل کېږي چي پیل ئې په ۱۲۰٦م کي وو او څه دپاسه درې سوه شل کاله ئې دوام وکړ. (د خلجي او غلجي په باب به وروسته ږغېږو). د نهمي هجري پېړۍ په نیمایي کي لودیانو د دوهم ځل لپاره د شاهوخېل لودي سلطان بهلول په لاس د هندوستان په شمال (ډیلي) کي د یوه پرتمین سلطنت بنسټ کښېښود چي تر اتیا کاله عدل وروسته د مغول بابر په لاس ړنګ سو. تر بابر وروسته بیا د دغو قبایلو خپلوانو (سوریانو) د سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**العادل سوري شېرشاه په همت پر هند باندي د پښتنو واکمني ټينګه کړه چي د مغول همايون په لاس چپه سوه او تر هغه وروسته بيا وينو چي په کندهار کي د حاجي ميرويس نيکه په قيادت ملي غورځنګ پيل سو (۱۱۱۹ هـ ق) پښتانه ئې واکمنۍ ته ورسول. دا واکمني اته دېرش کاله وروسته د افشار نادر په لاس نسکوره سوه. لکه وړاندي چي مي وويل د دې قبايلو په باب زه ځکه لږ څه په تفصيل برغېږم چي په روايتي شجرو کي همدوی زياتره د مناقشې وړ ګرځول سوي دي. د دوی په باب ظالمانه قضاوته سوي دي. د پښتنو د روايتونو له مخي د غلجيو ريښه د بيټ نيکه لور بي بي متو ته رسېږي. بي بي متو په غوري حسين[۱] واده وه. په مخزن افغاني کي د متو او حسين د واده په باب د مجمع الانساب په حواله يوه افسانه ليکل سوې چي وروسته ئې نورو تاريخونو ته هم لار کړې ده[۲]، افسانه داسي ده:**

**د وليد بن عبدالملک بن مروان د خلافت په وخت د ده سپه**

---

(۱) د فاضل استاد پوهاند رشاد په عقيده دغه نوم "په را وروسته کي حسين سوی دئ. اوسوني (Uswinee) په مونث صورت په سانسکريټ کي هغه لومړي ستوري ته وايي چي د سپوږمۍ په مدار کي واقع دئ او د سپوږمۍ لومړي مزله ته هم وايي" (وګورئ: لودي پښتانه – د عبدالشکور رشاد ليکنه – ۳ مخ – اوله حاشيه – کابل – ۱۳۳۶ش).

(۲) د دغي افسانې تکرارول پر ځينو خواخوږو پښتنو ښه نه لګېږي. ما چي په ډېوه مجله کي په دې باب ليکني کولې (۱۹۹۵ – ۱۹۹۶م) ښاغلي قدرت الله حداد خپله ناخوښي د همدې مجلې د دريم کال په شپږمه ګڼه کي وښووله. زه له دغو خواخوږو څخه بخښنه غواړم خو په دې بحث کي مجبوريم چي افسانه يو وار بيا تکرار کړم ځکه له تکرار پرته ئې نقد ول بې ربطه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالار حجاج بن یوسف ثقفی د خراسان او غورستان د نیولو په نیت له یو لوی لښکر سره راوخوځېد. په غور کي د حجاج په راتګ سره لویه ګډوډي راغله. مخوري کورنۍ او د نامه کسان له کور و کلي ووتل په هغو کي د حسین په نامه یو ځوان د وطن پرېښوولو ته مجبور سو. (د حسین د نسب شجره ئې د غور حاکم سلطان بهرام ته رسولې ده او هغه ئې د سلطان معزالدین محمد بن سام غوري له اولادې بللی دئ. وایي چې د څلرم خلیفه حضرت علي کرم الله وجهه له خوا سلطان بهرام ته د غور د حاکم په توګه فرمان صادر سوی وو). په افسانه کي راغلي دي چي حسین نامی د کسي په غره کي د شیخ بېټ نیکه کورنۍ ته پناه وروړه. شیخ بېټ ئې په تندي کي د عالي نسبۍ او نېک فطرتۍ نخښي ولیدلې. په کور کي ئې ځای ورکړ او د کهاله محرم ئې وګاڼه او د زوی په شان چلند ئې ورسره وکړ. څه موده وروسته د حسین او د شیخ بېټ د لور (متو) تر منځ مینه پیدا سوه او د متو د مور و پلار په پټه سره کور و کهول سول. متو حمل واخیست. مور ئې د چارې په فکر کي سوه د پلار سره ئې خبره طرحه کړه او ځني وئې غوښتل چي د هلک و نجلۍ نکاح وتړي. پلار ئې د هلک د اصل و نسب د معلومولو له پاره یو سړی چي (کاغ دوړ) نومېدی د حسین له یوه لیک سره چي د خپلي کورنۍ په نامه ئې کښلی وو، غور ته ولېږه. کاغ دوړ په غور کي د حسین د پلار و نیکه څرک ویوست او تر راتګ وروسته ئې شیخ بېټ ته ډاډ ورکړ چي هلک عالي نسبه شهزاده دئ. شیخ بېټ د خپلي لور و حسین نکاح وتړله. متو ته خدای زوی ورکړ. نیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې له دې امله چې هلک و نجلۍ د ده بې سلا یو ځای سوي ول، پر ماشوم باندي (غلزوی) نوم کښېښو یعني د غلا زوی. دا نوم وروسته غلزی، غلجی سو[۱]. تاریخ سلطاني دې افسانې ته نېټه هم ایښې ده او دا پېښه ئې په پنځه سوه هجري کي بللې ده[۲]. حسین ئې د شهزاده سام غوري زوی بللی دئ او له غور څخه ئې د هغه د راوتلو علت غور ته د غزنوي لښکرو ورتګ ګڼلی دئ. دا افسانه په مخزن افغاني کي پیل سوه او تر ننه پوري ډېرو کتابو اخیستې ده. زموږ له پیاوړو استادانو څخه علامه رشاد رحمه الله علیه هغه (مضحکه وجه تسمیه) بللې ده[۳] له دغو یادونو سره سره به زه اوس د دغي افسانې په باب یو شمېر دلایل وړاندي کوم او ګران لوستونکي به وګوري چي دغه افسانوي روایت او (عامیانه اشتقاقونه) څومره له حقیقته لیري دي.

- لومړی دا چي د غوري پاچهانو په هغه لست کي چي علامه حبیبي په خپل کتاب (تاریخ مختصر افغانستان - ۱٦٦مخ) کي راوړی دئ، د سلطان بهرام په نامه څوک نسته. زما په ګومان د دغي افسانې طراحانو د غزنوي شاهانو د لړۍ پر یوه تن (بهرام شاه بن مسعود سوم) باندي ئې د (غوري) لقب ورزیات کړی دئ. دا امکان زه ځکه وارد بولم چي د پښتنو د بني اسرائیلیت د نظریې د جوړولو په ترڅ کي ئې هم د اصفیا په اولاده کي د افغنه نوم ورځای

(۱) هروي - نعمت الله - مخزن افغاني: اردو ژباړه - ۴۳۵ مخ.
(۲) تاریخ سلطاني: ٦۹ مخ.
(۳) حیات افغاني: پښتو ژباړه - د تعلیقاتو برخه - د پوهاند رشاد صاحب په قلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دئ.

- د حضرت علي کرم الله وجهه شهادت په ۴۰ هجري قمري کي پېښ او سلطان معزالدين غوري د شپږمي هجري پېړۍ سړی دئ. د ده په اولاده کي سلطان بهرام نامي؟ ته د حضرت علي کرم الله وجهه له خوا د فرمان صادرېدل له تناقضه ډک روايت دئ. ځکه د حضرت علي د شهادت او د سلطان معزالدين د واکمنۍ تر منځ د شپږو پېړيو واټن پروت دئ. ګويا د اسلام څلرم خليفه تر خپل شهادت شپږ پېړۍ وروسته يو چا ته فرمان صادروي!.

- مخزن افغاني خو د متو او حسين د نکاح کېدلو وخت نه راښيي خو تاريخ سلطاني لکه وړاندي چي مو ولوستل په صراحت سره وايي چي دا پېښه په پنځمه هجري پېړۍ کي سوې ده. په داسي حال کي چي وليد بن عبدالملک په ۹٦ هـ ق کي مړ دئ او د حسين له کوره وتل او د کسي غره ته تلل بايد په لومړۍ هجري پېړۍ کي ښوول سوي واى. متو د قيس لمسۍ ده. قيس په ۴۰ يا ۴۱ هـ ق کي مړ دئ او په دې ډول خو اول د نيکه او لمسۍ تر منځ زماني فاصله (۴۵۰) کاله ده چي د عقل په حکم ممکنه نه ده. بله د حيرانتيا خبره دا ده چي حسين د لومړۍ هجري پېړۍ په پاى کي له کوره وتلی خو واده ئې درې پېړۍ وروسته کړی دئ. نه پوهېږم چي دا مسأله به څرنګه تشريح سي؟

- وايي شيخ بېټ په خپل وخت کي په تقوا او نېکي مشهور وو، د لور په ورکړه کي د نورو پښتنو په شان ډېر محتاط وو. د خېښۍ په وخت کي ورته د اصل و نسب مسألې زيات اهميت

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود او له همدې امله ئې د حسين غوري د پلار و نيکه د معلومولو له پاره کاغ نومي دوړ ته له کسي غره څخه د غور تر لتو پوري د اوږده سفر ماموريت ورکړ. آيا د دغسي يو شخص څخه دا هيله کېداى سي چي د خپلي کورنۍ لمن دي په خپل لاس پورته کړي او پر لمسي باندي دي د (غل زوى) نوم کښېږدي؟ په پښتنو کي همدا اوس پر ناموس باندي د تېري او ناروا داغ جزا مرگ دئ. آيا دا خبره به د بېټ نيکه په وخت کي چي اسلام او پښتونولي تر نن سل چنده ټينگه وه، د يوه روحاني مقتدا په باب د منلو وړ وي چي خپله لور داسي يوه شخص ته په نکاح ورکړي چي د ده کورنۍ ته ئې پېغور اړولى وي؟ هيڅکله نه.

– د دې افسانې بل تناقض د (کاغ دوړ) مساله ده. که کاغ نامى په رشتيا سره په قوم (دوړ) وو، نو د دوړ قوم لومړى نيکه بايد تر بېټ نيکه دمخه يا ئې همعصر وي. په داسي حال کي چي د روايتي شجرو په روايت خو (دوړ) په (شيتک) کي شامل دي (نوري څانگي ئې ټني او بنوڅي دي) شيتک د ککي زوى، هغه د کرلاڼ زوى او هغه د بېټ سره په يوه ليکه کي راغلى شخص ښوول سوى دئ. د پورتني روايت له مخي خو لمسي تر نيکه دمخه ژوند کاوه!

د دغو تناقضاتو حل په هغه چا اړه لري چي د غلجيو په باب پر دغه افسانوي روايت باندي گروهمن وي.

## غلجي څوک دي؟

د غلجيو د نامه په توضيح کي نني پوهان د نوو څېړنو په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ټول په يوه خوله دي او هغه دا چي دا نوم غرزی (کوهزاد) دئ. د غرزي کلمه ورو ورو په غلجي اوښتني ده. د (زې) او (جيم) د اوښتون ډېر مثالونه سته (ژوند – زوند – جوند، ژبه – زبه، جبه، ژرنده – زرنده – جرنده). علامه حبيبي د توماس چک له خولې وايي چي په لرغونې باختري دري ژبه کي (گر – Gar) غره ته وايي او د آمو سيند د لوړي خوا د غرنيو سيمو آريايي اوسېدونکي (غرچه) نومېدل. غرڅه او غرڅني په نننۍ پښتو کي مروجي کلمې دي او د غره مېرونو ته وايي. غر د يوې لاحقې په توگه د پښتانه له نامه سره تړلې کلمه ده. عربو د غور پښتانه پاچهان (ملوک الجبال) يعني (د غرونو شاهان) بلل. د غزنوي دربار مشهور مديحه ويونکی شاعر ابوالقاسم فردوسي په خپل تاريخي شهکار (شهنامه) کي د زابل په غرو کي د افغانانو د يو مشر او پهلوان اوږد داستان لري. دا مشر (کک کوهزاد) نومېدی، چي په قوي احتمال سره ئې (غرزی کک، غلجی کک) بللای سو. د شهنامې د ملحقاتو روايت داسي دئ:

چنين گفت دهقان دانش پژوه
مرا اين داستان راز پيشين گروه
که نزديک زابل بسه روزه راه
ييک سوی او دشت خرگاه بود
دگر دشت، زی هندوان راه بود
نشسته در آن دشت بسيار کوچ
زاوغان و لاچين و گُرد و بلوچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یکـــی قلعــه بــالای آن کــوه بــود
کـه آی حـصن و از مـردم انبـوه بـود
مــر آن حــصن را نــام مربــاد بــود
ازو جـــان نـــابخردان شـــاد بـــود
بـدژ در یکـی بـد کنش جای داشت
کـه در رزم بـا اژدهـا پـای داشـت
نـژادش زاوغـان سـپاهش هـزار
همـه نـاوک انـداز و ژوبـین گـزار
بیـــالا بلنـــد و بـــه پیکـــر ســتبر
بـه حملـه چـو شیر و بـه پیکـار ببـر
دورانـــش بماننـــد ران پیـــل
گـــه رزم جوشـــان تـــر از رود نیـــل
بـه نیرو جـد اکـر دی از کـوه کمـر
گریـزان ز رزمـش بـدی شـیر نـر
چـو پیکـار جـستی زمـردان مـرد
زمـــردان بـــه اوردی از گـــرز گـــرد
ورا نـــام بـــودی کـــک کـــوهزاد
بگیتـی بـسی رزم بـودش بـه یـاد
هـزار و صـد و هـژده اش سـال بـود
بـــسی بـــیم ازو در دل زال بـــود[1]

---

(۱) کهزاد – احمدعلي – افغانستان در شاهنامه: ۲۸۶ – ۲۸۹ مخونه، کابل – ۱۳۵۵ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروانښاد استاد احمدعلي کهزاد په نظر د (مرباد) غر په فراه کي واقع دئ او "که نزدیک زابل بسه روزه راه" داسي تعبیروي چي زابل یوه پراخه سیمه ده او په دې ځای کي له زابل څخه مراد د هیلمند او ارغنداو غاړي دي. نوموړی استاد زیاتوي: "دشت خرگاه عبارت از سرزمین پهناوریست که علی العموم کوچی ها در آن مستقر بودند و خیمه ها و غژدی ها و خرگاه های خود را در آن پهن دشت بر پا می نمودند. راهی که بطرف هندوان رفته بود، امکان دارد که از طرف جنوب در راه قندهار و چمن و کویته جانب (هند) میرفته، ولی امکان دیگر هم موجود است که راه مذکور از طریق قندهار و غزنه به مرکز کابلستان که در آن وقت حصهٔ زیاد آن پیروان هندوئیزم بودند، کشیده شده باشد"[(۱)].

د (دشت خرگاه) موقعیت موږ ته دا راښیي چي دا دښت د اوسني زابل و غزني له پراخو دښتو سره څرمه پروت وو او تر دا نن پوري لا هم د غلجي کوچیانو کړدۍ پکښې پلني وي. د شهنامې د روایت له مخي (کک کوهزاد) افغان وو. په دې باب موږ یو شمېر نور بیتونه هم لرو چي د کک افغانیت (پښتونوالی) ځني څرگندېږي. فردوسي د رستم نکل کوي او وایي چي نوموړی یوه ورځ (بازرگاه) ته ځي او د لارویانو له خولې د (کک کوهزاد) د غښتلتوب بیان داسي اوري:

---

(۱) هماغه اثر: ۲۸۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یکــی گفــت ای نــامور پهلــوان
دل کـــــار زار و خـــــرد را روان
نهنــگ دمانــست و شــیر ژیـــان
بــه نیــروی او کــس نبــسته میـان
نــژادش زاوغــان سـپاهش بلــوچ
ابــر دشــت خرگــاه بگزیــده کــوچ

کــک کــوهزاد اژدهــای نــر اســت
زگرشسپ و ار سام جنگی تر است

دگــر آنکــه در کــوه بــا آن دلیــر
هــزاران جنگــی همــه همچــو شــیر
بـه مـردی فزوننـد هـریـک زکـک
بـود کـک زپیکـار ایـشان سبک
هـــزاران ســواران افغـــان گــروه
زلاچــین دلیــران ابــر گــرد کــوه

**رستم چي دا بیان اوري له ښځمه سره تاوېږي او قسم خوري چي د کک چاره به کوي:**

نــدارم درنــگ امــشب ایــدر زکـین
مگــر سـوی اوغــان و خرگــه زمــین

ســوی دشــت خرگــاه تــازیم زود
زافغـــان و لاچــین بــر آریـــم دود

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه غواړم د شهنامې ټول داستان دلته رانقل کړم. مقصد مي دا دئ چي (کک کوهزاد) د شهنامې په استناد افغان – اوغان وو، د (دشت خرگاه) پښتانه ئې عزيزان ول او په لښکر کي ئې په زرو (زرگونو) افغانان شامل ول. (کک) چي افغان سو نو په يقين سره ويلای سو چي د (کوهزاد) لقب همدغه (غرزی) دئ چي وروسته غلزی – غلجی – خلجی سوی دئ. د (اک – ak) لاحقه په نورو پښتني قومونو کي هم سته لکه ختک، شيتک، هوتک، اڅک، بارک او نور.

د روايتي شجرو له مخي غرزی = غلجی د بېټ نيکه د لور (بي بي متو) زوی گڼل سوی او د ژوند زمانه ئې تر اسلام وروسته ختونه دي په داسي حال کي چي د همدې شخص بيان د شهنامې په استناد تر صدراسلام ډېر وړاندي په فولکلوريکو داستانو کي ځای نيولی دئ او دې خبري ته مو بايد پام وي چي فولکلوريک داستانونه که د عقل و درايت ملاتړ وگټي نو بيا د ثقه اسنادو ځای نيولای سي. روايتي شجرو چي د غلجي په اولاد کي د توران، بولر، بارو، بابو، درخی ... نومونه راوړي دي، په خپله د دې شاهدي ورکوي چي دا نومونه تر اسلام ډېر وړاندي لرغوني نومونه دي.

نسبي شجرو غلجي قبايل په (وصلي افاغنه) کي راوستي دي. د دې له پاره چي د دې مطلب اساس ښه څرگند سي، لازمه ده چي پر دغه برخه يو څه ورغږېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اصل و وصل:

قبیلې او قومونه د انسانانو لوی لوی جمعیتونه دي او د جوړښت جریان ئې یوه ډېره اوږده زمانه نیسي. چي د پیل ټکی معلومول ئې یو څه مشکل کار دئ. یوه شخص ته د لویو قومونو د مبداء رسول زیاتره له علمي معیارو سره سر نه خوري. پښتانه چي خپله نسبي شجره بیانوي، وایي پلانی د پلاني زوی د پلاني لمسی د پلاني کړوسی د پلاني کوسی د پلاني کودی ... او بالاخره د پای ټکی ئې یوې لویي ټولۍ (پوپل، اڅک، اپرېدي، ...) ته رسوي. تر لویي قبیلې پوري د نسب سلسله د افرادو له لاري بشپړېږي. د روایتي شجرو تېروتنه دا ده چي دغه لویي قبیلې یا قومونه ئې د شخص په توګه منلي دي او داسي ئې انګېرلې ده چي ګویا پوپل، خټک، اڅک، اپرېدي ... اشخاص دي په داسي حال کي چي هغه اشخاص نه بلکي د افرادو لویي ایتنیکي مجوعې دي چي ټوله بیا د (پښتون) په نامه په یوه لوی واحد کي د ملي یووالي درجې ته رسېدلي دي. او لکه وړاندي چي مي وویل د دغو لویو ایتنیکي واحدونو جوړېدل د خورا ډېري اوږدې زمانې محصول دئ. د پښتنو په دا اوسنۍ سیمه کي د تاریخي حوادثو له مخي څوک دا اټکل کولای سي چي دلته په خورا لرغونې زمانه کي د انسانانو یوه ټولۍ د (ملي توحید) یوې داسي مرحلې ته رسېدلې وه چي نوري ټولۍ او جمعیتونه ئې ځان ته راجذبولای او په ځان کي منحلولای سوای. د دغه جذب او انحلال مفهوم په روایتي شجرو کي د (وصل) یا (وصلي) په نامه بیان سوی دئ. وصل او ادغام یوه داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیه ده چي مثالونه ئې د نړۍ په نورو قومونو کي هم موندل کېږي. د استاد محمدانور نومیالي په عقیده: "... په لرغوني تاریخ کي دلته یو شمېر لومړنۍ قبیلې ډېري وختي د ایتنیکي جوړښت یا تکوین یو پاخه او په ځان پوره قبیلوي نظام ته رسېدلي دي. بیا نو د دغه نظام د انضباطي او انتظامي ارزښتونو له بر کته چي په خپل وخت کي ئې زیاتي اجتماعي او اقتصادي ښېګڼې درلودې، په لیري او نژدې ګاونډیتوب کي ئې هر څوک ځان ته راجلبوله او په دوی ور ګډېدله. د ظلمونو له مر کز څخه فراره او د شرقي استبداد له دولتو څخه بېزاره پر ګنې چي د دوی په ګاونډیتوب کي ئې پناه موندله، د دوی د ژوند لاره ئې غوره کوله"[1]. پر (فراره او بېزاره پر ګنو) سربېره له نظامي فتوحاتو سره سم ځیني مهاجم جمعیتونه او افراد هم په نیول سویو سیمو کي د تل له پاره مېشته سوي دي چي د اسلام له خپرېدو وروسته په پښتنو کي د عربي عناصرو منحلېدل ئې ښه مثال کېدلای سي. دغو عناصرو چي اوس د پښتنو ستانه دي، خپله ژبه او کلتور سره له دې چي د مذهبي تقدس ملاتړ هم ورسره ملګری وو له لاسه ورکړی دئ. په کندهار کي یو شمېر سپېڅلي پښتانه همدا نن ځانونه (تاجک) بولي او ځیني ئې (بلوڅ). خو نه د یوه تاجکي زده نه د بل بلوڅي او نه ئې راشه درشه د تاجک و بلوڅ ده.

کله چي څوک په پښتنو کي د (وصل) عملیه ګوري نو ویني چي یو وخت هفتلیان – اپتلان د دې سیمي له بومي اوسېدونکو

---

(۱) نومیالی –محمدانور –د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي: ۳۰ مخ –مسکو –۱۹۹۰م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پکتهانو) سره یو ځای سوي او (ابدالیان و غلجیان) ترې جوړ سوي دي[۱]. بل وخت د سامي توکم ځینو قبیلو خپله بقا له پښتنو سره په یو ځای کېدلو کي موندلې ده او ځانونه ئې پکښې منحل کړي دي او بل وخت بیا د منځنۍ اسیا د پراخو سیمو اوسېدونکو ساکانو خپل هر څه له خپلو ګاونډیو پکتهانو سره ګډ کړي دي. د همدغو طبیعي عملیو د څېړلو په نتیجه کي ننني پوهانو داسي انګېرلې چي د پښتني ټولني د جوړښت مهم توکي (سلیمانیان، ساکان او سامیان) دي[۲]. د سړې سینې خبره دا ده چي د دې ټولو عناصرو نخښې د پښتنو په سره یو موټې ترکیب کي موندل کېدلای سي. لرغونو کتابو او د هغو په پیروۍ ځینو ننیو څېړونکو چي د دغه ادغام او وصل ځیني نخښې په پښتنو کي موندلي دي، د دې پر ځای چي د وصل د عملیې څرنګوالی دي ئې څېړلی وي ټول پښتانه ئې هغو ته منسوب کړي دي. همدا علت دئ چي ځینو څېړونکو پښتانه بني اسرائیل بللي، ځینو تاتار او ځینو منګولیان و...

د (وصل) له طبیعي عملیې څخه د سیاسي واکداریو او ملاحظاتو په ګټه ناروا استفادې هم سوي دي او د دې پر ځای چي دغه عملیې ته د یوې عیني او عادي واقعې په توګه کتل سوي وای، د یوه قوم د تذلیل او د بل د تجلیل له پاره کار ترې اخیستل سوی دئ[۳].

---

(۱) حبیبي – تاریخ مختصر افغانستان: ۷۵ مخ.

(۲) شینواری – دوست – پښتانه څوک دي؟: ٦ – ۳۲ مخونه – پېښور – ۱۹۹۸م.

(۳) د (اصل و وصل) په برخه کي چي ما په ډېره مجله کي کوم استنتاجونه بیان کړي دي، پر هغو مي نوې کتنه کړې ده چي تاسي وړاندي ولوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مور ته منسوب قومونه تر نورو لرغوني دي:

شرقي ملتونه د قومي لرغونتوب مسالې ته اهميت ورکوي. په دې بحث کې له لرغونتوب څخه زما هدف دا نه دئ چې ګويا لرغوني قومونه پر نالرغونو لوړ دي يا دا د قومونو له پاره يو امتياز دئ. دا د بشري انکشاف يوه غير ارادي عمليه ده چې ځيني انساني ټولنې وړاندې او ځيني وروسته د قوم درجې ته ورسېږي. زما مقصد د ځينو هغو تاريخي حقايقو بيانول دي چې په پخوانيو کتابو کې له پامه اچول سوي ول. له دغو تاريخي حقايقو څخه يو هم د مورني اصالت په دوران کې د قبيلو او قومونو منځ ته راتګ او د مور نامه ته د هغو منسوبېدل دي.

د نړۍ په تاريخ کې داسي شواهد موندلای سو چې د ځينو بشري ټوليو جوړښت د مور په نامه پيل سوی وي او د نامه ريښه ئې د ميندو له نومو سره تړلې وي. دا د بشري انکشاف او تکامل هغه پړاو دئ چې د ټولني د اقتصادي او ټولنيزو چارو په سر ته رسولو او پرمختيا کې د ښځو رول تر نارينه زيات وي. کله چې د اقتصادي او اجتماعي ودې له امله په ټولنه کې د نارينه غلبه ټينګه سوه، دلته نو د نسب نوم هم د مور له نامه رابېل او په پلار پوري وتړل سو.

په پښتنو کوچيانو کې نن ورځ لا هم د ورځنيو چارو په تر سره کولو کې د ښځو نقش تر نارينه ډېر دئ. د کډو بارول او اړول، د مېږو پالنه و روزنه، د غوړو و کوچو او وړيو توليدول او د کوچياني ژوند نوري اړوندي چاري د ښځو مسئوليتونه او وظايف دي. د بشري و طبيعي حوادثو په وړاندې د قبيلې دفاع د نارينه وو وجايب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. په پښتني قبيلو کي چي ځيني ئې د مور يا ښځو نامه ته منسوبي دي، د دې حقيقت ښکارندوی دي چي ګويا د دغو قبيلو د جوړښت پيلامه د بشري تکامل په هغه دوره اړه لري چي په هغې کي د مور يا ښځي نقش تر پلار يا نارينه زيات وو. له قراينو څخه داسي ښکاري چي د دغو قبيلو نومونه د اسلام د مقدس دين تر راتګ ډېر وړاندي په لرغونو زمانو کي وضع سوي دي خو د نامه توضيح و تحليل او پر هغو باندي د نتايجو بنا کول ئې په هغه دوران کي سر ته رسېدلي دي چي په ټولنه کي د نارينه بابايي (غلبه) ټينګه وه. د دغسي غلبې په وخت کي د ښځي د موقف د ټيټېدلو له پاره هر راز جواز سته او دغه علت دئ چي د مور نامه ته منسوبو قبيلو د توهين و سپکاوۍ ډېري څپېړي خوړلي دي. د دې انتساب اغېزه دومره ستره ده چي د پښتو نوميالي شاعر خوشحال خټک (۱۰۲۲ – ۱۱۰۰ هـ ق) له خپلي خانۍ، دبدبې، علمي سويې سره سره ځان حقير ګڼي ځکه چي قبيله ئې (سباکۍ انا) ته منسوبه بلل سوې ده. دی وايي:

که د واړو پښــتنو راته تسليم دی
زه خو بيا د سباکۍ انا خښتک يم

په پښتنو کي له متيزيو پر ته نور خېلونه هم سته چي د ښځو نامه ته منسوب دي. د خښي ابن کند ابن خرښبون په اولاده کي د کمال نامي دوې ښځي وې چي دواړو ته يې (انۍ) ويله. مشره انۍ او کشره انۍ. د يوسفزو دوه مشهور خېلونه مشرانزي او کشرانزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې دوو ښځو ته منسوب دي[۱] په ملېزيو کې د اکوزيو دوه ښاخه (رانې زي او کورا) د ميندو په نامه (رانۍ او کورا) مشهور دي (رانې زي په اتمانخېلو ګډېږي). د اپرېدو زخه خېل (زخې انا) ته منسوب دي[۲].

په پښتني قبيلو کې د لرغونيت اندازه د دوی د نومونو له څرنګوالي څخه هم اټکلېدلای سي. استاد نوميالی هغه قومونه چې د نامه "له کلماتو څخه ئې هيڅ تاريخي دلالت نه راوزي" د جامد قبيلوي نوم او هغه چې د نامه له کلماتو څخه يې "د نسبي سلسلې تاريخي دلالت ... څرګندېږي" د مشتق قبيلوي نوم په نامه بللي دي[۳]. په جامدو نومو کې کاکړ، هوتک، ځاځي، ماکو، اندړ، وردګ او نور راتلای سي او په مشتق نومو کې محمدزي، علي خېل، احمدزي او نور يادولای سو. د جامدو نومو قومونه تر مشتقو لرغوني دي. ژبنی دليل ئې دا دئ چې په نامه کې ئې د اسلامي نومو او عربي ژبي اغېزه نه ليدله کېږي او "د ټولنپوهني له پلوه ئې دليل دا دئ چې دا د هغي دورې نسبي نومونه دي چې هغه وخت لا د ميراث مؤسسه نه ده غښتلې سوې او هيڅ داسي اړتيا نسته چې خلک د (زي) او (خېل) غوندي مشتقي لاحقې په خپلو نسبي نومونو کې زياتي کړي او د پلار د خوا تناسلي رابطه د ميراث په خاطر ژوندۍ وساتي".

---

(۱) حافظ – رحمت خان – خلاصة الانساب: ۱۱۲ مخ.
(۲) د هجري ياد: د مقالو مجموعه – ۱۰۹ مخ.
(۳) نوميالی – د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي: ۴۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلجي او غلجي:

له دريمي او څلرمي هجري پېړۍ را په هيسته په زياترو ليکلو آثارو کي د (خلجي) په بڼه د (غلجي) قوم ناسم تلفظ او ليکنه ليدله کېږي او د دغه ناسم تلفظ پر بنسټ د دغه قوم په باب داسي نظريات څرګند سوي دي چي ګويا (خلجيان) له لويه سره تورکي الاصل قبايل دي او زابلستان ته تر لېږدېدلو وروسته ئې د دغه ځای له اوسېدونکو سره د ګډ ژوند په نتيجه کي خپله ژبه و کلتور له لاسه ورکړی او (غلجيان) سوي دي. خلجيانو د اوومي پېړۍ له پيل څخه په هندوستان کي درنه امپراتوري جوړه کړې وه چي څه دپاسه درې نيم سوه کاله ئې دوام موندلی وو. د دغه درنې پاچهۍ په باب کورنيو او بهرنيو څېړونکو ښايسته ډېري ليکني کړي دي او په ځينو کي ئې د دوی تورکي والي ته اشارې هم سته. زموږ مشرانو ليکوالو په خپلو مستندو څېړونکو سره دا خبره سپينه کړې ده چي (خلجيان) او (غلجيان) يو قوم او د تورکي والي نسبت ئې ناسم دئ. زه به په دې برخه کي د ارواښاد علامه حبيبي د هغې څېړني لنډيز او ترجمه تيمناً رانقل کړم چي زما سره ئې همدا اوس انګرېزي متن سته او (Khaljies are Afghans) نومېږي[1]. تر کومه ځايه چي ما ته معلومه ده ارواښاد علامه په دې برخه کي د (اصل خلجيان افغاني، رفع اشتباه دربارۀ ايشان) په نامه يوه څېړنه لري چي په ۱۳۴۹ش کال په تهران کي چاپ

---

(۱) د دغي ليکني کاپي ما ته ښاغلي سليمي کندهاري راکړې ده چي ورڅخه ممنون يم. د دې رسالې د دوهم چاپ پر وخت سليمي صاحب وفات سوی دئ (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوې ده[۱]. دغه راز ئې په (پښتو و لویکان غزنه) او (د پښتو ادبیاتو تاریخ – دوهم ټوک) کي هم پر دغه موضوع باندي رڼا اچولې ده.**

**ارواښاد علامه حبیبي په نومورې مقاله کي لیکي: "په ۱۹۳۹م کال د انډین هسټري کانګرس په غونډه کي یوه ویناوال ثرګنده کړه چي خلجیان تورکان نه وه د ده څېړنه د کانګرس په خپرونو کي چاپ سوې هم وه. تر ده دمخه اډوارډ توماس (Edward Thomas) په خپله مقاله کي چي (د ډیلي د پښتنو پاچهانو پیښلیک) نومېږي او په ۱۸۷۱م کي ئې په لندن کي خپره کړې وه ویلي وو چي له ۱۱۹۳م څخه تر ۱۵۵۴م پوري د ډیلي سلطانان افغان پښتانه پاچهان ول. سرولزلي هیګ (Sir Wolseley Haig) هم د کمبرج هسټري آف انډیا په دریم ټوک – چاپ – ۱۹۲۸م کي د (تورک و افغانان په هندوستان کي) تر نامه لاندي ویلي چي خلجیان افغانانو ته منسوب دي او زیاتوي چي دوی هغه تورکان ول چي افغاني دود و عادت ئې اخیستی وو او د افغانستان د ګرمسېر په سیمه کي اوسېدل[۲]. ارواښاد د طبقات ناصري د مؤلف قاضي منهاج سراج له خولې وایي: "له ٦۰۰ هجري را وروسته څه دپاسه پنځلسو سترو خلجیو واکمنانو پر هندوستان واکمني چلوله او په شمالي هند او د بنګال د شمال په لوړو سیمو کي ئې**

---

(۱) خپل – هارون – آفریده های مهجور علامه حبیبي – ۳۲ مخ – کابل – ۱۳٦۷ش.

(۲) تر دې وروسته چي د خلجیانو په باب د ارواښاد حبیبي خبره رانقلېږي، لوستونکي دي پوه وي دا د هغي مقالې محتویات دي چي وړاندي مي یاده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خراسانی او اسلامي ثقافت خپراوه. خلجیان یو ځل بیا له ٦٨٩ څخه تر ٧٢٠ هـ ق پوري د ډیلي واکمنان سول. دا واکمنان د افغانستان غلجیان ول".

اروابناد حبیبي د محمدقاسم فرشته هغه حکم ته د شک په سترګه ګوري چي د طبقات اکبري د مولف نظام الدین احمد بخشي هروي له خولې ئې بیان کړی او ویلي ئې دي چي خلجیان د چنګېزخان د زوم خلیج خان (قلیچ خان – م. هـ) اولاده ده او لیکي: "له تاریخي اسنادو څخه څرګندېږي چي خلجیان یا غلجیان تر چنګېز درې پېړۍ وړاندي په زابلستان کي اوسېدل. د حدودالعالم ناڅرګند مولف په ۳۷۲هـ کي وایي چي په غزنه او شاوخوا کي ئې ... د خلج تَرکان (Taraks of Khalj) اوسي. دوی کوچي خلک دي او د پسو ډېري رمې لري. د خلج د دغو تَرکانو یو زیات شمېر په بلخ، تخارستان او ګوزګانان کي هم لیدل سوي دي ... منهاج سراج یو ځل بیا ثابتوي چي خلجیانو تر چنګېز او د هغه تر زوم ډېر دمخه پر هندوستان باندي واکمني کوله او د امپراتورۍ حدود ئې د شمالي بنګال تر لوړو سیمو پوري رسېدل. د ده د کتاب شلم فصل په بشپړه توګه د دغو خلکو بیان ته وقف سوی دئ. دی زیاتوي چي خلجیان غزني ته نژدې په ګرمسېر او غور کي اوسېدل، مګر د دوی د تورکوالي په باب ئې هیڅ نه دي ویلي. له بلي خوا دی نور تورکي واکمنان په واضح ډول د تورک اولاده بولي".

اروابناد حبیبي زیاتوي: "خلج چي د خطاطانو له خوا د خَلُخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شکل اړول سوی دئ، د (حدودالعالم) تر ترتیبولو ډېر وړاندي د جغرافیه لیکونکو په منځ کي یوه ښه پېژندل سوې کلمه وه. ابن خرداذبه (۲۳۰ – ۲۳۴هـ) هم د (خلجیه) په باب ږغېږي. دی دا خبره مني چي د خَلج (Khalj) او خَلُخ (Khallukh) تر منځ توپیر سته او ورپسې زیاتوي: د خرلخ (خلخ) د ژمي د موسم تورکي اوسېدونکي طراز (Taraz) ته نژدې دي. دوی ته ورڅرمه د خلج (خلجیه) څرځایونه پراته دي. دغه بیان ثابتوي چي د هغه وخت د خلج کوچي قبایل له نني عادت سره سم د کال په ساړه موسم کي تودو سیمو ته لېږدېدل. ابن خرداذبه دغه سیمي جرمیه بللي دي (بلاذري او منهاج سراج ئې جروم بولي). ابن خرداذبه لیکي چي د دوی ژمني څرځایونه د اکسوس سیند پر دې غاړه پراته دي. ځیني کوچي قبایل اوس هم دغو سیمو ته ځي".

علامه حبیبي د یوه بل جغرافیه لیکونکي، ابراهیم ابن محمد اصطخري (۳۴۰ هـ حدود) له خولې لیکي: "خلج د اتراکو یوه ځانګه (Clan) ده. (اتراک په غالب ګومان سره د تَرک Tarak جمع ده)[۱]... دوی د پسونو لویې رمې لري او ژبه و پوښاک ئې تورکو ته ورته دي". علامه زیاتوي چي خلج و افغان تل یو ځای سره یاد سوي او د دوی سیمه، ریښه او نژاد هم مشترک ښودل سوی دئ. د عبدالجبار عتبي زوی ابو نصر محمد (۴۱۴هـ) د سبکتګین د فتوحاتو په ترڅ کي لیکي: "افغان او خلج د

---

(۱) د غربي ژبي د اصولو له مخي اتراک د افلاک پر وزن د ترک (د لومړي او دوهم زور) جمع کېدلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبکتګین امر ومانه او اکثراً د ده له لښکرو سره مله ول".

ابن الاثیر هم دغه پېښه په عین شکل بیان کړې ده. علامه حبیبي په خپله مقاله کې دا هم وایي: "په دې ډول خلجیان او غلجیان د هغو تورکانو یا (غز) اولاده نه ده چې په اسلامي دوره کې خراسان ته راغلي دي، بلکې د آرین نژاد هغه هفتالیتس دي چې د سپینو هونانو په نامه مشهور او په تخارستان او زابل کې اوسېدل. د دوی اخلاف د زابل اوسني غلجي قبایل (کوچي – کوشي) دي". اروابناد علامه وروسته د غلجي، د بدخشان د سیمي په ژبه کې د غلچه – غرچه کلمات څېړي او په دري ادب کې د هغو لرغوني مثالونه راوړي او ورپسې زیاتوي: "محمد کاشغري (۴٦٦ هـ) چي په خپله هم تورک وو، وایي: په ترکمنو غزانو کي څلېرویشت قبیلې سته خو دوې خلجیه قبیلې چي د تورکانو په شان ښکاري، تورک نه دي. دغه تورکي تاریخ پوه له تورکو سره د خلج د نامه له ګډولو څخه ډډه کوي ... منهاج سراج چي د خراسان اوسېدونکی او د دغي سیمي او دغه راز په هند کي د تورکي واکمنانو په چارو ښه پوره خبره دئ، تل تورکان د تورک په نامه او خلجیه د خلجیانو په نامه یادوي". هندوستانی مورخ ضیاء برنی (۷۵۸هـ) په خپل کتاب تاریخ فېروزشاهي په یوه بېل فصل کي وايي: "... کله چي ملک جلال الدین خلجی د ډیلي پر تخت کښېنوست، پر خلکو درنه تمامه سوه. ځکه چي خلجیان تورکان نه ول". اروابناد لوی استاد حبیبي وروسته د خوشحال خان هغه بیت راوړي چي د هند په پاچهانو کي ئې سلطان جلال الدین (د ولایت غلجی) بللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ:

بیا سلطان جلال الدین پر سریر کښېناست
چي په اصـــــــل کي غلـــجی د ولایت و

(پښتنو د خیبر په ها سیمه د ولایت په نامه بلله). او ورپسې د تورک او تَرک د دوو کلمو تر منځ د اشتباه موضوع څېړي او لیکي: "خلجیان پښتو ویونکي تَرک (Tarak) وو نه تورک (Turk) د دغو دوو کلمو تر منځ مغالطه د اسلامي دورې له پیل څخه راشروع سوه".

لکه لوی استاد چي اشاره کړې، زما(هوتک) په نظر هم څرنګه چي په عربي الفبې کي (Tarak) او (Turk) دواړه د (ترک) په شکل لیکل کېږي. د اِعراب نه ستِه والي د دغو دوو کلمو تر منځ مغالطه پېښه کړې ده او ورپسې نو د خلجیانو د تورک والي خبري رامنځته سوي دي. د لوی استاد د لیکني له مخي "د بکران زوی محمد په ٦۰۰ هجري قمري کي لیکي "تَرک (Taraks) خلجیان له خَلُخ (Khalukh) څخه زابلستان ته وکوچېدل. دوی د غزنین په اوارو دښتو کي میشته سول. د تودې هوا له امله ئې رنګونه واوښتل. ژبه ئې هم بدله سوه..." .

پورتنی رانقل سوی روایت د محمد بن نجیب بکران دئ چي په خپل اثر جهان نامه کي ئې راوړی دئ. جهان نامه ئې په ٦۰۵ هجري کي کښلې ده[1] د جهان نامې دغه روایت د ځینو افغاني څېړونکو پر لیکنو هم اثر کړی دئ چا ئې په تایید چا ئې په تردید

---

(۱) تړی – دوکتور حبیب الله – پښتانه – ۸۱ مخ – پېښور – ۱۹۹۹م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ليکني کړي دي له هغو څخه يو هم اروابښاد مير محمدصديق فرهنگ دئ. نوموړی په خپل وروستي کتاب (افغانستان در پنج قرن اخير) د غلجيو په بحث کي ليکي: "يک تعداد از ايشان (پشتونها – م. هوتک) در سدهٔ دوازدهم ميلادی در جزء اردوی سلطان محمد غوری به ان سرزمين (هند – هوتک) داخل شده در آنجا اقامت اختيار نمودند". او ورپسې زياتوي: "در اين زمان يکی از سران ايشان بنام جلال الدين در سال ۱۲۹۰م بالقب فيروزشاه بر تخت بادشاهی دهلی جلوس نمود و سلسلهٔ را که در تاريخ بنام خلجيان معروف است، بنياد نهاد"[۱]. له دې عبارتو څخه داسي ښکاري چي د اروابښاد فرهنگ په نظر خلجيان (پښتانه) دي. د خلجي کلمې تر تحليل وروسته نوموړی وايي: "... امابعد در ضمن شرح تهاجمات مسلمانان به هند، کلمهٔ خلجی ملازم کلمهٔ افغان گرديد". تر دې ځايه د اروابښاد فرهنگ خبري ظاهراً سمي ښکاري خو وروسته ډېره ناسمه نتيجه ځني راباسي. دی ليکي: "پس از سقوط دولت خلجی در دهلی و شعبهٔ ديگر آن در مالوه اين کلمه در هند از رواج افتاد و به جای آن در خراسان در قبيله ای بنام غلجی ظهور کرد که يکی از شاخه های مهم ملت پشتون يا افغان بود"[۲]. (پر کلماتو تاکيد زما دئ. م. هوتک). د اروابښاد فرهنگ په نظر د غلجي قبيله په هند کي د خلجيانو د سلطنت تر ړنگېدو

---

(۱) فرهنگ – مير محمدصديق – افغانستان در پنج قرن اخير – اول جلد – ۳۷ – ۳۸ مخونه.

(۲) هماغه اثر: ۳۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته (۱۳۱٦م) په خراسان! کي منځته راغلې ده. وروسته نو نوموړی مرحوم د غلجيو د نامه په باب د (غلزوی) افسانوي وجه تسميه رانقلوي او ليکي: "حکايت بالا به اغلب احتمال بطور کنايه بيانگر اين واقعيت تاريخی است که غلجی ها يک شاخهٔ دخيل پشتون ها می باشند يعنی شاخه ای که در بدو امر جزء ملت ديگر بوده اما در اثر آميزش با پشتونها زبان و رسوم آنها را فرا گرفته و در آن جذب شده اس"[1] (پر کلماتو تاکيد زما دئ – م. هوتک).
د نقل پر وروستۍ برخه باندي د محمد بن نجيب بکران د جهان نامې اغېزه پرته ده. خو دا چي د غلجيو (دخيلوالی) ئې يو تاريخي واقعيت بللی او په لومړي سر کي ئې دا قبيله د يوه بل ملت جزء بللې ده په يو څه شننه ارزي. دی وايي د غلجيو قبيله د خلجيانو د دولت تر سقوط وروسته په خراسان کي منځ ته راغله. له (خراسان) څخه د ده مطلب د غزني شاوخوا سيمي دي ځکه دې خبري ته ئې په ٦۴ مخ کي هم اشاره کړې ده. ګويا د خلجيو د سلطنت د ړنګېدو پر وخت د غزني په شاوخوا کي پښتون اولس موجود وو. دغو خلجيو له هغو سره تر ګډون وروسته د هغوی ژبه او دودونه زده کړل او په هغوی کي جذب سول. پوښتنه دا ده چي په دغه اولس کي د پښتون قام کومي قبيلې موجودي وې؟ د دغي پوښتني جواب زموږ يوه درانه استاد دوکتور حبيب الله تږي ورکړی دئ چي وروسته به ئې ولولی. اروانباد فرهنګ تاريخي حقايق د کلماتو په پوښ کي سره ژوولي او تحريف کړي دي.

---

(۱) هماغه اثر: ۳۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دا دئ چي د هند خلجي واکمنان همدغه غلجي پښتانه ول چي له خپلي پلرنۍ سیمي (نني افغانستان) څخه هند ته تللي او هورې ئې درنه پاچهي جوړه کړې وه. نه دا چي غلجي پښتانه د خلجیانو تر سلطنت وروسته په خراسان کي منځ ته راغلل. ما ته داسي څرګنده سوه چي اروابناد فرهنګ د خلجیو او غلجیو تر منځ د تساوي نخښه ایښې او منلې ئې ده خو و دغه مساوات ته ئې معکوسه معادله تړلې ده او همدغه ځای دئ چي لوستونکي د پښتنو په باب د ده پر خلوص نیت باندي شکمن کوي.

لکه وړاندي چي مو اشاره ورته وکړه د جهان نامې هغه حکم ته چي وایي "خلجیان اصلاً تورکان ول زابلستان ته ولېږدېدل. هلته مېشته سول او خپله ژبه او عادات ئې کسب کړل او پښتانه غلجیان ترې جوړ شول"، ښاغلي پوهاند دوکتور تړي صاحب ډېره معقول او پر ځای جواب ورکړی دئ. دی لیکي: "... د خلجیانو د مهاجرت او په زابلستان کي د هغوی د منحلېدو پېښه طبعاً له ٦٥٠ هجري نه پخوا شوې ده (ځکه جهان نامه په همدې کال لیکل سوې ده – هوتک). د جهان نامې له متن نه دا هم په صراحت ښکاري چي د دغو مهاجرو څېره او ژبه د جهان نامې د لیکني له وخت نه پخوا بدله شوې او ژبه یې هم له دې نه وړاندي بله شوې وه ... که څوک د جهان نامې خبره مني هغه به ضرور دا هم مني چي ترک خلجیان د شپږمې پېړۍ له اواخرو نه ډېر پخوا زابلستان ته لېږدېدلي دي ... او کوم څېړونکي چي وایي ترکي خلجیان د زابلستان په ځایي خلکو کي منحل شوي او په نهایت کي په پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلجیان بدل شوي دي هغوی په حقیقت کي دا خبره تصدیقوي چي لږ تر لږه د دوهمي او دریمي هجري پېړۍ په حدودو کي د زابلستان ځایي اوسېدونکي پښتانه وو ... له بلي خوا بیا (دغه کسان) وایي چي پښتنو په ۱۴ او ۱۵ پېړۍ کي د غزني سطح مرتفع اشغال کړه". پوهاند تړی صاحب د دغو دوو خبرو تر بیانولو وروسته وایي: "له دې دوو خبرو نه یوه هرومرو غلطه ده. خو دا چي کومه یې غلطه ده؟ د دې سپینول هغه چا ته ور په غاړه دي چي وایي ترک خلجیان د زابلستان په ځایي خلکو کي منحل شوي او پښتانه غلځیان ترې جوړ شوي دي"(۱).

*****

زما په نظر د پښتنو د اصل و نسب د هغوی د قبیلو او قومونو او دغه راز د هغوی د روایتي شجرو په باب د وروستیو کلونو څېړنو چي زما لیکنه ئې یوه کړۍ ده دغو څو موضوعګانو ته د پای ټکي ایښي دي:

– د پښتنو د سامیت نظریه پر علمي اساس ولاړه نظریه نه ده. پښتانه اریایي الاصل قوم دئ. که د سامي نژاد ځیني ګروپونه او افراد د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کي ورسره یو ځای سوي او پکښې منحل سوي وي، وي به.

– له قیس عبدالرشید سره د پښتنو تړل افسانوي روایت دئ او د منلو نه دئ. په روایتي شجرو کي چي د (کیس) کومه یادونه سوې ده هغه باید له کسي غر، کاسي قوم او په غور کي په دغه نامه

---

(۱) تړی – پوهاند دوکتور حبیب الله – پښتانه: ۸۱ – ۸۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوې درې له موجودیت سره په ارتباط کې مطالعه سي، نه دا چې له هغه څخه د یوه عبراني نوم په توګه د پښتنو د بني اسرائیلیت د توجیه له پاره کار واخیستل سي.

- د غلجیو د نامه په باب جوړه سوې افسانه نه د منلو وړ ده، نه د تکرارولو.

- خلجي او غلجي د یوه قوم دوه نومونه دي او سره بېلول ئې نه د منلو وړ دي، نه د تکرارولو.

- پښتون، افغان، پټان، روهیله د یوه ایتنیکي واحد بېلابېل نومونه دي چې افغان ئې اوس په پراخه معنی د افغانستان د ټولو اتباعو د ملي هویت له پاره منل سوی دئ او پر پښتنو سربېره نور ټول هغه قومونه چې د افغانستان په جغرافیوي او سیاسي قلمرو کې اوسي، د افغان په نامه یادېږي.

- پښتانه یوازې د بېټ، سړه بن او غرغښت اولاده نه ده. په پښتنو کې ځیني دومره لوی قومونه سته چې په یوازې سر د دغو درو واړو نیکونو تر مجموعي اولاد زیات بلل کېږي چې موږ ئې مصداق په (پورته اسمان، کښته سلیمان) یا (چې پیدا دي ګدا نه کړه، نو دي څله پښتانه کړه؟) متل وشمه خبرو کې وینو.

- د پښتنو ژبه (پښتو) د هندو اروپایي ژبو له شرقي ښاخه د اوستا په ګروپ پوري تړلې ده.

دا موضوعات اوس د یوه داسي حقیقت په توګه منل سوي دي چې د ختیځ او لوېدیځ پوهان ورباندي متفق الرایه دي او د تردید ټکی پکښې نه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له پیاوړي استاد محمدمعصوم هوتک سره زما د وړدې پېژندګلوۍ څو يادونه

په ۱۳۴۵هـ ش کال کي زه د کابل د هغه وخت د دارالمعلمين په ۱۲ ټولګي کي زده کوونکی وم، په هغه وختو کي به د ۱۲ ټولګۍ زده کوونکو د مملکت مختلفو ولايتونو ته د علمي سير په توګه سفرونه درلودل چي د همدې لړۍ په سلسله کي يوه ورځ د مازديګر پر مهال زموږ ښوونځۍ، يعني د کابل دارالمعلمين ته يو سرويس موټر داخل سو، چي په هغه کي د کندهار د ميرويس نيکه د ليسې د ۱۲ ټولګۍ زده کوونکي سپاره وه، مختلف کندهاري ځوان زده کوونکي د موټر څخه راکښته سول د شپې تېرولو دپاره زموږ په ښوونځۍ کښي ورته ځاى برابر سوى وو، څرنګه چي په دغه وختو او کلونو کښي په روشنفکري کړيو کښي د سياست ميدان خورا تود وو ځکه نو زموږ د ښوونځۍ زده کوونکو د ميرويس نيکه د ليسې د ۱۲ ټولګۍ له زده کوونکو سره د معرفۍ او ملاقات په خاطر د نظريو د تبادلې په وخت کي د يو بل سره تاوده بحثونه شروع کړه چي د شپې تر ډېره وخته ئې دوام وکړ، د دغه تودو خبرو او بحثونو په جريان کي يو ښايسته، نرى، جګ د ډډ آواز لرونکی ځوان په ډېره خوږه او زړه وړونکې لهجه په خبرو کي برخه اخيستله چي د هرچا توجه ئې جلبوله زه هم د ده خبرو ته ډېر ځير وم او پر ما ئې خاص تأثير ښندی، ځکه مي څنګ ته د ده د ټولګيوالو له يو تن څخه پوښتنه وکړه چي دغه ځوان څه نومېږي؟ هغه راته وويل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معصوم جان نو مېږي، د هماغي ورځي څخه تر اوسه پوري زه او زما ټول انډيوالان او دوستان دی د معصوم جان په نامه يادوو. که څه هم د ده د علمي تحقيقاتو، څېړنو، ليکنو او ډېرو علمي هلو ځلو له کبله ده ته د وطن د فرهنگيانو، ادبي ټولنو او علمي کدرونو له خوا څخه د علامه رشاد بابا د ځای ناستي افتخار وربخښل سوی دئ خو زه ئې په دغه څو ټکو کي تر آخره پوري د معصوم جان په نامه يادوم، ځکه دغه نوم زما په مغزو او زړه کي يو راز خاص ځای لري چي پر ثبت ئې ۴۵ کاله تېر سوي دي او تر دغه گړيه تکرار سوی او تکرارېږي.

د ميرويس ليسې دغه گروپ فقط دغه يوه شپه زموږ سره وو، وخت ئې ډېر لنډ وو ځکه دوی د مزارشريف ښار د خپل سير علمي له پاره ټاکلی وو او په دا سبا سهار ئې وختي د تگ اراده درلوده. زه او معصوم جان په دغه شپه يوازي يو د بل سره معرفي سولو، ما ورته وويل چي د رخصتيو په شپو ورځو کي به په کندهار کي سره ووينو. د ژمي د موسم په رارسېدو سره زموږ رخصتي شروع سوه، په دغه وختو کي په کندهار کي د تفريح او وخت تېرېدو دپاره پښتونستان او ميرويس هوټلونه ډېر ښه ځايونه وه، هلته به مود ده د خوږو، علمي او زړه وړونکو خبرو څخه په خوند اخيستلو هره ورځ د يو بل سره ناسته ولاړه کوله، خبرو ئې د مقناطيس غوندي جاذبه قوه درلوده، هر څوک ئې د جذب تر تأثير لاندي راتلی.

زه د ۱۲ ټولگی څخه تر فارغېدو وروسته د ساينس پوهنځی ته بريالی سوم او معصوم جان د کانکور په ازموينه کي په ډېرو ښو نمرو سره په خپله خوښه د پولتخنيک پوهنځی ته بريالی سو. د تحصيل په دوران کي به مو هر وخت سره ليدل د يو بل د حال او احوال څخه خبرېدلو. معصوم جان تر اوسه د (۳۰) چاپ سوو علمي او تحقيقاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آثارو او (۸) ناچاپ سوو آثارو په وړاندي کولو سره هر چا ته ثابته کړې ده چي د فوق العاده علمي استعداد درلودونکی دئ خدای ﷻ دي ئې زموږ څخه نه زوالوي. په دې حاضره ليکنه کي زه د ده پر علمي فعاليت باندي نه ږغېږم بلکي غواړم د ده د تېر شخصي ژوند د مختلفو برخو په شاو خوا کي، هغه څه چي ما ليدلي يا اورېدلي دئ څه ناڅه وليکم.

زموږ د تحصيل په دوران کي به په مختلفو وختونو کي ډول ډول مجلسونه او ميټنګونه جوړېدل کوم وخت چي به ده يا شعر لوستی او يا به ئې بيانيه ورکوله ټول ګډون وال به که د مخالف يا موافق نظر درلودونکي وه په آرام او سکون حالت کي به ئې د ده خبرو ته غوږ نيولی وو. په دغه ډول مجلسونو کي معمولاً ډېر غالمغال وي خو د ده د خپل خاص آواز او فوق العاده فصاحت درلودلو له کبله ئې ټول تر خپل تأثير لاندي راوستل، د تحصيل دغه لړۍ يو دوه کاله روانه وه چي د ډېري بدقسمتۍ له مخي ورته د سږو شديده ناروغي پېښه سوه، ښه ډېره موده په علي آباد روغتون کي بستري سو او پسله هغه تر دوامداره تداوۍ لاندي ونيول سو، پسله څه وخته چي ئې صورت څه ناڅه صحت پيدا کړ، د تحصيل د دوام په خاطر ئې مربوطه پوهنځۍ ته مراجعه وکړه متأسفانه هغوی د ده د مريضۍ د ورځو د غيابت په خاطر د پوهنځۍ څخه خارج کړی وو، هر ډول هلي ځلي ئې بې نتيجې سوې، هيڅوک ئې په درد ونه خوړی.

پسله هغه بيرته کندهار ته را ستون سو، بېکارۍ هيڅ خوند نه ورکاوه او د تحصيل تنده ئې هم نه وه ماته سوې نو ئې د کندهار د عالي دارالمعلمين په ۱۳ ټولګي کي ځان شامل کړ او په عالي درجې سره د ۱۴ ټولګۍ تر برياليي کېدو وروسته د کندهار په مشرقي لېسه کي د ښوونکي په حيث مقرر سو، دا چي څنګه ښوونکی وو، څرنګه تدريس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې کاوه، د هغه وخت شاګردان ئې چې اوس به ليري او نژدې وجود ولري، ښه ترا قضاوت کولای سي او زه هم د ده د فوق العاده موثر تدريس نژدې شاهد يم، ځکه په دغه وخت کې زه هم په دغه لېسه کې ښوونکی وم.

معصوم جان د مېلو او باندارو سره هم ډېره مينه درلوده، د (۱۳۵۰هـ ش) نېټې څخه کال دوولس مياشتي هره جمعه زموږ مېلو دوام درلود چې معصوم جان پکښې خاص رول لوباوه. څرنګه چې زما کور په صحرا (زنګاوات) کې وو او د ښوونکي په صفت مي وظيفه په ښار کې وه، د لوی او کوچني اخترونو د رخصتيو شپې او ورځې به مي په صحرا کې له خپلي کورنۍ او دوستانو سره تېرولې، په دغه ورځو کې به زما ټول انډيوالان زموږ کور، زنګاوات ته راتلل دوې يا درې شپې او ورځې به ئې تېرولې، زما يو اکا وو چې انډيوالانو "خان صاحب" باله، زه چې به صحرا ته ولاړم اکا به مي راته ويل: معلمه! انډيوالان دي ولي وځنډېدل؟ زما اکا ښوونځی نه وه لوستې خو د مطالعې څښتن وو. په مجلس کې به ئې له ټولو انډيوالانو سره جدي بحثونه کول . ده مرحوم به په مباحثوکي تل د بحث د دوام په خاطرمخالف موقف نيوی. په ساعتو ساعتو به د شپې تر آخره جر و بحث روان وو، اکا به مي راته ويل: معلمه! د انډيوالانو دي چنداني مزه نسته. يوازي هغه يو چې تاسي ئې معصوم جان بولئ، په يو څه پوهېږي.

د اخترو په دغو رخصتيو کې به ځيني ورځې چمنانو او د ډورۍ رود ته تللو، هغه وخت چمنان د اوبو ډک وه او ډورۍ به هم ډکه بهېدله د ښکار مرغان لکه هېلۍ او نور ډېر وه، معصوم جان ښکاري هم وو، هېلۍ به ئې پر مځکه ناستي نه ويشتلې بلکې د الوتلو په وخت کې به ئې په هوا کې ويشتلې او ښکار ئې خطا نه درلوده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



معصوم جان د قرآن کریم په تلاوت کي ښه قاري وو، قبله گاه صاحب دې خدای وبخښي، دی به ئې له ځانه سره چي کوچنی وو مېلو ته بېوی هلته به ئې په نمونوي ډول قرائت په وایه او د ده په دغه ښه لحن او تجوید به ئې فخر کاوه، ځرنگه چي ما په کوچنیوالي کي د ده سره بلدیت نه درلود خو د مؤثقو ژوندیو روایتونو څخه راته ځرگنده سوې ده چي دی په رشتیا سره هم یو ښه تکړه قاري وو او اوس هم دئ.

د پوهنتون د رخصتیو په شپو کي به ټول کندهاري محصلین په گډه سره په یوه سرویس موټر کي د کابل څخه کندهار ته راتلل، ځرنگه چي لاره اوږده وه چا به کیسې کولې، چا به خوب کاوه او چا به غزلي ویلي چي د اولي پلا دپاره مي د معصوم جان په خواږه او ډډ آواز کي غزل واورېدل او دا راته ځرگنده سوه چي دی په موسیقي کي هم وارد دئ.

دغه د خوشحالۍ شپې و ورځي مو د (۵۸ – ۱۳۵۷) تر کلونو پوري په خوند تېري کړې. تر دې وروسته له بده مرغه په ټول وطن کي د اړودوړ حالت راشروع سو او تر اوسه پوري روان دئ معلومه نه ده چي تر څه وخته به نور هم دوام ولري، په هر صورت خپل اصلي مطلب ته به راسم.

په دغه کړکجن حالت کي خارج او داخل ته مهاجرتونه شروع سول څو د ډول ډول فشارونو، تهدیدونو، بندي گریو ... څخه ځان وساتي چي معصوم جان هم په دې خاطر کابل ته مهاجر سو، هلته ئې په زیاتو اقتصادي مشکلاتو کي ژوند تېراوه، خو چا ته ئې د طمع په خاطر غاړه نه کېښوله. ځرنگه چي په انگلیسي ژبه کي ئې ښه مهارت درلودی د وخت د اطلاعاتو و کلتور په وزارت کي ئې د فارسي او انگلیسي ژبو څخه خبرونه په پښتو ژبه ترجمه کول، د څه وخت دپاره ئې دغه وظیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ته ورسوله. خو د دولت له خوا د جلب و احضار مسئلې هیڅوک پر آرامه نه پرېښوول. سره له دې چې مربوطه څانګې سخت ضرورت هم ورته درلودی، خو سربېره پر دغه ضرورت ئې د ده سره ډېره ناځواني وکړه غیر مستحقو کسانو ته ئې د جلب او احضار د معافیت کارتونه ورکړل خو ده ته ئې ور نه کړ. د هغه وخت مقاماتو د خپلې دولتي و سیاسي حلقې څخه وتلي کسان عسکرۍ ته سوقول او په دې ډول ئې ګویا د مرګ پُلې ته ورنژدې کول، ځکه د هغه وخت عسکري ۹۰٪ د مرګ په معنی وه. ده د دغه جبر څخه د خلاصېدو په خاطر د دوهم ځل دپاره د عالي تحصیلاتو دپاره د کابل په پوهنتون کي د کانکور ازموینه ورکړه په دغه ازموینه کي د ټول هیواد په سطحه کي عمومي اول نمره سو خو د وخت حق تلفو چارواکو د ده پر ځای په راډیو کي بل نفر د کانکور د عمومي اول نمره په صفت اعلان کړ، څه وخت چي ده د مربوطه څانګي سره تماس ونیوی او ورته وئې ویل چي زما نمرې تر دغه نفر چي تاسو د کانکور د عمومي اول نمره په صفت اعلان کړ، ډېري دي، دا مو په کوم اساس اعلان کړ؟ هغوی ویل چي موږ به معلومات وکړو، چي تر ننه پوري ئې دغه معلومات نه دئ کړی.

په پوهنتون کي ئې د ادبیاتو پوهنځۍ په خپله خوښه غوره کړه او په اعلی درجې سره ئې پای ته ورسوله. د تحصیل په جریان کي د محصلۍ کارت په درلودلو سره د عسکرۍ د جلب څخه هم معاف وو. د سهار څخه به تر مازیګر پوري په پوهنځۍ کي وو د ماښام له خوا ئې هماغه له فارسي او انګلیسي څخه په پښتو ترجمه کوله او د بخور و نمیر ژوند ئې مخ ته بېوی، د بې عزتۍ او بې غیرتۍ د ژوند پر ځای ئې د خپلو مُټو په زور ډول ډول فشارونه او تکلیفونه پر ځان قبلول ابرومندانه ژوند ئې تېراوه. د پوهنځۍ څخه تر فارغېدو وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون د علمي شورا د فیصلې له مخې په کدر کې ونیول سو خو د ځینو مشخصو کړیو د مخالفت له امله ئې دغه استحقاق هم ورنه کړه سو. ده گومان کاوه چې د تحصیل تر بشیرېدو وروسته به ئې په ژوند کې څه ناڅه اسانتیاوې رامنځته سي خو برعکس د ژوند مشکلات ئې ورځ تر بلې ډېرېدل. دې شرایطو د خارجي هیوادونو مهاجرت ته مجبور کړ، د کاناډا تر هېواده ئې ورساوه او اوس هلته مېشت دئ. خدای ﷻ دې هلته جوړ او روغ ولرې څو خپلې دغه ډول علمي او تحقیقاتي هلې ځلې، چې دی په بوخت دئ تر داغه لا هم پراخې کړي چې وړانگې ئې له هغه ځای څخه د افغانستان د ادب او فرهنگ د ډگر د لاروښانه کېدو سبب وگرځي، ژوند دې اوږد وي نوم دې ئې تل پاته وي.

په درنښت
حاجي اخترمحمد معلم
کندهار
۱۳۸۹/۱۲/۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال چاپ او ناچاپ آثار

**چاپ سوي اثار :**

۱. سرمني او ښکي – شعري مجموعه – ۱۳٦۹ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۲. پاشلي ويناوي – د مولوي صالح محمد هوتک – سريزه او حاشيې – ۱۳٦۹ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۳. د ميرزا حنان بارکزي دېوان – سريزه، سمون او لغتنامه او خطاطي – ۱۳۷۰ل = ۱۹۹۱ع، کراچي.
۴. پوخ کاڼی – پټه خزانه يو واقعيت دئ – ۱۳۷۵ ل = ۱۹۹٦ ع، ټورنټو.
۵. احمدشاهي کندهار – لومړی ټوک، ۱۳۷۵ل = ۱۹۹٦ع، ټورنټو.
٦. ميرزا عبدالودود هوتک – ۱۳۷۷ ل = ۱۹۹۸ ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۷. پښتني قبيلې او روايتي شجرې – ۱۳۷۹ ش = ۲۰۰۰ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۸. ښکاراو کندهار – ۱۳۸۲ل = ۲۰۰۳ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۹. درنه کورنۍ (د علامه حبيب الله کندهاري کورنۍ) ۱۳۸۳ ل = ۲۰۰۳ع، د علامه حبيبي د څېړنو مرکز.
۱۰. د پولادي امير تر سيوري لاندي، د فرانک مارتين ليکنه، پښتو ژباړه، ۱۳۸۳ل – د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. بحرالعلوم د دوست محمد خټک – لومړی ټوک، (سریزه، سمون او حواشي) ۱۳۸۳ل = ۲۰۰۴ ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۲. روڼي شپې – شعري مجموعه – ۱۳۸۴ش = ۲۰۰۵ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۳. سل بګړۍ یو پوړنۍ – د هوتکو ملي، روحاني، علمي ادبي او ټولنیزي څېړې – ۱۳۸۴ د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۴. شین سترګي مستخدمین په افغانستان کي. څو قسطه په ګوربت مجله کي. په کتابي بڼه ۱۳۸۵ل، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۵. احمدشاهي کندهار – دوهم ټوک، ۱۳۸۴ ل = ۲۰۰۵ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۱۶. د علامه رشاد د کندهار یادابښتونه، (ترتیب، سمون او لمنلیکونه) ۱۳۸۶ل = ۲۰۰۷ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۷. د عبدالروف بېنوا میرویس نیکه، (سریزه او لمنلیکونه) چاپ: ۱۳۸۴ل = ۲۰۰۵ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۸. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، ۱۳۸۵ل = ۲۰۰۶ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۱۹. د سید جمال الدین افغان تتمة البیان فی تاریخ افغان، د پښتو ژباړي (د محمد رفیق حبیبي په قلم) ترتیب، سمون او لمنلیکونه – ۱۳۸۵ل = ۲۰۰۶ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۲۰. کندهاري وروڼه (کندهاري سرداران)، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۹ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار.
۲۱. پښتو ! ستا میني بوداپیست ته بوتلم، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/ کندهار.
۲۲. احمدشاهي شهنامه، د متن سمونه، سریزه او لمنلیکونه – پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد اکاډیمي، کندهار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳. د شمس الدين کاکړ دېوان، سريزه او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۴. د ميرزا حنان بارکزي دېوان (بشپړ کلام)، سريزه، سمون او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۵. د لوی احمدشاه بابا دېوان (مشهور په دېوان هرا)، ترتيب او مقابله، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۲۶. له (Erinn Banting) کاناډايي مېرمني سره د (Afghanistan) نومي کتاب په ليکلو کي مرسته او همکاري، (Crabtree Publishing Co)، کاناډا، ۲۰۰۳ع. دا کتاب په دريو برخو (Culture, Land, People) کي خپور سو، خو پر مطالبو باندي يې په ملگروملتو کي د افغانستان د هماغه وخت استازي مشورو تر دې اندازې پوري سيوری واچاوه، چي د لوی احمدشاه بابا عکس لا هم پکښې چاپ نه سو او کتاب زما (هوتک) د مشورو او لارښوونو پر خلاف چاپ سو.
۲۷. اديب شيخ، ۱۳۸۸ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست
۲۸. کچکول (د مقالو لومړۍ برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست
۲۹. کچکول (د مقالو دوهمه برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست
۳۰. له کندهاره تر اټکه، ۱۳۸۹ل، علامه رشاد خپرندويه ټولنه/کندهار
۳۱. پښتني قبيلې او روايتي ريښې، ۱۳۹۰ل (دوهم چاپ – د اضافاتو سره)، علامه رشاد خپرندويه ټولنه/ کندهار

## ناچاپ اثار :

۱. د هوتکو نوميالي (دوهم ټوک).
۲. د بې ادبه ادب څېړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. پرتليز کليز، د هجري قمري او عيسوي سنو اړونه او رااړونه.
۴. د غره او د وره (ژوند پېښي).
۵. کچکول، د مقالو مجموعه – ۶ ټوکه.
۶. د افغانستان انتالوجي (۱۰۰۰ مخه) تاپ سوې نسخه يې د بيهقي کتاب چاپولو په مؤسسه کې خوندي وه. اوس يې حال نه لرم.
۷. د مخلص کندهاري د کلام لغوي زېرمه
۸. د علامه رشاد جغرافيايي يادابنتونه – سريزه، ترتيب او کمپوز.
۹. پښتو متون سمېدل غواړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**